Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# د زنا د مخنیوي لارې چارې

پوهندوی دوکتور نجیب الله صالح

بسم الله الرحمن الرحیم ط

## سریزه:

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وعلی اله واصحابه واتباعه اجمعین وبعد:

داچې د اسلام سپېڅلی دین ځمکې ته دالله ﷻ د اخرني پیغام اورسالت په توګه ددې استعداد او صلاحیت لري، چې په هر وخت او زمانه، هرراز ظروفو او شرائطو کې د تطبیق وړ او د انساني مصالحو ساتونکی او د هر اړخیزه فساد په مخ کې د یو محکم او فولادي دېوال حیثیت لرونکی وي.

او هغه مصلحتونه چې ددغه غوره شریعت د احکامو په تطبیق کې نغښتي دي، خورا زیات او بې شمېره دي، چې د وخت او زمانې په تېرېدو او د علم په پرمختګ سره یې لا نور هم روښانتیا او څرګندوالی په ډاګه کېږي.

اسلامي شریعت په ټولنه کې د جرائمو د مخنیوي او د مجرمینود عبرت او ویروني په خاطر لکه د نړۍ د نورو ادیانو او قوانینو په څېر یو لړ جزاګانې ټاکلي، چې د حدودو، قصاص، دیت او تعزیراتو په نومونو نومول شوي دي، تر څو په راتلونکې کې د جرائمود زیاتوالي د مخنیوي سبب شي او ګرده اسلامي ټولنه د ارامی، سوکالۍ او اطمینان په فضاء کې د یوې اسوده او مترقي ټولنې په حیث ژوند وکړي.

دا چې اسلامي شریعت د جرائمود مخنیوي لپاره کوم تفصیلي نظام او سیستم رامنځ ته کړی هغه خورا هر اړخیز او اغېزمن نظام دی ځکه، چې په دې نظام کې د هر راز جرائمود مخنیوي لپاره خورا محکم او هر اړخیز وقایوي سیستم فعال او د جرمي ذهنیت د تغیرولو لپاره یې داسې احکام وضع کړي، چې ټولنه باید له جرایمو څخه پاکه شي البته موږ دغه وقایوي سیستم د اسلامي شریعت له امتیازاتو څخه شمېرلای شو، چې د نړۍ نور سیستمونه له دغسې یو شامل او هر اړخیز وقایوي سیستم څخه بې برخې دي.

د اسلامي شریعت په اساس مجرم ته جزا ورکول دوه ستر هدفونه لري، چې اول یې ټولنه له هر راز فساد او رذایلو څخه پاکول او دویم یې د عمومي مصالحو ساتنه ده، نو په دې اساس ټولنې ته باید هېڅ ډول د فساد لاره پیدا نه کړي تر څو د عمومي مصالحو ساتنه یې وشي او د فساد منابع بند او جنایي او جرمي تصورات په اساسي توګه یا؛ خو له منځه یوړل شي او یا یې هم د پېښېدو کچه راکمه شي.

دا چې زنا یا په انساني نسل حیثیت او عزت باندې تجاوز کول هم یو له هغه خطرناکو اجتماعي ناروغیو څخه شمېرل کېږي او هره انساني ټولنه دې ته اړتیا لري، چې له دغې خطرناکې ناروغۍ څخه پاکه وساتل شي، ځکه اسلامي شریعت له نورو جرم څخه د ټولنې د خلاصون لپاره د جزا په څوا کې نورې داسې لارې چارې غوره کړي او یا یې هم داسې هر اړخیز احکام په مسلمانانو لازم ګرځولي دي، چې ټول یې د زنا د مخنیوي لپاره خورا زیات اغېزمن وسایل ګڼل کېدای شي، البته د نړۍ ټول پوهان په دې باور دي، چې وقایه تر

درملنې غوره ده، نو څکه مونږ د شریعت امتیازاتو څخه دا شمېرلای شو، چې په ټولنه کې د جرم تر واقع کېدو دمخه یې ټولې لارې بندې کړو، خو که چېرې څوک د هغه ټولو بندونو او پولو څخه تېرېږي او جرم ته اقدام کوي، نو بیا یې د هغې جزا په خپله ځان مستحق ګرځولی چې شریعت ورته ټاکلې ده.

د زنا د مخنیوي د لارو چارو په لړ کې سپېڅلی ایمان، عقېده، اسلامي اخلاق او عبادتونه هغه عمومي وسایل دي، چې انسان مهذب کوي او له هر راز جرم څخه یې ساتي خصوصا د زنا جرم چې خورا بداخلاقي او دیني جرم ګڼل کېږي همداراز په ټولنیز ژوندانه کې اسلامي اداب مراعاتول وقایه ده او نکاح په خپل وخت او د اسلامي شریعت له احکامو سره سمه ترسره کول د زنا په مخنیوي کې خورا اغېزمن رول لري.

## د موضوع اهمیت:

د نړۍ ټول پوهان په دې اتفاق لري، چې وقایه تر درملنې غوره ده، نو په همدې اساس په معاصر وخت کې ټول قانون پوهان او فقهاء ډېره هڅه او پلټنه کوي چې د ټولنې د ارامتیا، سوکالۍ اوپرمختګ په خاطر د ټولو مادي او معنوي ناروغیو د مخنیوي لپاره داسې لارې چارې رامنځته کړي؛ چې ټولنې ته د فساد، جرایمو او هر راز بد اخلاقیو د داخلېدو لارې وتړل شي.

دا چې اسلامي شریعت د ژوند په هر اړخ او په ځانګړې توګه د جرایمو د مخنیوي لپاره کوم ضوابط او اصول رامنځته کړي او د قانون او شریعت د نزول په لومړي سر کې علیم او خبیر ذات ﷻ د

ټولو جرایمو د مخنیوي لپاره داسې اغېزمن وقایوي تدبیرونه په پام کې نیولي دي، چې ددې نظام د ښه او سالم تطبیق په پایله کې د هغې اغېزمنتیا د ټولنې په خوندیتوب کې خورا رغنده رول لوبولای شي.

د شریعت دغه اړخ خورا زیات تحقیق، څېړنې او روښانتیا ته اړتیا لري، چې ما هم په خپل وار ددې موضوع د روښانتیا لپاره خپله دغه لړه هڅه، او زیار د لوستونکو په وړاندې تقدیم کړ.

## د موضع د غوراوي لامل:

دا چې زموږ ټولنه د هر اړخیزې بیارغونې په درشل کې ده، نود ټولنې هر وګړی مسؤلیت لري ترڅود خپل فن او مسلک په ساحه کې خپل نظریات او څېړنې په داسې توګه ټولنې ته وړاندې کړي، چې رغوونکی حیثیت ولري او د عامو وګړو د ګټې اخیستنې لپاره د یو اغېزمن فکتور په حیث واقع شي.

زموږ ټولنه په ځانګړې توګه ځوانان او پېغلې په معاصر نړیوال نظام او د معلوماتي تکنالوژۍ د عامېدلو په پایله کې که له یو پلوه د نړۍ له علومو او فنونو څخه د استفادې او نظریاتو د تبادلې وسایل لاسته راوړي، خوله بله پلوه له بده مرغه د هغوی ناوړه او بربنډ کلتور او وړانوونکي لادینه او بې بندو باره خویونه، عادات او منکرات هم د دوی په مخکې کېښودل شول چې خامخا به زموږ په ټولنه د هغې بدې پایلې پرېوځي.

دا چې زموږ متدینه ټولنه خپلې ځانګړتیاوې لري، حدود او قیود لري، نو په همدې اساس مو نوموړې موضوع د لیکنې لپاره غوره کړه چې د زنا د بدو پایلو لکه (ایډیز، حرامي اولاد) او بې بندوباره ټولنې

د مخنیوي یو اخېنې. درملنه په اسلامي شریعت منګولې لګول دي او بس.

**د څېړنې کړنلاره او مېتود:**

په نوموړې لیکنه کې مې هڅه کړې ده، چې د اسلامي شریعت له اصلي او باوري سرچینو (قرانکریم، نبوي سنتو او عمده فقهي متونو) څخه استفاده وکړم او د اړتیا پرمهال مې د معاصرو فقهاؤ له نظریاتو څخه هم استفاده کړې ده، د قرانکریم نصوص مې له عثماني ﷺ مصحف څخه په مشکل ډول را اخیستي، او د هر ایت ژباړه مې د ابوالاعلی مودودي د تفسیر (تفهیم القران) له پښتو ژباړې څخه چې د هېواد نامتو عالم قیام الدین کشاف ژباړلې- را اخیستې ده، نبوي احادیث مې له معتبرو او مستندو مراجعو څخه تخریج کړي دي، او د علماؤ نظریات مې د همغوی له خپلو کتابونو څخه را اخیستي دي، همدا راز مې د موضوع په پیل کې د پخوانیو ادیانو لکه (یهودیت، نصرانیت) ځینې نظریات د همغوی له مشهورو کتابونو څخه رانقل کړي دي او هڅه مې کړې ده، چې موضوع په روانه او ساده ژبه کې ترتیب کړم.

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350



CamScanner

# د زنا معنی او حکم

## د زنا معنا په لغت او اصطلاح کې:

زنا د [زني] په مقصوره الف سره د حجاز د خلکو په ژبه او [زناء] په مد سره د بنو تمیمو په ژبه ده، چې په شریعت او لغت دواړو کې یوه معنا لري [او هغه د ښځې سره د مخکې لارې دخول ته وايي](۱).

چې نه ملک وي او نه هم د ملک شبه (۲).

یعنې نه يې د نکاح مالک وي او نه هم د نکاح د رامینځته کېدلو شبه او نه هم ملک یمین او وايي: چې دا د اسلامي فقهاؤ ترمینځ اتفاقي مسئله ده(۳).

د شافعي مذهب فقهاء وايي: زنا هغه کار ته ویل کیږي، چې یو سړی او ښځه په داسې حالت کې سره یوځای شي، چې د ازدواج شرعي اړیکه او ترون شتون ونه لري(۴).

چې دا د خوراسترو او لویو ګناهونو له جملې څخه ده.

---

۱ - محمد بن مکرم بن منظور الافریقي المصري، لسان العرب، ط دار صادر، بیروت، ۵۴/۲.

۲ - شیخ الإسلام برهان الدین علی بن أبي بکر الحنفي مرغیناني ، الهدایة بشرح البدایة المبتدي، ، الطبعة الثانیة ۱۳۹۷هـ ۱۹۷۷م. دار الفکر ، ۴۳۳/۲.

۳ - ابن رشد :الإمام القاضي أبي الولید محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد القرطبي الأندلسي المتوفی سنة ۵۹۵هـ بدایة المجتهد ونهایة المقتصد ، الطبعة الأولی: ۱۴۱۲هـ ۱۹۹۲م. دار الکتب العلمیة بیروت. ط دار المعرفه بیروت ۴۳۳/۲۰ .

۴ - امام یحي بن الشرف النووي، المجموع شرح المهذب، ۴/۲۰، ط المکتبة السلفیة بالمدینة المنوره.



CamScanner

دا چې زما د موضوع عنوان له زنا څخه ځان ژغورنه او د هغې د مخنیوي لارې چارې دي، چې همدې مفهوم ته په عربي ژبه کې د وقايي لفظ استعمال شوی، نو د اچې زما موضوع له ديني او عربي مراجعو څخه په استفاده تکيه کړې، نو په همدې اساس زه بايد د وقايې معنا او مفهوم واضح کړم وبه ګوروچې وقايه يا ځان ژغورنه په اسلامي مصادرو کې څه معنا لري.

## د وقايې معنا په لغت او اصطلاح کې:

[وقايه] په لغت کې [ځان ژغورنې] او ځان ساتنې ته وايي، ابن منظور رحمه الله وايي: وقاه الله وقياووقاية وواقية، صانه الله ﷻ.

ژباړه: الله ﷻ يې ساتنه وکړه، يعنې ويې ژغوره او د هغه حفاظت يې وکړ.

په حديث شريف کې راغلي دي [فوقي احدکم وجهه النار] چې دا خبريه جمله ده او موخه ترې امر دی.

ژباړه: يو له تاسې څخه دې خپل مخ د دوزخ له اور څخه په عبادت او صدقاتوسره وژغوري.

همدارازقرانکريم کې د وقايي لفظ راغلی دی، الله ﷻ فرمايي: [فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ] (۵).

ژباړه: الله ﷻ به دوی د هغې ورځې له شر څخه وژغوري.

وقا د واو په کسرې، فتحې اوضمې سره، هغه شي ته وايي چې ته پرې ځان ژغورې] (۲).

---

۵ .د الانسان سورت ۱۱ ايت.

په دې اساس د تقوی ماده هم له همدې کلمې څخه اخیستل شوی، نو دا چې وقایه ځان ژغورنې او ساتنې ته وايي، نو شریعت څکه په زنا او فحاشی کې د پرېوتلو څخه د ځان ژغورنې بېلابېلې لارې چارې په ګوته کړې ترڅو هیڅ انسان په دې بدکارۍ کې واقع نه شي، او دا څکه چې د نړۍ ټول نظامونه اوس په دې پوهېدلي، چې (وقایه تر درملنې غوره ده) نو څکه وقایوي تدبیرونه او پلانونه په ټولو جرمي څېړنو کې خورا ستره او مهمه ونډه لري.

**په اسماني ادیانو کې د زنا حکم:**

زنا هغه بدکار دی، چې په دې سره د نسب اختلاط، د رحم قطع، د کورنۍ له منځه تلل، د جنسي نارو غیو خپرېدل او د هر راز جرائمو په مخ دروازې پرانیستل کیږي، نو څکه د نړۍ درې سترو اسماني ادیانو (یهودیت، نصرانیت او د اسلام سپېڅلی دین) ټولو په یوه خوله زنا یوه ناوړه جریمه، ستره ګناه او قبیحه چاره ګڼلې ده، چې په راتلونکو مخونو کې به د زنا په هکله د هر یو دین دریځ او غبرګون روښانه کړم (ان شاء الله ﷻ).

داچې د اسلامي عقېدې پربنسټ یهودیت او نصرانیت هغه اسماني ادیان دي، چې د اسلام له نزول سره سم له مینځه تللي، او منسوخ شوي دي، او داسې باوري او موثق مصادر او سرچینې چې اعتماد او باور پرې وشي اوس نشته، بلکې هغه لیکنې چې له

---

۲ - مجد الدین محمد بن یعقوب الفیروزآبادي المتوفی سنة ۸۱۷ هـ القاموس المحیط. الناشر: مؤسسة الحلبي و شرکاه للنشر و التوزیع ۱۴ شارع جواد حسني. القاهرة. ۴۰۴/۴. اولسان العرب په لنډه توګه ۹۷۱/۳.



CS CamScanner

اوسني یهودو او نصاراؤ سره شته دا د همدوی د علماوو په خپلو لاسونو لیکل شوي اسناد دي، چې په اړه یې الله ﷻ فرمایي: (فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا يَكْسِبُونَ)(٧).

ژباړه: نو هلاکت او تباهي ده د هغو کسانو له پاره چې په خپلو لاسونو د شرعې لیکنه کوي او بیا خلکو ته وایي د ا له الله څخه راغلې ده تر څو چې د هغې په بدل کښې لږ غونډې ګټه په لاس راوړي، نو د هغو د لاسونو دا لیکنه هم د هغو د تباهی وسیله ده او د هغو دا ګټه هم د هغو د هلاکت موجب ده.

بلکې د اسلام تر نزول دمخه هم د نوموړو ادیانو علماؤ د دوی په سپېڅلو کتابونوکې تحریفات او تغییرات راوستل ترڅو چې د الهي کتابونو له هغه مصادرو څخه چې اوس د دوی په لاس کې شته، او د همدوی د اعتماد وړ دي، څه نصوص ذکر کړم، ترڅود زنا د ناوړه عمل حرمت ورڅخه ثابت شي:

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

---

٧. د البقره سورت ٧٩ ایت.



CamScanner

# لومړی: د زنا په اړه د یهودیت نظر:

یهودیان باور لري، چې زنا یو فاحش او بد عمل دی، د وړاندینیو قومونود هلاکت باعث او سبب وو، نو په همدې اساس دوی د (زانیانو) زناکارو لپاره جسدي او معنوي سزاګانې ټاکلي ترڅو په ټولنه کې ددې ناوړه عمل مخنیوی وشي.

د زنا د بدکارۍ په هکله: زنا یوه فحاشي ده، باید چې محکمې ته پورته شي.](٨).

او په بل ځای کې وايي چې: رب موسی ﷺ ته امر وکړ، چې خپل قوم ته امر وکړي، چې د خپلو – خپلوانو له ښځو او لورګانو سره زنا ونه کړي او نه د خپلو دوستانو له ښځو، او یا له څارویو سره... بیا وايي: تاسې زما دا رسمونه او احکام وساتئ او دې چټلیو او بدکاریو ته مه نږدې کېږئ، کوم چې تاسې ته له بل ځایه راغلي، ځکه دا ټولې بدکاریانې له تاسې څخه پخوانیو قومونو وکړې، چې ځمکه یې چټله کړه](٩).

همدا راز، په تورات کې راغلي دي، چې د الله ﷻ قهر او غوسه په زناکارو رانازلېږي او رب له دوی څخه بدل اخلي، او بیا وايي: زه به خامخا د زناکارانو څخه انتقام اخلم(١٠).

---

٨ -الکتاب المقدس، ٣٢/٢٠، فصل ٣١، ط ١الیسوعیین، بیروت، ١٨٨٠م.

٩ -الکتاب المقدس، ٢٩٤/١، فص ١٨، ٢٢-٢٧ ایتونه، مطبع المرسلین الیسوعیین بیروت، ١٨٧٩م.

١٠ -الکتاب المقدس: ٤١٨/٢، فصل ٥.

په سفر احبار کې راغلي: الله ﷻ پخواني قومونه هاغه وخت هلاک کړل، کله چې د زنا مرتکب شول او بني اسرائيلو ته يې امر وکړ، چې له زنا څخه ځانونه وژغوري، چې هلاک به شي، لکه چې پخواني قومونه هلاک شول او وايي: ددې لپاره چې ځمکه مو لېرې ونه غورځوي که چېرې موچټله کړله، لکه چې تېرو قومونو چټله کړله. او بيا يې هغوی لېرې وغورځول(۱۱).

نو له همدې کبله يهوديت د زناکارو لپاره سختې بدني سزاګانې تعين کړي دي.

د احبار په سفر کې داسې وايي: که چېرې کوم سړی له يوې ښځې سره زنا وکړي، که د خپلوان مېرمن يې وه، نوزاني سړی او زناکاره ښځه دې ووژل شي او که څوک د خپل پلار ښځې سره څملاسته ده په حقيقت کې د خپل پلار عورت بربنډ کړ، نو دواړه دې ووژل شي، د وينې مسؤليت يې په خپل غاړه دی(۱۲).

نو په دې اساس د خپلواقاربو سره د زنا کولو حکم د دواړو وژل دي.

**دويمه سزا ژوندي سوځول دي:** په همدې کتاب کې وايي چې که چېرې يوڅا يوه ښځه او د هغې مور په يوه نکاح کې يوځای کړي، نودا فحاشي ده، نودا شخص او دواړه ښځې دي په اور وسوځول شي او ستاسې په مينځ کې بايد فحاشي ځای ونه لري(۱۳).

۱۱ .الکتاب المقدس. ۱۴۹/۱ ، فصل ۸.

۱۲ .الکتاب المقدس. ۱۹۷/۱ ، فصل ۸.

۱۳ .الکتاب المقدس. ۱۴ايت.

**درییمه سزا رجم او سنګسارول دي:** دا د هغې ښځې سزا ده، چې تر واده دمخه یې بکارت له مینځه لاړ وي، د اشتراع په سفر کې راغلي دي: که چېرې دا خبره ثابته شي چې د یوې ښځې بکارت له نکاح څخه دمخه له مینځه تللی وي نو نوموړې جلۍ دې د پلار دروازې ته یوړل شي او د ټول کلي خلک دې، هلته سنګسار کړي ترڅو چې مړه شي ځکه دې په بني اسرائیلو کې د پلار په کور کې د هر غټ بدکار کړی نو دا شر له مینځه یوسي(۱۴).

همدا راز وایي که چېرې چا د بل له مخطوبې سره زنا وکړه، نو د دوی دواړو حکم هم رجم دی، یهود عقیده لري چې په بني اسرائیلو کې باید زناکاره او بدکاره انسانان نه وي، نوځکه یې د زنا منافذ هم ناروا ګڼلي، د دوی په نظر ښایسته ښځو ته نظر کول او کتل ناروا او له ښځو سره ناسته پاسته هم ناوړه عمل دی، د غزل خوانې ښځې مجالست څخه یې منعه کړې، او د زناکارې ښځې نکاح یې حرامه ګرځولې، په تورات کې راغلي دي: رب موسی ته امر کړی، چې خپلو کاهنانو ته ووایي چې د فاجرې ښځې سره نکاح ونه کړي.

له پورتنیو نصوصو څخه په یهودي دین کې د زناکارو سزا او د زنا حکم په خورا ښکاره ډول څرګندېږي، نو په همدې اساس یهودي دین د زنا د حرمت ترڅنګ ټولې هغه لارې هم بندې کړې، چې د زنا لامل ګرځي.

خو ګورو چې یهودي علماؤ د تورات لارښوونې پرې ایښې او د هغه په احکامو کې تاویل او تحریف راوړي، لکه چې براء بن عازب

---

۱۴ -الکتاب المقدس، فصل ۲۲، ۲۰-۲۱ ایت.



CS CamScanner

ﷺفرمايي:يوه ورځ د رسول الله ﷺپه وړاندې يو يهودي چې مخ يې ورته تور کړى وو، او په دُرو هم وهل شوى وو، تېرېده، نورسول الله ﷺ راوغوښته اوپوښتنه يې ورځخه وکړه، چې ستاسې په کتاب کې د زنا حد همداسې دى؟ويې ويل: هو نو بيايې د دوى يو عالم راوغوښته، ورته يې وويل:زه تاته په هغه اللهﷻ قسم درکوم، چې تورات يې په موسىؑ نازل کړى دى، ايا د زنا حد ستاسې په کتاب کې همداسې دى؟ هغه وويل:نه! که تا قسم نه واى راکړاى، نوما به صحيح خبره درته کله هم نه وه کړې، حد خو رجم دى، خو زموږ په اشرافو کې دا کار زيات شو؛ نوموږ به چې کله هغه راونيول نوبېرته به مو له سزا پرته خوشې کړل او چې غريب او ناداره به مونيول، نو حد به موپرې تطبيق کړ، نوموږ پرېکړه وکړه چې راځئ داسې يوه سزا، وټاکو، چې په اشرافو او عوامو باندې يو ډول تطبيق او پلي شي، بيا مود مخ تورول او درو وهل مقرر کړل.

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل:اى پروردګاره زه به هغه لومړنى شخص يم چې ستا هغه حکم راژوندى کړم چې دوى له مينځه وړى دى.

نوامر يې وکړ او هغه يې رجم کړ، نو اللهﷻ دغه ايت نازل کړ چې (۱۵).

(يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لاَ يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُواْ آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُواْ سَمَّاعُونَ

[۱۵] -ابو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري، صحيح المسلم، ۱۳۱۷/۳، تحقيق محمدفؤادعبد الباقي، ط المملكة العربية السعودية، ۱۴۰۰هـ ق.



CamScanner

لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِن بَعْدِ مَوَاضِعِهِ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ﴿١٢﴾.

ژباړه: اى پيغمبره! هغه خلک دې ستا د خوريدو باعث نه وي چې د کفر په لاره کښې چټک ګامونه اوچتوي که هغوى له هغو کسانو څخه وي چې په خوله وايي مونږ ايمان راوړى دى، خو د زړه له کومې يې ايمان نه دى راوړى يا له هغو کسانو څخه وي چې يهوديان شوي دي، چې د هغو حال دا دى چې د دروغو له پاره غوږ ږدي او د نورو خلکو له پاره، چې تا ته هېڅکله نه دي راغلي، غوږ باسي ګرځي راګرځي، سره له دې چې د کتاب الله د الفاظو صحيح ځايونه ټاکلي دي د هغو معناوې (حکمونه). له يو ځاى نه بل ځاى ته اړوي را اړوي، او خلکو ته وايي چې که تاسې ته دا حکم درکړ شي نو ويې منئ؛ که نه نو مه يې منئ.

نو په لنډه توګه ويلاى شو چې په يهودي دين کې د سزا احکام هم داسې تحريف او تغيير شوي وه لکه چې دوى ټول دين تغيير او تحريف کړى و، او د هغې په ځاى يې د خپلو ځانونو څخه د خپلې خوښې او خواهش مطابق احکام مقرر کړي وو.

---

[12] د المائده سورت ۴۱ ايت.

## دویم: په نصرانیت کې د زنا حکم:

زنا، د نصرانیانو په دین (نصرانیت) کې هم ستره ګناه ګڼل کېږي، او د تورات په نصوصو کې په بېلا بېلو زیاتو ځایونو کې د هغې د تحریم په هکله احکام راغلي دي، د دوی د مقدس کتاب په وصیتونو کې راغلي) قتل مه کوه، زنا مه کوه، غلا مه کوه او د درواغو له ګواهي څخه ځان وژغوره). ۱۷).

همدا راز وایي: ایا تاسې پوهېږئ، چې ستاسې جسدونه د مسیح د بدن برخه ده، ایا د مسیح د بدن غړی د زناکارۍ دبدن غړی شي؟(۱۸).

په لنډه توګه ویلای شو، چې د انجیل په ټولو نسخو کې د زنا زیاته بدي بیان شوي، نو په همدې اساس یې د زنا سزا هم خورا ویرونکې او دردوونکې ټاکلې.

**په نصرانیت کې د زناکارو سزاء:**

زنا د رب د غضب سبب ده او زناکار د مسیح ﷺ له ډلې څخه نه دی، په هغه رساله کې چې د دوی مشر پولس پکې عبرانیانو ته خطاب کوي، وایي: د زنا مرتکب کېدل او د یو انسان په عصمت تجاوز کول یو ډېر بد عمل دی، الله ﷻ د هغه له مرتکب څخه انتقام اخلي او بېشکه چې رب ﷻ ددې بدو کارونو له مرتکبینو څخه انتقام اخلي.

---

[17] -لوقاانجیل فصل ۱۸، فقره ۲۰، ط المرسلین الیسوعیین بیروت، ۱۸۸۳م، په عربي ژبه کې.

[18] -انجیل متی، ۸/۳، فقره ۱۹-۲۰.

او د دوی مقدس کتاب انجیل له زنا څخه خلک ویروي، او وایي: زنا مه کوئ، لکه چې له پخوانیو خلکو څخه یو قوم دا کار کړی وه، او په یوه ورځ کې درویشت زره خلک هلاک شول، عیسویان وایي چې د زناکول په زناکارو ډېرې بدې اغېزې پرځای پرېږدي، وایي چې له زنا څخه لېرې شئ ځکه هره ګناه چې خلک کوي دده له بدن څخه په خارج کې ترسره کېږي، خوزناکارد خپل بدن سره جرم کوي، همدا رازپه بل ځای کې وایي: چې زنا نجاست او فجور دی، او د بتانو له عبادت سره برابر دی، نو له همدې کبله د کفر په اولاد د رب غضب نازل شوی دی.

دا چې زنا په عیسوي دین کې خورا ستر جرم او ګناه ګڼل کېږي، نوځکه یې د هغې دواعي او مقدمات هم ناروا ګرځولي.

انجیل له عیسی ﷺ څخه روایت کوي: چې هغه فرمایلي دي: تاسې پوهېږئ چې پخواني خلک له زنا څخه منع شوي وو؟ او زه هم تاسې ته وایم چې که هر چا یوې پردۍ ښځې ته په دې خاطر وکتل چې د زنا شوق یې ورته وشو، نو ده په واقعیت کې له هغې سره زنا وکړه، که چېرې تا خپل ښی سترګه هم په شک کې وغورځوي، نو خپله سترګه له بېخه اوباسه!! او له خپل ځان څخه یې لېرې وغورځوه، دا ستا لپاره ډېره غوره ده چې یوه خپله عضوه له لاسه ورکړې خو چې ټول جسد دې په دوزخ کې له سوځېدو څخه وژغورل شي(١٩).

---

١٩ - کتاب مقدس ٨/٣، فصل ٥.

او همدا راز په انجیل کې زیات داسې نصوص رانقل شوي، چې د زنا بدوالی او د زناکارو انسانانو لپاره د سختې اخروي او دنیوي سزاګانې او وراندوینې یې کړې دي، نو ځکه خو په نصرانیت کې هم د زناکارو سزا د یهودیت په څېر وژل په اور سوځول او په تیږو باندې ویشتل «رجم» په ګوته شوي دي.

البته د زنا د بېلابېلو حالاتو او سزاګانو په اړه د دوی په کتابونو کې زیات تفصیل شته، چې زه یې په همدومره بسنه کوم او دلته یې بس ګڼم.

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350



CamScanner

## دریم :په اسلامي شریعت کې د زنا سزا:

د اسلامي ټولنې له ځانګړتیاوو څخه یوه دا هم ده، چې دهغې پاکوالی او نظافت دې وساتل شي، یعني له هر ډول خباثت او چټلۍ څخه باید پاکه وي، او دا چې زنا ناولې او ناوړه چاره ده، نوځکه خو اسلامي شریعت له لومړي پیله زنا یو بد عمل ګڼلی دی، له خورا سترو ګناهونو څخه یې شمېرلې ده او د هغې مرتکبینوته یې هر اړخیزه دنیوي او اخروي سزاګانې مقررې کړې دي او د یوې پاکې، باوري او خوندي ټولنې د جوړېدا لپاره یې ټولې لارې چارې داسې چمتو کړي، چې د هغې په مراعت کولو او ساتلو سره په یقیني او باوري توګه یوه غوره او باوقاره ټولنه مینځ ته راتلای شي.

دا چې زنا د سالم عقل او نقل دواړو له نظره یو اخلاقي ضد عمل دی، نو وبه ګورو چې اسلامي شریعت په دې اړه څنګه ځرګندونې کوي؟!:

**الف:د اسلامي شریعت له نظره د زنا حکم:**

د اسلامي شریعت له نظره زنا ته د بدکارۍ او فحاشۍ لفظ استعمال شوی دی، الله ﷻ فرمايي:[وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا][20].

ژباړه: زنا ته مه نژدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لیاره ده .

[20] .د الاسراء سورت ۳۲ ایت.

د فاحشه کلمه هغې بدې او ناوړه چارې ته ويل کېږي، چې په قباحت کې يې ډېر زياتوالی وي (٢١).

نو په دې هکله داسې تخصيص هم نشته چې د شريعت له نزول څخه وروسته د هغې قباحت ترې ثابت شي، بلکې د شريعت له حرمت څخه دمخه او وروسته دواړو حالاتو کې دا يوه بدکاري ده.

امام ابوبکر الجصاص وايي: چې له دې ايت څخه څرګندېږي، چې زنا د شريعت له نزول دمخه هم يو بد کار و، ځکه الله ﷻ ورته فحاشي ويلې او هغه يې د شريعت تر نزول پورې نه ده تخصيص کړې (٢٢).

په همدې اړه شيخ عبدالرحمن السعدي په خپل تفسير کې داسې وايي: الله ﷻ زنا ته قبيح عمل ځکه ويلای دی، چې شريعت او عقل دواړه يې فاحش او خوراناوړه عمل بولي او سليم فطرت ترې کرکه کوي، ځکه په دې کې دالله ﷻ د حقوقو پايمالول، د ښځې حرمت ته زيان رسول، د ښځې د خپلوانو او مېړه سپکاوی، او حقوقو تر پښو لاندې کول د فراش فاسدول او د نسب د اختلاط سبب او داسې نور زيات مفاسد نغښتي دي (٢٣).

---

٢١ - : أحمد بن علي الجصاص أبو بکر الرازي، حکام القرآن، الناشر : دار إحياء التراث العربي - بيروت ، ١٤٠٥ ، تحقيق : محمد الصادق قمحاوي ، ٣٠/٣٠٠، ط دارالفکربيروت .

[٢٢] -احکام القران: ٣/ ٣٠٠

[٢٣] - شيخ محمدزهري النجار ، تفسيرکلام المنان، ٢٧٥/٤، ط الموسسة السعدية رياض.

امام ابن قیم ددې ایت په اړه چې الله ﷻ فرمايي:﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾(۲۴).

ژباړه: او د بې حیایی کارونو ته نژدې کیږئ هم مه که ښکاره وي او که پټې.

فرمايي: الله دې ایت څخه څرګندیږي، چې دا په خپل نفس کې فواحش دي عقل یې بد ګڼي، نو شریعت څکه حرام وګرځول، چې فاحش وو.(۲۵).

نوپه دې اساس چې زنا یو فاحش او بد عمل دی، سلیم عقل او انساني فطرت ترې کرکه کوي، نوشریعت د هغې د مخنیوي لپاره هم بیلابیلې لارې چارې په پام کې نیولي دي، ترڅو دغه بده ناروغي ټولنې ته لاره پیدا نه کړي.

اسلامي شریعت ځینې منکرات او بد افعال په تدریجي توګه له مینځه وړي خودا چې زنا یوتباکوونکی عمل ګڼل کېږي، نوځکه یې هغه له پیله په پرېکنده ډول بند کړي او خلک یې ترې منعه کړل.

الله ﷻ فرمايي:﴿وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا﴾(۲۶).

---

[۲۴] - د الانعام سورت ۱۵۱ ایت.

[۲۵] التفسير القيم، ص ۲۳۹، ط لجنة التراث العربي بيروت.

[۲۶] -د النساء سورت ۱۵-۱۶ ایتونه.

ژباړه: ستاسې له ښځو نه چې څوک بدلمنې وي، پر هغو باندې له تاسې څخه څلور شاهدان ونیسئ؛ او که څلور کسان شاهدي ووايي نو هغوی په کورونو کښې بندیانې کړئ تر هغه پورې چې هغو ته مرگ راشي یا الله د هغو له پاره څه لاره برابره کړي.

او له تاسې نه دوه سړي که ددې فعل مرتکب شي نو هغوی دواړه وخوروئ، بیا که هغو توبه وایستله او خانونه یې اصلاح کړل نو هغوی پریږدئ یقیناً الله ډیر ښه توبه قبلوونکی او رحم کوونکی دی.

د لوړې ایت په تفسیر کې ابوبکرجصاص رحمه الله فرمايي: په دې اړه سلف صالح هیڅ اختلاف نه لري چې په لوړې ایت کې د اسلام په لوړې وخت کې د زناکارې ښځې همدا سزا وه، بیا وايي چې ابن عباس ﷺ ددې ایت او دا چې فرمايي: [واللذان یاتیانهامنکم فاذوهما] په اړه وايي: کله به چې ښځې زنا وکړه ترهغې به په کورکې بنده وه، چې مړه به شوه او چې سړي به زنا وکړه هغه به په پنهاو څپلیو وهل کېده او پېغورونه به ورته ورکول کېدل(۲۷).

نو څرگنده شوه چې زنا په اسلام کې له پیله بد او حرام عمل گڼل شوی دی، اگر که په سزا کې یې تدریج په پام کې نیول شوی دی، لکه چې امام طبري مشهور مفسر یې په اړه وايي: د حبس سزا د اسلام په لوړې پیل کې د مېروښو زناکارو ښځو لپاره وه او اذی د نارینه ؤ او باکره انجونو لپاره(۲۸).

---

[۲۷] -احکام القران، ۱۰۵/۲.

[۲۸] -ابو جعفر محمد بن جریر الطبري، جامع البیان في تفسیرای القران، ۲۰۰/۴۰، ط دارالمعرفه بیروت ۱۳۹۸هـ.



CamScanner

زنا په اسلام شريعت کې له کبيره ګناهونو څخه شمېرل شوي، چې ترناحقه وژنې او شرک وروسته په قرانکريم کې د زنا په نوم سره ياد شوی دی الله ﷻ فرمايي: وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا (۲۹).

ژباړه: هغه کسان چې له الله نه پرته کوم بل معبود نه بلي، هغه نفس په ناحقه نه وژني چې خدای حرام کړی وي، او نه د زنا مرتکب کېږي خو هر څوک چې دغه کار وکړي هغه به د خپلې ګناه بدله ومومي.

امام قرطبي رحمه الله ددې ايت په تفسير کې فرمايي: له پورته ايت څخه څرګندېږي، چې تر کفر وروسته لويه ګناه د ناحقه قتل مرتکب کېدل او بيا زنا ده (۳۰).

او امام احمد رحمه الله فرمايي: [دانسان ترناحقه وژنې وروسته لويه ګناه زناده].

او په بل ايت شريف کې الله ﷻ فرمايي [وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا ، وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ (۳۱).

ژباړه: زنا ته مه نژدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لياره ده. د نفس وژنې مرتکب کېږئ مه، د هغه چې الله حرام کړيدی مګر په حق سره.

---

۲۹ د الفرقان سورت ۶۸ ايت.

۳۰ .ابو عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبي، الجامع لاحكام القران ، ۷۲/۱۲ ط مناه العرفان بيروت..

۳۱ .د الاسراء سورت ۳۲-۳۳ ايتونه.

امام رازي رحمه الله ددې ایت په اړه فرمايي: که څوک دا وايي چې تر کفر وروسته خوتر ټولو ستره ګناه د انسان وژنه ده، نو په دې ایت کې څنګه الله ﷻ تر ټولو لومړی د زنا د موضوع یادونه وکړه؟ او بیایې د قتل د قضیې یادونه وکړه؟ نوځواب يې داسې کېدای شي، چې که چېرې د زنا لپاره دروازې خلاصې شي، نود انسان وجود له ګوابښ سره مخ کېدای شي، او قتل له وجود څخه وروسته د انسان له مينځه وړل دی، نووجود مقدم او مخکې وي د انسان د وجود له مینځه وړلو څخه، نوځکه الله ﷻ هم تر ټولو لومړی د زنا یادونه وکړه او بیايې قتل وروسته یاد کړ.(۳۲).

او په بل ایت شريف کې الله ﷻ فرمايي: اولَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ(۳۳).

ژبا□ه: او خپل اولاد د مفلسۍ له وېرې مه وژنئ، مونږ تاسې ته هم روزي درکوو او هغو ته به يې هم ورکړو او د بې حيايۍ کارونو ته نژدې کېږئ هم مه که ښکاره وي او که پټې او هغه نفس چې الله هغه محترم ګرځولی دی مه وژنئ مګر په حق سره، دا خبرې دي چې ددې لارښودنه هغه تاسې ته کړې ده، تاسې بايد له پوهې او ادراک نه کار واخلئ.

---

۳۲ - امام فخرالدين رازي :مفاتيح الغيب (تفسير كبير) ۱۹۹/۲۰ ، ط دار احياء التراث، بيروت ..

۳۳ -د الانعام سورت ۱۵۱ ایت.



CamScanner

په یاد شوي ایت شریف کې الله ﷻ له زنا او فواحشو څخه منعه د خپل اولاد وژنې او د بل انسان د وژنې ترمنځ یاده کړه، چې قاضي ابو السعود یې په اړه وایي: د زنا یادونه او منعه څکه الله ﷻ د اولاد تر یادونې او منعې وروسته وکړه، چې دا په خپله هم خورا ستر جنایت او جرم دی او د خپل اولاد د وژنې معنا هم پکې نغښتې ده څکه د زنا نه پیدا شوی اولاد داسې وي لکه مړ چې وي(۳۴).

شهید سید قطب رحمه الله هم همدا نظر تاییدوي او وایي چې د خپل اولاد د وژنې او زنا ترمنځ ښکاره اړیکه شته، نو څکه یې له زنا څخه ممانعت د خپل اولاد وژنې او په ناحقه د بل چا له وژنې سره یوځای ذکر کړی دی.

## زنا له څو اړخونو څخه د قتل او وژنې معنا لري:

په پیل کې هم قتل دی، څکه د انسان د ژوند ماده ضایع کول دي، چې بیا وروسته غالبا کوښښ کېږي، چې د هغې اثار یعنې جنین له مینځه یوسي او دا کله په داسې حالت کې هم وي، چې ژوند او حیات ورکې پیدا شوی وي او له ولادت څخه دمخه د هغې د اسقاط کوښښ کېږي، چې دا هم د قتل معنا لري او که ولادت یې هم وشي، نو بیا دغه ماشوم له خورا بد برخلیک او ژوند سره مخ وي، چې دا ژوند هم د مرګ په مفهوم او معنا سره دی، او له بله پلوه په دې سره نسب ضایع کېږي، چې دا هم د جماعت د له مینځه وړلو معنا لري، په ابرو او عزت کې شکونه پیدا کېدل، په خپل اولاد شکمن کېدل، تر دې ټولو خورا ستر بل قتل دا دی، چې په دې سره هر څوک د خپل شهوت

---

۳۴. تفسیر ابي السعود، ۲، ۲۰۳، ط ریاض مکتبة الحدیثیة

پوره کول په اسانه طریقه سره ترسره کوي او واده کول او یوه پاکیزه کورنۍ جوړولو ته ضرورت پاتې نه شي، هغه کورنۍ چې اصلا یو جماعت او ټولنه ورڅخه جوړېږي او د طفل د پالنې اصلي مرجع او سرچینه ده، نودا هم د جماعت او ټولنې د وژلو په معنا دی[۳۵].

همدا راز الله ﷻ د اسراء په سورت کې هم له زنا څخه منعه د اولاد د وژنې او ناحقه قتل ترمنځ یاد کړی دی، چې فرمایي: وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا[۳۶].

ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لیاره ده. د نفس وژنې مرتکب کېږئ مه، د هغه چې الله حرام کړیدی مگر په حق سره. او څوک چې مظلوم وژل شوی وي د هغه وارث ته مونږ د غچ غوښتنې حق ورکړیدی نو پکار ده، چې هغه په وژلو کښې له حده تیری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي. تر څو دا اړیکه پوره روښانه او څرگنده شي.

نو دا چې اسلامي شریعت زنا خورا ستره گناه گڼلې او د ملتونو د هلاکت او بربادۍ باعث یې گرځولې، نو په مرتکبینویې هم خورا بدې اغېزې پریوځي ان تردې چې ددغه بدعمل د مباشرت په وخت کې ایمان هم لېرې کیږي.

---

[۳۵] -استاد سید قطب: في ظلال القران: ۳۲۱/۵، ط احیاء التراث العربي بیروت ۱۳۲۸هـ.

[۳۶] د الاسراء سورت ۳۱-۳۲-۳۳ ایتونه.

**ب: په اسلامي شريعت کې د زناکارو سزا:**

دا چې زنا يو ناوړه او خورا بدعمل ګڼل شوی، نو په همدې اساس اسلامي شريعت د زناکارو لپاره معنوي او مادي سزاګانې په دنيا او اخرت کې مقرري کړې دي، او زناکار يې د نوموړي بدعمل له ارتکاب څخه ويرولای دی.

ابن عباس ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، چې هغه فرمايلي دي يو زناکار زنا نه کوي مګر په داسې حال کې چې ايمان يې ترې بېل شوی وی[37].

دغه حديث د يو لوی حديث برخه ده، چې په هغې کې بيا فرمايي چې غل کله غلا کوي نو ايمان ورڅخه بېلېږي او له ده سره ايمان نه وي او شراب خور چې شراب خوري نو ايمان ورڅخه لېرې کېږي.

حضرت عکرمه ﷺ وايي چې ما بيا له ابن عباس ﷺ پوښتنه وکړه چې دا ايمان له ده څخه څنګه ايستل کېږي؟ هغه وفرمايل: دغسې او بيا يې د يو لاس ګوتې په بل کې ورکړې، تشابک يې وکړ او بېرته يې وايستلې نو که توبه يې وويستله بېرته به ورته ايمان اعاده شي، بيا يې د يو لاس ګوتې په بل کې داخلې کړې.

يعنې د زنا په وخت کې له انسان سره ايمان نه پاتې کېږي. نو که څوک توبه ونه باسي او مړ شي بې ايمانه له دنيا څخه ولاړه.

په يو بل حديث شريف کې ابو هريره ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: [څوک چې زنا وکړي او يا

---

[37] - احمد بن علي بن حجر العسقلاني ، فتح الباري: ۱۲/۱۱۴ ، ط ، دارالفکر.

شراب وخوري الله ﷻ ورڅخه ایمان وباسي لکه چې انسان خپل کمیس له سرڅخه وباسي او ایسته یې وغورځوي(۳۸).

د زناکارو دعاء الله ﷻ نه قبلوي، ابوالعاص ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د شپې په اخیري نیمه برخه کې د اسمان دروازې خلاصې شي او یو اوازکوونکی اواز وکړي، ایا څوک غوښتونکی شته چې سوال یې قبول کړم؟ ایا کوم حاجتمند شته چې اړتیا یې بشپړه کړم؟ ایا کوم مبتلی انسان شته چې له تکلیف څخه خلاص شي؟

نو هیڅ مسلمان به پاتې نه شي مګر دا چې الله ﷻ به یې دعا قبوله کړي، پرته له زناکارې ښځې څخه چې په خپل ځان سوداګري کوي، او یا ظالم عشر ټولوونکی(۳۹).

ددې سره په خوا کې د زناکارو لپاره په دنیا کې سخت عذابونه مقررشوي دي، چې په لاندې ډول یې یادونه اړینه بولم:

**الف: ټولیز عذاب:** په کوم قوم کې چې زنا زیاته شي، نو ضرر یې یواځې زناکارو ته نه بلکې د ټولنې ټولووګړو ته سرایت کوي، په هغوی د الله غضب رانازلیږي او مرګونه پکې زیات شي.

---

۳۸ - محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاکم النیسابوري، المستدرک علی الصحیحین، ۲۲/۱، دارالکتب العلمیة لومړی چاپ، ۱۹۹۰م ۱۴۱۱ه ق.

۳۹ - نور الدین علي بن أبي بکر هیثمي، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، ۲۰۹/۱۰، ط دارالکتب العربي بیروت.



CamScanner

ابن عباس ﷺ فرمايي: چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: اکله چې په کوم قوم کې زنا او سود زيات شي نو خپل ځان يې په خپله د الله ﷻ د عذاب مستحق وګرځاوه (۴۰).

امام احمد له حضرت ميمونې رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ له بي بي ځخه روايت کوي، وايي: چې له رسول الله ﷺ ځخه مې اورېدلي دي، ويل يې: زما امت به تر هغې پورې په خير وي، چې ولد زنا پکې نه وي زيات شوي او کله چې دوی کې د زنا اولاد زيات شول نو نږدې ده، چې الله ﷻ په دوی عام عذاب راولي (۴۱).

او حضرت ابن عباس ﷺ هم په همدې اړه له رسول الله ﷺ ځخه روايت کوي، چې هغه فرمايلي دي، په هر قوم کې چې زنا زياته شي، نو په هغوی کې به مرګونه زيات شي (۴۲).

نوځکه امام ابن قيم رحمه الله وايي: چې زنا د عامو مرګونو او طاعون سبب دی، کله چې د موسی ﷺ په لښکرو کې فحاشي زياته شوه، نو الله ﷻ پرې طاعون مسلط کړه، چې په يوه ورځ کې اويازره انسانان پرې تباه شول (۴۳).

---

۴۰ - المستدرک على الصحيحين، ۳۷/۳۰.

۴۱ - أحمد بن حنبل أبو عبد الله شيباني، مسند الإمام أحمد بن حنبل، ۳۳۳/۲، مؤسسة قرطبة – القاهرة.

۴۲ - مالك بن أنس أبو عبد الله الأصبحي، موطأ الإمام مالك، ۲۴۰/۲، ط مصطفى البابي الحلبي، مصر ۱۳۵۲هـ.

۴۳ - ابن قيم محمد بن ابي بكر الجوزي، الطرق الحكمية فى السياسة الشرعية: ۲۸۱، ط، السنة المحمدية بالقاهره ۱۳۷۲هـ.



CamScanner

له پورتنیو نصوصو څخه په ډاګه شوه چې کله هم زنا د یوڅه افرادو له خوا په یوقوم او ولس کې مینځته راشي، نو ددغه بدعمل په سبب د هغې بد اثرات په ټول قوم پرېوځي، لکه چې نن سبا د [ایډز] (HIV) طاعون خورا غټ لامل همدا فحاشي ده چې متمدن قومونه یې له عذاب څخه په امن کې نه دي.

**ب: شخصي عذاب:** دا چې مخکې هم یادونه وشوه چې تر شرک او قتل وروسته تر ټولو ستره ګناه زنا کول دي، نو ځکه یې سزا هم د اسلامي شریعت په رڼا کې خورا سخته او دردوونکې ټاکل شوې ده او ځینې درجې ورته مقررې شوي دي، د بېلګې په توګه: د مېړوښې ښځې سره زنا او یا له خپلو محارمو سره زنا ډېره سخته ده نسبت غیر مېړوښې او اجنبي سره زنا ته، همداراز د هغې مېړوښې سره زنا چې ګاونډې هم وي، د ګاونډیتوب ګناه هم ورسره یوځای کیږي، او که خپلوان د صله رحمی قطع هم ورسره یوځای کیږي(۴۴).

الله ﷻ فرمایي: [وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا] (۴۵).

ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لیاره ده.

همداراز عبدالله ابن مسعود ﷺ وایي: چې له رسول الله ﷺ څخه مې وپوښتل: چې تر ټولو ستره ګناه کومه ده؟ ویې فرمایل: چې د خپل خالق او رب سره شریک نیول، بیا کومه؟ ویې فرمایل: چې د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا کول.

---

۴۴ -غایة المنتهی: ۳۰/ ۳۰۰.

۴۵ -د الاسراء سورت ۳۲ ایت.



CamScanner

د زنا په حرمت او بدوالي ټول اديان او مذاهب اتفاق لري نو ځکه يې سزا هم خوراسخته او درنده مقرره شوې ده.

نو کله چې زناکار سړی او ښځه محصن (واده والا) وي نوسزا يې رجم او سنګسارول دي، چې په ځمکه کې د خپلې بقا حق له لاسه ورکوي.

امام مسلم رحمه الله له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت کوي، چې وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: لايحل دم امرئ مسلم يشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله الا باحدى ثلاث: الثيب الزاني، والنفس بالنفس، والتارک لدينه المفارق للجماعة (۴۲).

ژباړه: د هيڅ هغه مسلمان وينې توېول روا نه دي، چې د الله ﷻ وحدانيت او زما په رسالت شاهدي ورکړي، مګر په يو د درېو کارونو څخه: واده کړی زناکارسړی او ښځه، د نفس د وژلو په مقابل کې، او له دين څخه اوښتی مرتد چې د اسلام له ډلې څخه بېل شي.

نو د واده کړي نارينه او ښځينه لپاره شريعت تر ټولو سخته سزا سنګسارول مقرر کړي دي، په نوموړي حد باندې ټول اسلامي مذاهب اتفاق لري، چې له نوموړي حد (رجم) څخه يوازې د خوارجو يوه ډله مخالفت کوي (۴۷).

او که چېرې زناکاران نر او ښځه واده کړاى شوي نه وي، نوسزا يې سل درې وهل دي.

---

[۴۲] يحی بن شرف الدين مري بن حسن الجزامي النووي، مسلم مع شرحه النووي، ۱۲۴/۱۱ ، ط داراحياء التراث العربي.

[۴۷] المغني: ۱۰۷/۸.



CS CamScanner

الله ﷻ فرمايي:(الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ(48).

ژباړه: زنا کاره ښځه او زناکار سړی، له دواړو نه هر یو سل درې ووهئ. او پر دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله د دين په باب په تاسې کې نه پارېږي که تاسې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ باندې ايمان لرئ. او هغو ته د سزا ورکولو په وخت کښې دې د مومنانو يوه ډله موجوده وي.

امام ابن قيم رحمه الله وايي: د زناکار بدن بايد زجر او درد وګوري ترڅو ددې ناوړه کار له تکرار څخه منع شي او نور خلک ترې پند واخلي او په خپل حلال او روا برخه باندې قناعت وکړي(49).

البته زياتره فقهاء، له احنافو څخه پرته د زناکارو لپاره د درو وهلو ترڅنګ له هيواده يو کال شړل هم د حد برخه ګڼي(50).

ددې بدني سزاګانو ترڅنګ يو لړ معنوي سزاګانې هم شته چې شريعت ددې په خاطر ضروري ګرځولي دي، چې ددې بدعمل مخنيوی د امکان ترحده وشي چې په لاندې توګه يې په لنډ ډول يادونه کوم:

---

48 د النور سورت ۲ ايت.

49 -ابن قيم محمد بن ابوبکر الجوزي اعلام الموقعين، ۲/۱۰۷-۱۰۸.ط دارالفکربيروت..

50 -احمد بن عبدالحليم ، السياسة الشرعية لابن تيميه، ص ۱۰۱ ، دارالفکر بيروت.



CamScanner

**۱-د سزا اشتهار:** د ټولو دمخه الله ﷻ د زناکارو د سزا په هکله فرمايي چې د مسلمانانو په حضور او ښکاره ميدان کې دې سزا ورکړای شي. الله ﷻ فرمايي: [وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ] (۵۱).

ژباړه: او هغو ته د سزا ورکولو په وخت کښې دې د مومنانو يوه ډله موجوده وي.

په دې اړه مفسرين وايي چې دغه ډله مؤمنان بايد دومره وي، چې اشتهار پرې ترلاسه شي او اشتهار ددې لپاره دی، چې دده لپاره د بدني سزا له پاسه نوره سزا هم ورکړل شي او نورو انسانانو ته عبرت شي ترڅو په را تلونکې کې له نوموړي جرم څخه د وقايې او ځان ژغورنې لامل وګرځي (۵۲).

ځينې فقهاء وايي، چې زناکار سړي ته ښځه ورکول او د زناکارې ښځې په نکاح کول هم روا نه دي، او په ايت استدلال کوي، چې الله ﷻ فرمايلي دي: [الزَّانِي لاَ يَنكِحُ إلاَّ زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لاَ يَنكِحُهَا إلاَّ زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (۵۳).

ژباړه: زناکار نکاح نه کوي (يا نه دې کوي) مګر له زناکارې سره يا له مشرکې سره او له زنا کارې سره نکاح نه کوي (يا نه دې کوي) مګر زناکار يا مشرک. او دا حرامه کړای شوېده پر مومنانو.

چې په دې سره د اسلامي ټولنې او زناکارو انسانانو ترمنځ اړيکې بلکل وشلول شي لکه چې شهيد سيد قطب په دې اړه وايي: په دې کار

---

۵۱ -د النورسورت ۱ ايت.

[۵۲] تفسيرابي السعود: ۹۱/۴، اوتفسيرالکلام المنان لليشخ عبدالرحمن السعدي ۳۸۸/۵.

[۵۳] -د النورسورت ۳ ايت.



CamScanner

سره ددې بدکارو انسانانو او ټولنې ترمنځ اړیکې پرې کېږي، چې دا یو دردناک ټولنیزعذاب دی، چې د درو تر وهلو هم زیات تاثیرات لري(۵۴).

او امام احمد بن حنبل رحمه الله د زناکار سړي نکاح له پاک لمنې ښځې سره او د پاک سړي نکاح له زانیې سره بالکل ناجائزه او حرامه ګرځولې، ترڅو یې چې توبه نه وي ایستلې(۵۵).

دغه ډول سزا او زجر ددې په خاطر شریعت لازم کړی دی، چې ټول بدکاره او فاجر انسانان ورځخه عبرت واخلي او په دې برخلیک ځان اخته نه کړي، لکه چې د امام مالک رحمه الله په نزد هم د دا ډول انسانانو سره نکاح کول مکروه ګڼل شوي دي، حتی چې د امام مالک رحمه الله ځینې شاګردانود مالکي مذهب څخه په دې اړه اتفاقي نظر داسې رانقل کړی دی، چې که چېرې یوه عفیفه ښځه د فاسق په نکاح کې واقع شي؛ نوښځه په خپله او یا د هغې اولیاء د نکاح د فسخې غوښتنه کولای شي(۵۶).

## دویم:د زناکارو اخروي سزا:

اسلامي شریعت د ټولو هغه مجرمینو لپاره چې، په دنیا کې له خپل بدعمل او جرم څخه توبه ونه باسي په اخرت کې سخته سزا مقرره کړې ده.

---

۵۴ سید قطب، فی ظلال القران: ۵۹/۲.

۵۵ الشیخ محمد الشربیني الخطیب، مغني المحتاج: ، ۲/۲۰۲-۲۰۲. ط مکتبة الریاض الحدیثة.

۵۶ .الانتصاف فیماتضمنه الکشاف من الاعتزال علی حاشیة الکشاف، ۴۹/۳۰.



CS CamScanner

نوپه همدې اساس الله ﷻ د زناکارو لپاره هم په اخرت کې خورا سخته سزا مقرره کړې ده.

امام بخاري رحمه الله د سمره بن جندب ﷺ نه روايت کوي، چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: درې شپې راته دوه نفره خوب کې راغلل او راته وېې ويل موږ سره راځه نو يو تنور ډوله سوري ته ورغلو چې خوله يې لږه تنګه او لاندې پراخه وه، لاندې يکې اورخوتېده، نوکله به چې په جوش راغلو نږدې به وه چې دباندې يې وغورځوي او کله به لږ سوړ شو بېرته به يکې لاندې ورولوېدل نوومو ليدل چې يکې بربنډې ښځې او سړي پراته وو، ما پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟

ځواب راکړل شو، چې په دې تنور کې دا بربنډ سړي اوښځې زناکاران دي(۵۷).

چې دغه سخت عذاب يې يوه بېلګه ده، چې د نومورې بدعمل مرتکبينوته ورکول کېږي.

نو ځکه اسلامي شريعت په ټولو سړيو لازمه کړې، چې د خپلو زنانه ؤ له ابرو او عفت څخه دفاع وکړي، ان تردې چې که چېرې په دې لاره کې څوک ووژل شي هم، نو هغه د شهادت مقام لاسته راوړي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د خپل مال په دفاع کې مړ شي هغه شهيد دی؛ څوک چې د خپل فاميل نه دفاع او تنګه کې ووژل شي،

---

۵۷ - ابو عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري، صحيح البخاري: ۲۱۵/۳. قديمي کتب خانه کراچي.



CamScanner

هغه شهید دی، څوک چې د دین دفاع کې ووژل شي، هغه شهید دی، او چې د خپلې وینې د دفاع په لاره کې ووژل شي، شهید دی[58].

او په خپله مسلمانه ښځه هم په دې مکلفه ده، چې ابرو او عزت نه دفاع وکړي، او که متجاوزیې مړ هم کړ، نو وربانديې څه تاوان او یا بدل نشته، د حضرت عمر ﷺ په وخت کې د هذیل د قبیلې یوه زنانه د خسو او خاشاکو د راټولولو لپاره صحرا ته لاړه چې یو سړی ورپسې ورغی او د بدکارۍ اراده یې وکړه، هغې په تېږه تېږه وویشته او ویې واژه، قضیه حضرت عمر ﷺ ته پورته شوه، هغه وویل: دا الله ﷻ وژلی دی او هیڅ بدل نه لري.

نو ځکه مسلمانانو فقهاؤ په دې اتفاق کړی دی، چې د صائل مهاجم دښمن په وړاندې چې د چا په ناموس تعرض کوي دفاع واجب ده، نو که یو شخص د ښځې بې عفته کول غوښتل او پرته له وژلو څخه یې بله لاره نه وه، نو وژل یې هم ورته روا دي، څو چې د ښځې عفت او پاک لمنې وساتل شي[59].

اسلامي شریعت هغه چاته د [دیوث] یعنې دوس خطاب کړی، چې په خپل کور او فامیل کې بدکاري ګوري او سکوت پرې کوي، چې دا یو ستره بې غیرتي او پستي ده او د الله ﷻ بې غیرته او پست انسانان نه خوښېږي.

---

۵۸ - أحمد بن شعیب أبو عبد الرحمن نسائي، المجتبی من السنن الناشر : مکتب المطبوعات الإسلامیة - حلب، الطبعة الثانیة ، ۱۴۰۲ هـ ق- ۱۹۸۲م ، ۸۵۸/۳

۵۹ - دوکتور عبد القادر عودة ، التشریح الجنایي الاسلامي، ۴۷۴/۱۰. پیغام نشراتي مرکز، پېښور.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: درې کسان به جنت ته داخل نه شي او الله ﷻ به د قیامت په ورځ ورته د رحمت په نظر ونه ګوري، د مور او پلار عاق کړای شوی، هغه ښځې چې خان د سړیو په څېر کوي او دیوث (دووس)[20].

دا ټولې هغه لارې چارې دي چې د زنا خباثت او بدوالی څرګندوي، نو هر انسان باید د دغه ناوړه عمل له نږدېکت څخه هم خپل خان وژغوري، او اسلامي شریعت هم له مخې د هغې د پېښېدو ټولې لارې بندې کړي، الله ﷻ فرمایي: [وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا] (٢١).

ژباړه: زنا ته بلکل نږدې نه شئ؛ خکه دا ډېر بد او ناوړه عمل دی.

د ښه فطرت انسانان ترې کرکه کوي او د قومونو او ملتونو د تباهی لامل ګرځي. ددې په خاطر چې د زنا د پېښېدو مخنیوی په اسلامي ټولنه کې شوی وي، نو ټول هغه مقدمات چې شهوت پاروي، د ښځې او نر ترمنځ د ناروا نږدېکت سبب ګرځي، د حلالې نکاح په مخ کې بندونه جوړوي، شریعت ممنوع ګرځولي دي.

---

[20] - مسند احمد ۳۴/۹.

[21] - د الاسراء سورت ۳۳ ایت.

# په اسلامي شریعت او افغاني قانون کې د جنسي غریزې د تنظیم لارې - چارې

اسلام د اعتدال لاره او له انساني فطرت سره جوړ دین دی، نو ځکه یې د انسان جنسي غریزه منظمه او د شرعي نکاح له لیارې سمې لارې ته رابللي الله ﷻ فرمایلي دي: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُونَ)[22].

ژباړه: د هغه له نښانو نه دا ده چې هغه تاسې له خاورې څخه پیدا کړئ، نو تاسې بشر یاست چې په ناڅاپي ډول (په ځمکه کښې) خورېږئ.

الله ﷻ په نکاح سره په نر او ښځه کې سکون او اطمینان رامینځته کوي د یوه له بل سره د رحمت او مودت باعث ګرځي له دې لارې صالح اولاد او ښه کورنۍ تشکیلېږي.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وايي: موږ له رسول الله ﷺ سره د ځوانۍ په وخت کې وو، هیڅ مو نه درلودل، نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل: ای د ځوانانو ټولګیه! په تاسې کې څوک هم چې د جماع توان لرئ، نو ودونه وکړئ، په دې سره ستاسې د سترګو او شرمګاوو ژغورنه کېږي، سترګې له حرام کتلو او شرمګاه له زنا څخه او که څوک وسه نه لري، نو روژې دې ونیسي دا به یې سپر وګرځي[23].

---

[22] د الروم سورت ۲۰ ایت.

[23] صحیح البخاري مع فتح الباري، ۱۱۳/۹

اسلامي شریعت یواځې دا نه چې نکاح یې روا ګرځولې، بلکې د جنسي غریزې د ښه کنترول په موخه یې لازمه ګرځولې بلکې په ځینو حالاتو کې یې فرض او واجب ګڼلې، مسلمانان یې ورته هڅولي د نکاح له لیارې څخه یې ټول بندونه او خنډونه لرې کړي او کورنی ژوند یې له مینې او محبت څخه ډک او له خوشحالیو پوره برخمن کړی، ترڅو د نکاح لوړ اهداف او موخې لاسته راوړل شي او د هر ډول بدکارۍ او فحاشۍ مخنیوی وشي.

## په اسلامي شریعت کې د نکاح ترغیب:

اسلامي شریعت د امت د قوت، کثرت او حفاظت په خاطر مسلمانانو ته په نکاح کولو امر کړی دی او خلک یې تشویق کړي، چې ودونه وکړي الله ﷻ فرمایي: (وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ)[۲۴].

ژباړه: که تاسې ویرېږئ چې له پلار مړیو (نجونو) سره به عدالت ونه شئ کړای؛ نو کومې (نورې) ښځې چې ستاسې خوښېږي د هغو له دوو - دوو، درېیو - درېیو، څلورو - څلورو سره نکاح وکړئ، خو که له تاسې سره دا اندېښنه وي، چې له هغو سره به عدالت ونه شئ کړای؛ نو یوه ښځه وکړئ یا له هغو (وینځو) نه ازدواجي کار واخلئ چې تاسې ته په لاس درغلي دي (د هغو مالکان یاست) په دې توګه له بې عدالتۍ نه په ښه شان ژغورل کیدای شئ.

---

[۲۴] د النساء سورت ۳ ایت.

په حديث شريف کې چې په تېرو مخونو کې مو هم ورته ګوته ونيوله پېغمبرﷺ د امت ټولو هغو ځوانانو ته د نکاح کولو امر کوي چې توان يې ولري.

ابن حجر رحمه الله د دغه حديث په شرحه کې وايي: ځوانانو ته يې ځکه د واده کولو امر وکړ، چې په دوی کې هغه قوت او صلاحيت زيات دی، چې نکاح کولو ته يې هڅوي کوم چې په عمر خوړلو خلکو کې نه وي، خو که دغه باعث په هرچا کې پيدا شي تر نوموړي حکم لاندې راتلای شي(۲۵).

د نکاح د حکم په اړه فقهاء وايي: چې په ټولو مسلمانانو واجب ده، چې نکاح وکړي، ځکه په قرانکريم او نبوي احاديثو کې پرې امر شوی دی او داسې استدلال کوي چې:

له زنا ځخه د ځان ژغورنه فرض ده او دا کار پرته له نکاح کولو شونی نه دی، نو کوم کار چې د هغه په کولو سره فرض ترل شوي وي، هغه هم فرض کېږي(۲۶).

او ابن حزم هم وايي: په هر هغه چا چې د جماع کولو توان ولري فرض دی، چې له ښځې سره نکاح وکړي او يا وينځې پيدا کړي، او يا هم يو ددې دواړو ځخه وکړي، که دا توان يې نه وه نوزياتې روژې دې ونيسي(۲۷).

---

۲۵ -فتح الباري:۹ /۱۰۸.

۲۶ -امام شمس الدين السرخسي، المبسوط، ۱۹۳/۴. ط د' المعرفة بيروت

۲۷ -ابن حزم الظاهري، المحلی، ۹ ۴۴۰، دارصادر، قم



CamScanner

په داسې حال کې چې زیاتره فقهاء وایي: نکاح په هغه چا فرض ده، چې په خپل ځان وویرېږي چې که نکاح ونه کړي، نو په زنا کې به واقع شي، د ځان د پاک لمنی او ساتنې په خاطر په ده هم نکاح کول فرض دي(٢٨).

امام قرطبي رحمه الله وايي: په هغه چاچې د خپل ځان او یا خپلې دینداری ته د ګواښ رسېدلو ویره ورسره وي، فرض دي چې د وس او توان په صورت کې نکاح وکړي او پدې اړه علماء هیڅ اختلاف نه لري(٢٩).

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وايي: که چېرې یو انسان نکاح ته ضرورت ولري او په خپله په ګناه کې د ککړېدلو وېره ورسره وي، باید چې واده کول په فرضي حج هم دمخه کړي او که وېره نه وي نو حج دې دمخه کړي(٧٠).

همدا راز نکاح کول د انبیاؤ لاره او سنت هم دي، الله ﷻ فرمايي: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللَّهِ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ (٧١).

ژباړه: له تا څخه مخکښې هم مونږ ډېر پیغمبران لیږلي دي او مونږ هغوی د مېرمنو او اولادونو خاوندان ګرځولي وو او د هیڅ یو پیغمبر هم ددې وس واک نه و، چې بې د الله له اذن څخه په خپله يې کومه نښانه راوړې ښودلې وای. د هر وخت له پاره یو کتاب دی.

٢٨ -المغني ٤٤٢/٦ او المبسوط: ١٩٣/٤.

٢٩ -فتح الباري، ١١٠/٩ د قرطبي په حواله.

٧٠ -الاختيارات الفقهية من فتاوى شيخ الاسلام ابن تيميه ص ٢٠١.

٧١ د الرعد سورت ٣٨ ایت.



CS CamScanner

امام قرطبي رحمه الله وايي: له دې ايت څخه د نکاح ترغيب او د [تبتل] يعني واده نه کولو څخه منع څرګندېږي(۷۲).

حضرت عائشة ﷺروايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: نکاح کول زما سنت دي، څوک چې زما سنت نه عملي کوي، له ما څخه نه دی، تاسې ودونه وکړئ، زه بيا د قيامت په ورځ ستاسې په زياتوالي وياړم، څوک چې شتمن وي ودونه دې وکړي او بې وزله خلک دې روژې ونيسي، ځکه روژه د هغوی سپر دی(۷۳).

له سنت څخه هدف لاره او سلوک دی، په دې معنا چې څوک د رسول الله ﷺ لاره او طريقه پرېږدي او سرغړونه ورڅخه کوي، د رهبانيت په لور ځي نو دی له اتباع څخه د ابتداع په لور روان دی(۷۴).

نوهيڅوک دا نه خوښوي چې د خپل پېغمبر ﷺ لاره پرېږدي، او د بدعت او رهبانيت په لاره ولاړ شي، ځکه بدعت د ګمراهی لاره او سنت د نجات او برياليتوب لاره ده.

رسول الله ﷺ نکاح کول د ژوند تر ټولو غوره متاع ګڼلې ده، حضرت عبد الله بن عمر ﷺروايت کوي: چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: [دنيا متاع ده او بيا د دنيا تر ټولو غوره متاع نېکه ښځه ده](۷۵).

---

۷۲ -القرطبي: ۳۲۷/۹.

۷۳ -ابن ماجه ۵۹۲/۱.

۷۴ -محمد بن علي الشوکاني، نيل الاوطار ، ۱۱۷/۲ مصطفى البابي الحلبي مصر.

۷۵ -ابو الحسين مسلم بن حجاج القشيري، صحيح المسلم: ۱۰۹۰/۲ قديمي کتب خانه کراچی.



CamScanner

په نکاح کولو سره د مسلمان د نيم دين ساتنه او حفاظت کېږي، حضرت انس بن مالک ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي، چې فرمايلي يې دي: چاته چې الله ﷺ نېکه او صالحه ښځه ورپه برخه کړي، نو له ده سره يې د نيمايي دين په حفاظت کې مرسته وکړه، نو د نور نيم په ساتلو کې دې خپله کوښښ وکړي(٧٢).

دا په دې معنا چې چا نکاح وکړه، د فرج له شر څخه وژغورل شو يعنې د انسان د شهوت ضرورت پرې رفعه شو، نو د نور دين په ساتلو کې دې کوښښ وکړي، څکه حديث شريف کې راغلي چې ماته څوک د خپلې ژبې او شرمگاه د خوندي ساتلو ژمنه راکړي، زه به يې جنت ته داخل کړم، نو له دې معنا څخه معلومه شوه، چې نکاح کول په اسلامي شريعت کې څکه خورا لوړ مقام لري چې انسان پرې له ډېرو گواښمنو گناهونو څخه ژغورل کېدای شي او په همدې سره د انسان دين له خطرونو څخه په امن کې پاتې کېږي.

نو ويلای شو چې نکاح کول د زنا د هلاک کوونکې ناروغۍ څخه د حفاظت د خلاصون خورا ستره او د يوې سالمې پاکې او با وقاره ټولنې د رامينځته کېدا لامل دی.

په همدې اساس اسلامي شريعت دغه عمل ته مسلمانان تشويق کړي دي او پېغمبر ﷺ خپل سنت گڼلي دي، وايي چې د ډېرو اولادونو راوړونکو او مينه ناکو ښځو سره ودونه وکړئ، څکه د قيامت په ورځ ستاسې په زياتوالي وياړم او څوک چې زما له سنتو(نکاح) څخه اعراض کوي، زموږ څخه نه دی.

---

٧٢ -المستدرک علی الصحيحين، ٢/١٢١.

ابن قیم رحمه الله وايي: چې امام احمد بن حنبل رحمه الله ویلي دي عزوبت (نکاح نه کول) د اسلام کار نه دی(۷۷).

او له همدې امام څخه ابن قدامه روایت کوي: چې څوک چې تا عزوبت ته دعوت کوي، نو تا له اسلام نه پرته بل شي ته رابولي(۷۸).

## د نکاح اسانتیاوې:

اسلامي شریعت یوازې د نکاح په ترغیب او تشویق بسنه نه ده کړې، بلکې ټول هغه خنډونه یې چې د نکاح په مخ کې یې د راپیداکېدلو امکان شته له مینځه وړي او یا لږ تر لږه د هغې د کمولو او له مینځه وړلو لارې چارې یې برابرې کړي دي مور او پلار یې د خپلو اولادونو نکاح ته هڅولي، له فقیرانو سره یې د لاسنیوي، لارې برابرې کړې، د مهر او نورو لګښتونو کمښت یې د غوره واده نښه ګڼلې، له اسراف او بې ځایه لګښتونو څخه یې ټول خلک منع کړي، غواړم چې په ځینو خنډونو لږه مفصله رڼا واچوم:

**۱-نادارې:** نادارې یو له هغه اسبابو څخه ده، چې د واده په مخ کې مانع واقع کېږي، خوزیات وخت داسې پېښېږي، چې یو شخص نادار نه بلکې د هغه ارزوګانې او غوښتنې دومره لوړې وي، چې دده په مخ کې داسې خنډونه رامنځته کړي، چې له واده کولو څخه ډډه وکړي او یا هم لږ ترلږه د اوس مهال لپاره واده کول وروسته کړي، چې دغه ډول نادارې او فقر ته اسلام کوم ارزښت نه دی ورکړی، ځکه د دوی په اړه

---

[۷۷] -المغني: ۴۴۷/۲.

[۷۸] - احمد بن عبید، روضة المحبین ونزهة المشتاقین، ص ۲۳۰، درالکتب العلمیة بیروت.



CamScanner

حکم دا دی چې باید د ضروري احکامو چې واده کول دي په مخ کې باید هیڅکله هم تجملي احکام چې زیات مصارف کول او د ټولنې له ټولو معیارونو سره ځان برابرول دي، مانع واقع نه شي، خو هغه ناداري چې یقینا د یو افت او مصیبت شکل ولري، فقیر بیا په خپل ځان د بې اعتمادي، گومان وکړي او د واده مصارف ورته زیات وبرېښي، یو مشکل حالت دی نو ځکه خو اسلامي شریعت د هغې د درملنې لپاره زیاتې لارې پرانیستي دي او مسلمانان یې هڅولي دي، ترڅو د داسې انسانانو هر اړخیز لاسنیوی وکړي، نو تر ټولو دمخه یې فقیران دې ته هڅولي چې واده وکړي او ناداري دې دوی له نکاح څخه هیڅکله هم منع نه کړي، الله ﷻ فرمایي: «وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ» (٧٩).

ژباړه: له تاسې نه چې کوم کسان (سړي یا ښځې) مجرد وي او ستاسې له وینځو مریونو څخه چې څوک نېکان وي، د هغو نکاح وکړئ، که هغوی بېوزلي وي، نو الله به په خپلې مهرباني سره هغوی شتمن کړي، الله ښه پراختیا راوستونکی او د علم څښتن دی.

الایامی دایم جمع ده، هغه چاته ویل کیږي، چې واده ونه لري نر وي او که ښځه باکره وي او که ثیبه (٨٠).

---

٧٩- د النور سورت ٣٢ ایت.

٨٠- القرطبي: ٢٣٩/١٢.



CS CamScanner

ابن عربي مشهور مفسر وايي: په نوموړي ايت کې ښکاره دليل دی چې فقير بايد واده وکړي او دا ونه وايي چې زه خو مال نه لرم، نو څنګه واده وکړم؟

څکه دده او دده د عيال روزي له الله ﷻ سره ده، نبي کريم ﷺ هغه ښځه چې ده ته يې ځان هبه کاوه، يوه داسې صحابي ته په نکاح ورکړه چې يوازې يو لنګ يې درلود(۸۱).

ابوبکرصديق ؓ فرمايي: تاسې د الله ﷻ اطاعت وکړئ هغه رنګه چې تاسې ته يې په نکاح کې امر کړی دی، نوهغه به تاسې سره ستاسې په مالداره کولو کې خپله وعده پوره کړي(۸۲).

الله ﷻ فرمايي: (إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ)(۸۳).

ژباړه: که هغوی بېوزلي وي؛ نو الله به په خپلې مهربانۍ سره هغوی شتمن کړي.

همدا راز له حضرت عمر ؓ څخه رانقل شوي دي، هيڅ بې اولاده انسان بايد ددې ايت تر اورېدلو چې فرمايي: (وانکحوا الايامی) وروسته بې واده انتظار ونه کړي، په واده کولو کې دې غني او مالداري ولټوي(۸۴).

---

۸۱ . - ابن عربي تحقيق علي محمد البجاوي، احکام القران، القسم الثالث، ص ۱۳۲۸. - دارالقلم دمشق.

۸۲ . ابو الفداء اسماعيل بن عمرو ابن کثير الدمشقي، تفسير القران العظيم، ۳ / ۳۸۷، حقانيه کتب خانه پېښور.

۸۳ د النور سورت ۳۲ ايت.

۸۴ . احکام القران ۳ / ۳۲۰.

همداراز په حدیث شریف کې راغلي دي، چې واده کول د غني توب باعث دی، حضرت عائشهؓ وايي چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي، تاسې ښځې په نکاح کړئ، مالونه به درته راوړي[۸۵].

او ددې ترڅنګ اللهﷻ د هغه ناکح (واده کوونکی) د مرستې حق تفضلا په خپل ځان ثابت کړی دی، چې د پاک لمنی په نیت نکاح کوي، حضرت ابوهريرهؓ له رسول اللهﷺ څخه روايت کوي، چې فرمايلي دي، درې کسان دي، چې مرسته يې اللهﷻ په خپل ځان لازمه کړې ده، د اللهﷻ د لارې مجاهد، د هغه مکاتب چې خپل قرض خلاص کړي او هغه ناکح چې پاک لمني يې هدف وي[۸۶].

او د شريعت له نظره مالداري او فقر د غوره والي معيار هم نه دی، دا هيڅکله د شريعت له اصولو سره سر نه لګوي چې يو فقير او مسکين د هغه د ناداری له کبله له نظره وغورځولای شي، او يا دې هم هغه ته څوک خور - لور په نکاح ور نه کړي، بلکې ډېر داسې پېښېږي، چې فقير او نادار په کراتو له هغه مالدارانو څخه غوره او بهتره وي چې مالداري خپل عزت او کرامت وګڼي.

حضرت سهل بن سعدؓ وايي چې يوه ورځ د رسول اللهﷺ سره يو سړی په لاره تېر شو، ويې فرمايل ددې سړي په اړه څه وايئ؟ هغوی ووېل: دا که د چا لور وغواړي نوخلک يې ورکوي، که د چا سپارښت وکوي قبلېږي، که خبره وکړي غوږ ورته نيول کېږي، وايي

---

۸۵ . مجمع الزوايد ومنبع الفوائد: ۲۵۵/۴، وقال عنه رواه البزار ورجاله رجال الصحيح خلامسلم بن جبار وهوثقة.

۸۶ . ابو عيسى محمد بن عيسى الترمذي السلمي، جامع الترمذي: ۱۵/۳، دارالكتب العربي بيروت.



CamScanner

بيا رسول الله ﷺ لږ سکوت وکړ، بيا د مسلمانانو له جملې يو فقير په لاره تېر شو ويې فرمايل: دده په اړه څه وايئ؟ هغوی ووېل: که دا څوک په نکاح وغواړي نو نه يې ورکوي او که د چا سپارښت وکړي نه قبلېږي او خبرې ته يې څوک غوږ هم نه ږدي، نو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل هذا خير من ملء الارض مثل هذا (٨٧).

ژباړه: دا ډېره غوره دی، له هاغه بل نه د ځمکې د ډکوالي په اندازه.

نو په دې حديث شريف کې رسول الله ﷺ د خلکو تصور صحي لارې ته راګرځوي او مالداري د غوره والي معيار نه ګڼي، بلکې په همدې توګه د لورګانو اولياؤ ته وايي چې کله هم تاسې ته د خطبې لپاره يو ديندار انسان درځي، نو خپله لور يا هغه څوک چې ته يې سرپرست يې په نکاح ورکړې، د هغه مالداري او يا فقر د نکاح په مخ کې خنډ مه ګرځوئ، چې بيا به ترې لويه فتنه او مصيبت جوړ شي. نو ځکه خو اسلامي شريعت ټولنې ته هم د ناواده کړو خلکو د ودونو مسؤليت ورپه غاړه کړي او له هغوی څخه يې غوښتنه کړې ترڅو په دې سره ټولنه پاکيزه شي: «وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ» (٨٨).

ژباړه: له تاسې نه چې کوم کسان (سړي يا ښځې) مجرد وي، او ستاسې له وينزو مريونو څخه چې څوک نېکان وي، دهغو نکاح

---

[٨٧] -رواه البخاري مع فتح الباري ٩ /١٣٢ رقم الحديث ٥٩١.

[٨٨] -دالنور سورت ٣٢ ايت.



CS CamScanner

وکړئ، که هغوی بېوزلي وي نو الله به په خپلې مهربانۍ سره هغوی شتمن کړي

امام قرطبي رحمه الله وایي: هغه څوک چې واده شوی نه وي ودونه ورته وکړئ، ځکه همدا د پاکۍ لاره ده(۸۹).

همدا راز شهید سید قطب وایي: په دې ایت کې جماعت ته امر شوی چې ناواده کړو ته د ودونو لارې برابرې کړئ، هغوی ته داسې شرایط برابر کړئ چې هم خپل ځان له ګناهونو څخه وژغوري او هم ټولنه په ناروغیو ککړه نه کړي(۹۰).

په نبوي عصر کې هم د ناواده کړو وګړو سره د مرستې او لاسنیوي دروازې پرانیستې وې، د بېلګې په توګه:

کله چې حضرت علي ﷺ فاطمة الزهرا ﷺ وغوښته او خبره جوړه شوه نو رسول الله ﷺ وفرمایل: د واده لپاره خوولیمه په کار ده، سعد ﷺ وویل: پسه په ما شو، نو بیا د مجلس هر یو اواز پورته کړ چې په ما فلانی شی او په ما فلانی ضرورت...(۹۱).

یعنې د ولیمې ټول ضرورتونه همغه خلکو په غاړه واخیستل چې هلته موجود وه او د ټولو په ګډه همکارۍ سره ولیمه چمتو شوه.

همدا راز ربیعه اسلمي ﷺ وایي ما د رسول الله ﷺ خدمت کاوه نو یوه ورځ رسول الله ﷺ راته وویل ربیعه واده نه کوې؟ ما وویل: والله چې ای د الله ﷺ استاځیه ﷺ زه واده نه کوم، ما سره د ښځې د

---

[۸۹] -تفسیر القرطبي: ۲۳۹/۱۲.

[۹۰] -فی ظلال القران: ۹۸/۲.

[۹۱] -مسند امام احمد ۳۵۹/۵.

ضروریاتو د پوره کولو چمتووالی نشته، زه نه غواړم ستا له خدمت نه مې بل څه بوخت کړي، نو بیایې زه پرېښودلم او څه وخت نور مې هم د هغه خدمت کولو چې بیایې راته ووېل: ای ربیعه ته واده نه کوې؟ ما بیا خواب ورکړ چې یا رسول الله ﷺ زه واده کولو ته چمتووالی نه لرم، او ستا له خدمت څخه ځان بوختول نه غواړم. بیایې زه پرېښودلم، نو ما له خپل ځان سره فکر وکړ او ومې ویل چې قسم په الله ﷺ چې رسول الله ﷺ زما د دنیا او اخرت په ښېګنې تر ما ښه پوهېږي، قسم په الله ﷺ چې که چېرې یې بیا ما نه د واده کولو په اړوند پوښتنه وکړه، نو زه به خامخا ورته په (هو). سره ځواب ورکوم.

او وایم به چې ای د الله ﷺ رسوله ﷺ ما ته امر کوه چې څنګه دې خوښه وي، وایي چې بیا رسول الله ﷺ ووېل: ربیعه ته واده نه کوې؟ نو ما وویل: ولې نه یا رسول الله ﷺ امر کوه، ویې فرمایل: آل فلان ته ولاړ شه (چې د انصارو یوه قبیله وه). هغوی د رسول الله ﷺ سره لږ واټن کې میشت ؤ، ورته ووایه زه تاسې ته رسول الله ﷺ رالېږلی یم، چې فلانۍ ما ته په نکاح راکړئ، په دوی کې یوه ښځه وه، زه ولاړم او دوی ته مې ووېل: زه تاسې ته رسول الله ﷺ را استولی یم تاسې ته یې امر کړی چې فلانۍ ښځه ما ته په نکاح راکړئ، دوی ووېل د رسول الله ﷺ استاځی دې په خیر راشي موږ رسول الله ﷺ ته او د هغه رالېږلي استاځي ته هرکلی وایو، د رسول الله ﷺ استاځی چې بېرته ځي نو اړتیا به یې پوره وي.

ما ته یې هغه په نکاح راکړه ډېره نرمي یې راسره وکړه او څه ګواهان یې له ما نه وغوښتل زه رسول الله ﷺ ته د خپګان حالت کې ورغلم راته یې وفرمایل: ولې؟ ربیعه څه درباندې وشول؟ ای د الله

رسوله ﷺ داسې قوم ته ورغلم، چې ښځه يې هم راکړه ډېره نرمي او د عزت معامله يې راسره وکړه ګواهان يې هم رانه ونه غوښتل، اوس زه د مهر توان نه لرم، رسول الله ﷺ ووېل ای بريده اسلمي ته د نواة (د نواة اندازه د يوې هګۍ په اندازه کېږي) په اندازه سره راجمعه کړه، هغه راجمعه شوه او له ځان سره واخيستل رسول الله ﷺ ته ورغلم هغه راته ووېل دا واخله او په مهر کې يې ورو ړه ولاړم دوی ته مې ووېل دا يې مهر شو. هغوی په خوشالۍ سره قبول کړ، ويې وېل دا ښه ډېر او پاک مهر دی، بيا زه رسول الله ﷺ ته غمژن راغلم ويې وېل څه درباندې شوي ربيعه؟ ای د الله ﷺ رسوله دا خو ډېر عزتمند قوم دی ښه په خوشالۍ يې هغه مهر قبول کړ. اولايې ووېل چې دا ښه ډېر او پاک دی، اوس د وليمې وسه نه لرم، بيايې بريده ته امر وکړ، يو پسه ورته پيدا کړه، هغه راته يو ښه چاغ او غټ پسه راجمع کړ او رسول الله ﷺ راته ووېل عائشې ﵂ ته ورشه او ورته ووايه چې د خوراکي موادو بوجۍ راکړه په هغې کې نهه پيمانې اوربشې وې، هغې ته مې د رسول الله ﷺ پيغام ور ورساوه هغه يې راکړه او ويې وېل زموږ په کور کې نور طعام نشته او رسول الله ﷺ ته مې يوړه او د حضرت عائشې ﵂ خبره مې هم رسول الله ﷺ ته وکړه ويې فرمايل: دا طعام او پسه ورو ړه او له دې څخه به د وليمې خوراک جوړ کړې څه سړي هم راسره ولاړل توکي مو وروړل هغوی ووېل چې ډوډی به موږ درپوره کړو او پسه به په خپله تيار کړئ نو په دې ترتيب موږ دا او هغوی د ډوډۍ کار وکړ وليمه تياره شوه رسول الله ﷺ موهم ورته راوباله بيا رسول الله ﷺ لره څمکه هم راکړه، نو رسول الله ﷺ د ربيعه د واده ټولې

اړتیاوې په خپله پوره او هغه ته د نکاح کولو ټولې لارې چارې اسانه او چمتو کړې.[92]

## د ښځو د ګڼوالي جواز:

که چېرې یوه ښځه د کوم عذر او یا هم له عذر پرته د خپل خاوند اړتیا نه شي پوره کولای او ددې وېره وي چې سړی په ناروا اړیکو او فحشا کې واقع کېږي، نو شریعت له یوې ښځه د زیاتو ښځو سره نکاح روا ګرځولې، الله ﷻ فرمایي: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ (۹۳).

ژباړه: که تاسې وېرېږئ چې له پلار مړیو (نجونو). سره به عدالت ونه شئ کړای؛ نو کومې (نورې). ښځې چې ستاسې خوښېږي د هغو له دوو دوو، درېیو درېیو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ، خو که له تاسې سره دا اندېښنه وي چې له هغو سره به عدالت ونه شئ کړای؛ نو یوه ښځه وکړئ یا له هغو (وینځو) نه ازدواجي کار واخلئ چې تاسې ته په لاس درغلي دي( د هغو مالکان یاست). په دې توګه له بې عدالتۍ نه په ښه شان ژغورل کیدای شئ.

د تعدد دجواز په اړه شیخ سعدي رحمه الله وایي: دا په دې اساس چې کېدای شي د یوه شخص شهوت په یوې ښځې سره دفعه نه شي،

---

[92] -مجمع الزوائد: ۴ / ۲۵۷، اومسند احمد: ۴ / ۵۸.

[93] -د النساء سورت ۱ ایت.

نوځکه شریعت د بلې ښځې سره نکاح هم تر څلورو پورې جائز گرځولی، چې په څلورو سره د هر شخص اړتیا پوره کېږي(۹۴).

او دا چې اسلامي شریعت تعدد جائز گرځولی، په اسماني ادیانو کې دا کومه نوې خبره نه ده، بلکې دا له پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام څخه د ابراهیم ﷺ څخه تر وروستي پېغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ پورې یو جائز او مشروع عمل گڼل شوی دی.

د تورات او انجیل په هیڅ یو حکم کې دا نه ده ثابته شوې چې د متعددو ښځو سره په نکاح کول یې نامشروع عمل گڼلی وي، خو مسیحیانو په هغه حالت کې تعدد ناروا گڼلی چې کله اسقف (د مسیحیانو مذهبي مشر) د دیني بوختیا په مینځ کې حائل واقع کېږي، نو بیا دغه اسقف نه شي کولای چې له یوې څخه زیاتو ښځو سره نکاح وکړي(۹۵).

او دا په همدې اساس چې د تعدد قضیه د سلیم عقل او انساني غوښتنو سره برابر او د ظلم قضیه له سره دلته مطرح نه ده، ځکه چې اسلامي شریعت په هیڅ ښځه په زور او اجبار سره له داسې یو سړي سره د واده کولو امر نه کوي، چې د تعدد په قضیه کې له ډېر احتیاط څخه کار نه اخلي ترڅو په ښځه د ظلم او تېري باعث ونه گرځي.

دا چې اوس د بشري احصائیو علم د لمر په څېر څرگنده کړې چې په نړۍ کې د ښځو تعداد نسبت سړیو ته زیات دي، نوهغه ښځې چې

---

۹۴ -تفسیر کلام المنان: ۲ /۹.

۹۵ - عباد محمود العقاد :موسوعة: ۵/ ۱۷۲-۱۷۷ ط الاولی دار الکتاب العربي بیروت..

له سرېو څخه زیاتې دې هغوی به د خپل برخلیک د ټاکلو لپاره راتلونکی ژوند څنګه او له چا سره تېروي؟

یو لویدیځ وال څېړونکي براتراندرسل وايي: له یوې ښځې سره د واده کولو نظام ددې غوښتنه کوي، چې په نړۍ کې د ښځو او نرو عدد بلکل سره برابروي خو اوس چې ګورو په عدد کې تفاوت شته نو په هغه ښځو به ډېر ظلم وي چې بې مېړو پاتې شي(٩٢).

ددې ترڅنګ اسلامي شریعت چې د تعدد جواز ورکړي، نو هغه یې په عدل او برابرۍ مشروط ګرځولای الله ﷻ فرمايي ° ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا °(٩٧).

ژباړه:خو که له تاسې سره دا اندېښنه وي چې له هغو سره به عدالت ونه شئ کړای؛ نو یوه ښځه وکړئ یا له هغو (وینځو) نه ازدواجي کار واخلئ چې تاسې ته په لاس درغلي دي «د هغو مالکان یاست». په دې توګه له بې عدالتۍ نه په ښه شان ژغورل کیدای شئ.

نو تعدد یا له یوې ښځې څخه پورته تر څلورو پورې د نکاح کولو جواز په دې شرط پورې تړلی چې ورڅخه ظلم واقع نه شي او د هغوی حقوق په ښه توګه پوره کړای شي، د عدل قضیه حضرت محمدﷺ په مبارک حدیث کې داسې روښانه کړې: کله یو څوک دوه ښځې ولري او د هغوی ترمنځ عدل او انصاف ونه کړي، نود قیامت په ورځ به یې یو طرف شل وي(٩٨).

---

٩٢ - د استاد محمد فتحي عثمان، الفکرالاسلامي والتطور، : ص ٢٣٢.

٩٧ -د النساء سورت ٣ ایت

٩٨ - سنن الترمذي، : ٢ / ١٩٥.

ان تر دې چې یوه ښځه حق لري، چې که د مېړه له طرفه ورسره ظلم کېږي او حق یې پوره نه ورکول کېږي، چې خپل شکایت محکمې ته پورته کړي او هغوی یې شکایت واوري او لازم تصمیم ونیسي.

## د هغې نکاح حکم چې زنا ته ورته وي:

د نکاح لپاره اسلامي شریعت په پوره وضاحت او تفصیل سره احکام روښانه کړي چې د ټولو احکامو بنسټ په دې ولاړ دی، چې د نکاح اهداف باید د مسلمانې حیاناکې او پاک لمنې کورنۍ مینځ ته راوړل او له زنا او فحاشۍ څخه د ټولنې پاکول وي.

نو په همدې اساس هغه تړونونه چې د نوموړو اهدافو سره په ټکر کې وي او یا هم له هغې څخه انساني نسل ته زیان رسېږي، اسلام حرام ګرځولي دي، لکه مؤقته نکاح (لنډ مهاله واده) او یا هم د تحلیل نکاح.

## الف: د متعې د نکاح حرمت:

دغه نکاح چې د لنډمهال لپاره کېږي اسلامي شریعت ناروا ګرځولې، څکه چې اصل دا دی، چې نکاح باید د دوام او استمرار لپاره ترسره شي نو فقهاء وایي: دغه ډول نکاح باطله ده.

صورت یې دا دی، چې یو سړی یوې ښځې ته ووایي، چې زه یوه میاشت، کال او یا بله ټاکلې نېټه د معین مال په بدل کې له تا څخه استفاده کوم او یا درسره نکاح کوم، یا بل داسې لفظ استعمال کړي

چې د مؤقتې نکاح معنا ورکړي، کله چې هغه وخت پوره شي نکاح پای ته رسېږي. نو دا نکاح په اجماع د ټولو علماؤ سره حرامه ده(۹۹).

البته د نومورې نکاح د حرمت لپاره علماؤ څکه په تفصيل سره دلائل بيان کړي،،چې له يو طرفه دغه نکاح د اسلام په لومړي سر کې د ځينې ضرورتونو په اساس د موقت وخت لپاره جائز گرځول شوې وه چې بيا وروسته حرامه شوه او له بل پلوه دا چې دغه عقد دی او له نکاح سره يې څه مشابهت وه چې زه يې په لنډه توگه د حرمت دلائلو ته اشاره کوم:

**قرانکريم:**

۱-الله ﷻ فرمايي [ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ](۱۰۰).

ژباړه: او هغه کسان چې د خپلو شرم ځايونو ساتنه کوي پرته له خپلو مېرمنو او هغو ښځو څخه چې د هغو وينځې وي، چې پر هغو باندې ( د شرم ځايونو په نه ساتنه کښې ) هغوی د پړکېدو وړ نه دي.

له دې ايات څخه څرگندېږي چې الله ﷻ د جماع ټولې لارې حرامې کړي مگر دوه لارې چې يوه يې نکاح او بله يې ملک يمين ده او بس نومتعه نه نکاح او نه هم ملک يمين ده. متعه څکه نکاح نه ده چې جدايي په کې بې غير له طلاق څخه واقع کېږي او د زوجينو ترمنځ

۹۹- أبو بکر بن مسعود الكاساني الحنفي، بدايع الصنائع في ترتيب الشرائع، ۲ /۲۱۲.ط المکتبة الحبيبية، کويټه پاکستان.

۱۰۰-د المومنون سورت ۵ ايت.



CS CamScanner

ميراث نه ثابتېږي، چې په نکاح کې دا خورا ضروري احکام ګڼل کېږي.

## نبوي احاديث:

عن سبرة الجهني رضي الله عنه انه کان مع رسول الله ﷺ فقال: یاایها الناس انی قدکنت اذنت لکم فی الاستمتاع من النساء وان الله قدحرم ذلک الی یوم القیامة، فمن کا ن عنده منهن شئ فلیخل سبیله ولاتاخذوا مما اتیتموهن شیئا(۱۰۱).

حضرت سبره رضي الله عنه وايي چې هغه يوه ورځ له رسول الله ﷺ سره وه، چې وې فرمايل: اى خلکو! ما درته له ښځو سره د متعې کولو اجازه کړې وه، چې هغه اوس الله ﷻ د قيامت تر ورځې پورې حرامه کړه، نو که چا سره داسې څوک وي، نو هغه دې پرېږدي او څه مو چې ورکړي وي، بېرته يې ورڅخه مه اخلئ.

او د مسلم په يو بل روايت کې راغلي دي، رسول الله ﷺ د متعې نکاح منعه کړې او فرمايلي يې دي، خبردار اوسئ، چې دا حرامه ده. له نن څخه د قيامت تر ورځې پورې، که چېرې چا کوم مال ورکړی وي، واپس دې ورڅخه نه اخلي(۱۰۲).

همدا راز کله چې حضرت عمر رضي الله عنه خليفه شو، خلکو ته يې په يوه خطبه کې وويل: بېشکه چې رسول الله ﷺ موږ ته د متعې اجازه درې ورځې راکړې وه او بيا يې حرامه کړې ده، قسم په الله چې ماته څوک داسې معلوم شي چې متعه کوي او محصن هم وي، نو رجم به يې

---

۱۰۱ -صحيح مسلم: ۲ / ۱۰۲۵.

۱۰۲ -صحيح مسلم: ۲ /۱۰۲۵.

کړم، مګر دا چې څلور شاهدان راولي په دې چې رسول اللهﷺ وروسته له حرمت څخه هغه حلال کړي(۱۰۳).

د متعې د نکاح د حرمت د امت په اجماع سره هم ثابت دی، قرطبي رحمه الله وايي: د متعې د نکاح په اړه چې څومره روايات راغلي ټول په دې ګواهي ورکوي، چې د هغې د اباحت موده ډېره لږه وه، او اصلا حرامه ده، بیا د امت سلفو (پخوانيو) او خلفو (وروستيو) علماؤ د هغې په حرمت اتفاق کړی، مګر د روافضو يوه وړه ډله چې د هغوی نظر ته اعتبار نشته(۱۰۴).

امام نووي رحمه الله عليه وايي: د متعې د نکاح حرمت د روافضو نه پرته له ټولو علماؤ په اتفاق سره ثابت دی(۱۰۵).

چې په دې سره د متعې د نکاح حرمت د شريعت په اصلي مصادرو قرانکريم، نبوي سنتو او اجماع سره ثابت شو.

**ب-د تحليل د نکاح حرمت:**

بل ډول نکاح چې شريعت ترې منعه کړي او حرامه يې ګرځولې ده، د تحليل نکاح ده، د تحليل نکاح هغې نکاح ته ويل کېږي، چې د کوم شخص طلاقه شوې ښځه ددې لپاره په نکاح کړي چې بېرته لومړي شخص ته حلاله شي.

---

۱۰۳ - محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني، سنن ابن ماجه، : ۱ / ۲۳۱، دار الفكر -بيروت.

۱۰۴ -فتح الباري: ۹ /۱۰۱۳.

۱۰۵ -شرح النووي :۹ /۱۸۱.



CS CamScanner

تر دخول وروسته یې سمدلاسه طلاقه کړي، او بیایې اول شخص په نکاح کړي، دغه ډول عقد په اتفاق د فقهاؤ سره حرام دی، اګر که احناف وایي: د دویم شخص په نوموړې نکاح کې د توقیت شرط له مینځه ځي او نکاح وروسته تر عقد دوام پیداکولای شي.

خو دغه عمل ددې په خاطر، چې د زنا سره مشابهت لري حرام ګرځولی دی، رسول الله ﷺ فرمایي: "لعن الله المحلل والمحلل له".(۱۰۲).

محلل هغه څوک دی، چې د بل شخص په درې طلاقونو طلاقه شوې مېرمن په دې نیت په نکاح کړي، چې تر وطې وروسته به یې طلاقوي، تر څو اول شخص ته حلاله شي، نو دده دنده همدا ده، چې لومړی شخص ته د هغه پخوانۍ منکوحه بېرته حلاله کړي او محلل له هغه لومړی زوج دی، نو رسول الله ﷺ په دواړو لعنت ویلی، ځکه چې په دې عمل سره یې مروّت او غیرت پایمال کړل.

محلل ته رسول الله ﷺ په حدیث کې د تیس مستعار یعنې د بل چا په سوال غوښتل شوې سخوندر لفظ استعمال شوی.

امام صنعاني رحمه الله وایي: پورتنی حدیث د تحلیل د نکاح په حرمت دلالت کوي، ځکه لعنت داسې یو شخص ته غوښتل کېږي، چې د یو حرام کار مرتکب شوی وي او هر حرام کار منهی عنه وي، په

---

(۱۰۲). جامع الترمذي: ۲ / ۱۸۲.



CamScanner

همدې اساس نهي د عقد په فساد هم دلالت کوي، چې دغه عقد هم فاسد او هم حرام دی(۱۰۷).

شیخ الاسلام ابن تیمیه وایي: د محلل نکاح د متعې تر نکاح ډېره بده او ناوړه ده، ځکه د محلل نکاح کله هم نه ده روا شوې، ځکه محلل یو عقد کوي چې ببرته یې له مینځه یوسي او دا کار کله هم مشروع نه دی(۱۰۸).

نو له پورتنیو دلائلو څخه د تحلیل د نکاح بدوالی او حرمت ثابتېږي، ځکه له زنا سره یې زیات مشابهت دی، په دې سره د نسلونو اختلاط او د انساني غیرت له مینځه تلل او نورې بدې اغېزې مرتب کېږي، نو دغه ډول عقدونه شریعت ناروا ګرځولي دي.

**د هغه افعالو حرمت چې زنا ته انسان نږدې کوي:**

لکه چې شریعت د زنا له ناوړه عمل څخه خلک منعه کړي، او د هغې له بدو پایلو څخه یې انسانان ویرولي، په همدې ترتیب یې ځیني هغه اعمال هم ممنوع کړي، چې زنا ته مفضي کېږي، لکه د ښځو او نرو ترمنځ په ټولنیزو کارونو کې ګډ او مختلط ونډه اخستل له کور څخه پرته له ضرورته او په غیر شرعي مظهر دباندې وتل له نامحرمو افرادو سره سفرکول او یا هم د هوا پرستۍ او شراب خورۍ او رقص او موسیقۍ په مجالسو کې مشارکت او داسې نور چې

---

۱۰۷ -محمد بن اسماعیل الیمني الصنعاني، سبل السلام: ۳ / ۱۲۷.دارالکتب العلمیة بیروت.

۱۰۸ -مجموع فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه: ۳۲ / ۱۰۸.

اسلامي شریعت ښځو ته څکه حرام ګرځولي، چې ددې په پای کې خورا بدې پایلې مینځته راځي او د زنا دروازې ورسره خلاصېږي.

نو په همدې اساس اسلامي شریعت له نامحرمو سړیوسره د ښځو خلوت او تنهاوالي په غیر د محرم څخه اوږد سفر کول، له هغه کړو وړو څخه د ځان ژغورنه چې شهوت پاروونکي وي او بداخلاقي مینځته راوړي لکه د نامحرمو نارینه ؤ، مینځ کې رقص کول خپل ځان نورو سړیو ته مزین کول او داسې نور چې په دې حدیث کې به یې لږ په تفصیل سره وڅېړم.

## له نامحرمو سره د ښځې خلوت:

یو له هغه ادابو څخه چې اسلامي شریعت د همدې د حفاظت لپاره ورباندې لازم ګرځولي داده، چې له نامحرمو خلکوسره له اختلاط او ګډ ژوند څخه ځان وژغوري، دا څکه چې د ښځې او نر ګډ ژوند او وخت تېرول د ډېرو زیاتو مفاسدو او فواحشو سبب ګرځي، چې په پایله کې د زنا ناوړه عمل ته مفضي کېږي.

اسلامي شریعت له هغه ښځوسره د سړي خلوت حرام ګرځولی دی، چې نه خو دده په نکاح کې وي او نه هم دده محرمه وي او محرمه هغه ښځې ته وایي چې د سړي سره یې نکاح په دوامداره توګه د قرابت په سبب او یا هم د رضاع او یا د مصاهرت په سبب حرامه وي، حضرت جابرﷺ وایي چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: څوک چې په اللهﷻ او د اخرت په ورځ ایمان لري نو د هغې ښځې سره دې نه تنها کېږي، چې

محرم ورسره نه وي، ځکه دریيم شخص به بیا ورسره شیطان وي(١٠٩).

امام شوکاني رحمه الله وايي: د اجنبي ښځې سره د خلوت حرمت په اجماع سره ثابت دی، لکه چې حافظ په فتح الباري کې هم د همدې قضيې حکايت کړی او وايي چې د تحريم علت دا دی، چې د دوی ترمنځ دريیم شخص شيطان دی او د شيطان موجوديت دوی د ګناه په طرف کش کوي(١١٠).

که چېرې یو شخص له متعددو ښځو سره تنها شي او یا هم یوه ښځه له متعددو سړیو سره جلا شي، نو ددې خلوت په اړه فقهي مذاهب مختلف نظريات لري، چې په لنډه توګه يې يادونه کوو:

**د شوافعو نظر:** کله چې یو سړی د ډېرو ښځوسره تنها کېږي، او یا هم یوه ښځه د زياتو سړیو سره تنها کېږي، امام الحرمين وايي لکه چې یو سړي ته حرام دي، چې د يوې ښځې سره تنها جدا شي نو همدا راز د ډېرو ښځو سره خلوت هم حرام دی، خو که چېرې دا سړي د داسې ښځوسره جدا کېږي، چې د ښځو د ډلې څخه د يوې محرم وي، نو بيا روا دی.

همدا راز که يوه ښځه د داسې سړيو سره یوځای کېږي، چې په سړيو کې یو ددې محرم وي دا صورت هم جايز دی.

---

١٠٩ - أحمد بن الحسين بن علي بن موسى أبو بكر البيهقي ، سنن البيهقي الكبرى : الناشر : مكتبة دار الباز - مكة المكرمة ، ١٤١٤ – ١٩٩٤: ٥ / ٣١١٢، رقم الحديث ٩٢١٨، ط بيروت ١٩٩١م.

١١٠ -فتح الباري: ٥ / ٢٠٠٥ ، رقم الحديث ٤٩٣٥ ، ط بيروت ..



CamScanner

مجموع د مهذب شارح د ډېرو زياتو اقوالو تر يادولو وروسته ليکي: تر ټولو غوره نظر دادی، که چېرې غالب ګومان دا وي، چې فساد نه پېښېږي، نو د يوه سړي تنهاوالی له ډېرو ښځو سره په هغه صورت کې هم حرام نه دي، چې محرم يې نه وي، ځکه چې کله ښځې زياتې وي، نو يوه له بلې څخه حيا کوي او د فساد چانس کمېږي، او ډېر سړي له يوې ښځې سره جدا کېږي، که چېرې عادة فحاشي ته نه مفضي کېده نو روا دی او کنه نو حرام دی(١١١).

له حنفي علماؤ څخه ابن عابدين وايي: حرام خلوت د مانع په وجود او د يوه د محرم په موجوديت او يا د يوې بااعتماده توانمندي او ثقه ښځې په وجود سره له مينځه ځي(١١٢).

په لنډه توګه وپلای شو، چې شريعت د اجنبي ښځې سره خلوت ځکه ممنوع ګرځولای، چې د ابرو او عزت حفاظت او ساتنه د شريعت له سترو اهدافو څخه شمېرل کېږي او په دې سره د زنا او فحاشي دروازې تړل کېږي، نو په همدې اساس حنفي او حنبلي فقهاؤ د حج په قضيه کې هم په هغه صورت کې د محرم موجوديت شرط ګرځولای چې د دوی او مکې ترمنځ د قصر د مودې په اندازه مسافه وي، او استدلال يې د ابن عمر په هغه حديث باندې کړی دی، چې رسول اللهﷺ

١١١ -المجموع شرح المهذب: ٨٧/٧.

١١٢ -محمد امين الشهير بابن عابدين، الدرالمختار: ٣ / ٥٩٠.حقانيه کتب خانه پېښور.



CamScanner

فرمایلي دي: ښځه دې تردرې ورځو سفر نه کوي، مګر د خپل محرم سره(۱۱۳).

ځکه چې سفر کې په انسان هر ډول حالات راځي، نو د سفر په اوږدو کې که چېرې د ښځې محرم نه وي شپې او ورځې ورباندې راځي نو زيات احتمال ددې شته چې اجنبي خلکو ته يې ضرورتونه پيداکېږي او بيا له هغوی سره د تعامل په پايله کې شيطان د دوی زړونو ته لاره پيداکوي او وسوسې ورته خلق کړي او په نتيجه کې د فحشاؤ د رامينځته کېدلو باعث شي.

۱۱۳ - علي بن حسام الدين المتقي الهندي، کنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، لناشر: مؤسسة الرسالة - بيروت ۱۹۸۹م: ۲ / ۱۱۵۲.

# د طلاق د جواز تاثیر د زنا په مخنیوي کې

په اسلامي شریعت کې عمومي قاعده او اساس په دې ولاړ دی چې د نکاح عقد باید مستمر او دوامدار وي نو ځکه یې د توقیت او شرط یا د یوه معین وخت لپاره نکاح باطله او ناروا ګرځولې، لکه د متعې نکاح او یا هم د ټاکلې مودې لپاره ازدواج کول.

خو که چېرې په یوه شرعي نکاح کې داسې پېښه شي، چې د زوجینو ترمنځ د ځینې اسبابو له کبله لکه خطرناکې ناروغي، داسې اختلافات چې د حل د لارو - چارو تر لټولو وروسته هم کومه اغېزمنه پایله په لاس را نه شي او ازدواجي ژوند ناشونی کړي او یا هم د زوجینو یو بل سره داسې بې رغبتي منځته راشي، چې د نکاح مقاصد او اغراض ورسره لاس ته نه راوړل کېږي، نو بیا شریعت د خلاصون لاره ددې په خاطر په ګوته کړې چې د نورو سترو مصیبتونو لکه قتل، زنا او بداخلاقۍ د جرائمو مخنیوی وشي او مېړه ته یې اجازه ورکړې، داسې ښځه چې دده ازدواجي ژوند ورسره نه تامین کېږي او یا هم دده غوښتنې نه شي پوره کولای او یا یې نه پوره کوي، او ارام او مطمئن ژوند ته یې صدمه رسوي طلاق او د بلې صالحې ښځې سره د نکاح کولو کوښښ پیل کړي.

البته هغه ناروغي، که چېرې په ښځه کې موجوده شي نو سړی کولای شي، هغې ته طلاق ورکړي، چې اسلامي فقهې په تفصیل سره بیان کړې دی.

همدا راز که چېرې ښځې ته د یو سړي په نکاح کولو داسې یو ضرر ورسېږي، چې د تحمل وړ نه وي، نو هغه هم د شکایت حق لري،

او شرعي محکمه کولای شي چې د هغې شکایت واوري او د اړتیا پر مهال د هغوی نکاح فسخه کړي.

د سرې په اړه ابن ابي شیبه له حضرت عمر ﷺ څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: چا چې یوه ښځه په نکاح کړه او بیا څرګنده شوه چې هغه د برګي (برص) جذام او یا د لېونتوب په ناروغۍ اخته ده، نو که یو ځایوالی ورسره شوی و، پوره مهر به ورکوي او دا په خپل ولي ورتاوان ده، یعنې نکاح به یې له منځه یوسي او ولي ته به یې ورتسلیم کړي[114].

او همدا راز د هغې ښځې په اړه چې مېړه کې یې عیب وي، ابن سیرین رحمه الله وایي: چې حضرت عمر ﷺ یو شخص د زکات راټولولو لپاره استولی و، چې بېرته راغی نو یوه ښځه یې په نکاح کړې وه، چې دی په خپله عقیم (شنډ) وه، نو حضرت عمر ﷺ ورته وویل: ایا تا په دې پوهه کړې وه، چې ته شنډ یې بچی نه شي راوړلای؟ ولاړ شه دا خبره ورته وکړه او بیا اختیار ورکړه چې له تا سره پاتې کېږي او که نه؟

همدا ډول امام مالک رحمه الله له سعیدبن المسیب ﷺ څخه روایت کوي، چې هغه فرمایلي دي: هر چاچې ښځه په نکاح کړه او په نارینه کې د جنون لېونتوب او یا برص مرض وه، نو ښځې ته یې

[114] بلوغ المرام: ص ۲۱۱-۲۱۲، ط موسسة الکتاب الثقافیة.

اختیار ورکول کېږي، خوښه یې ده چې له ده سره پاتې کېږي او که بېلتون غواړي(۱۱۵).

دا چې کوم عیوب دي، چې د هغې په اساس ښځه کولای شي، له مېړه څخه طلاق او د بېلتون غوښتنه وکړي او یا هم مېړه د هغه په وجود کې ښځې ته طلاق ورکولای شي؟ فقهاء متعدد او مختلف نظریات لري، چې د ټولو نظریاتو غوره او راجح نظر دادی، چې نوموړي عیوب باید داسې حالت کې وي، چې زوجین یو له بل څخه نفرت وکړي او د نکاح مقاصد ورڅخه لاسته رانه ورل شي.

د سړي او ښځې یو له بل څخه اړتیا پوره نه شي، مینه او محبت له مینځه ولاړ شي او یا ښځه او مېړه دېته اړ شي، چې د خپلې اړتیا د پوره کولو لپاره له ناوړه او نامشروعو لارو څخه کار واخلي.

او دا ځکه چې اسلامي شریعت هېڅکله دا نه غواړي، چې نکاح او ازدواج دې د فحاشی او بداخلاقی باعث وګرځي، نو ځکه یې په داسې حالت کې د ښځې او مېړه یو له بل څخه د بېلوالي جواز ورکړی، ترڅو هر یو وکولای شي، له مشروع لارو څخه خپل پاک مطمئن او ارام ژوند په اطمینان سره ترسره کړي.

امام کاساني رحمه الله وایي: په اسلامي شریعت کې طلاق د یو لوی مصلحت له کبله جائز ګڼل شوی، ځکه کله داسې هم پېښېږي، چې د زوجینو ترمنځ په کړو – وړو کې داسې اختلافات رامنځته شي چې بیا نکاح د کوم مصلحت په توګه نه پاتې کېږي، ځکه چې د هغې

---

[115] -موطا، امام مالک تحقیق محمد فؤاد عبدالباقي: ۳/ ۵۲۳، ط مصطفی البابي الحلبي، مصر.



CamScanner

مقاصد له منځه ځي، چې په دې حالت کې طلاق غوره مصلحت وي ددې لپاره چې هر یو ځانته داسې د ژوند ملګری پیداکړي، چې د نکاح مقاصد ورڅخه پوره کړای شي(١١٦).

همدا راز ابن قدامه رحمه الله وايي: علماؤ په هغه حالت کې د طلاق په جواز اجماع کړې ده، د زوجینو ترمنځ داسې اختلافات پېښ شي، چې تر هغې وروسته د نکاح پاتې کېدل یو محض شر او ضرر وي، په دې معنا چې د زوجینو ترمنځ دائمي شخړې او بد معاملګي مینځته راشي، که چېرې په سرې د ښځې نفقه او لګښتونه هم لازم شي نو دا یو ضرر او مفسده ده، نو ځکه خو په داسې حالت کې د طلاق واقع کېدل مصلحت او خیر وي(١١٧).

همدا راز د ښځې له خوا د خلع غوښتنه په هغه وخت جائز او روا عمل دی، چې د هغې معقول اسباب مینځته راشي، دا ځکه چې ښځه په دې مکلفه ده، چې د خپل مېړه پوره اطاعت او احترام وکړي او داسې کار ورڅخه سر ونه خوري، چې د زوجیت اړیکې کړکېچنې او د اختلافاتو د راټوکېدو لامل وګرځي، نو د طلاق غوښتنه د ښځې له اړخه هم اصلا یو ناوړه او ناروا عمل ګڼل شوی دی.

حضرت ثوبان ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هره ماندینه چې له سبب پرته د خپل خاوند څخه د طلاق غوښتنه وکړي، نو د جنت بوی هم پرې حرام دی(١١٨).

---

١١٦ . بدایع الصنایع فی ترتیب الشرایع: ٣ / ١١٢، ط دارالکتب العربي.

١١٧ . المغني: ٧ / ٢٢-٢٧.

١١٨ . ترمذي: ٣ / ٢١٧، وصححه الالباني.



CamScanner

که چېرې د ښځې د اطاعت ترځنګ بیا هم داسې حالات منځته راشي، چې د خپل خاوند سره یې ژوند تریخ او د زوجیت مقاصد لاسته نه راوړل کېږي، نو اسلامي شریعت بیا د ښځې ژوند هم په پام کې نیولی او له خپل خاوند څخه خلع یا د مال په بدل کې بېلتون روا ګرځولی دی.

ابن قدامه رحمه الله وايي: کله چې یوه ښځه د خپل خاوند څخه ناراضه وي او سبب یې بداخلاقي، بې دیني، بدني او یا هم د سن زیاتوالی او ضعف وي او دا وېره ورسره وي، چې ددې اسبابو له امله به یې حقوق پوره ادا نه کړای شي او ګناهګاره به شي، نو ورته روا دي چې د خپل ځان په بدل کې (فدیه) مال ورکړي او ځان ترې خلاص کړي[119].

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ [120].

ژباړه: البته دا مستثنا ده، چې ښځه او مېړه د الله پر حدودو په درېدو کښې اندېښمن وي، په داسې صورت کښې که تاسې ته دا وېره وي، چې هغوی دواړه به د الله پر حدودو ټینګ پاتې نشي، نو د هغو دواړو په مینځ کښې ددې خبرې باک نشته، چې ښځه خپل مېړه ته یو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بېل کړي.

ابن کثیر رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې وايي: کله چې د زوجینو ترمنځ اختلافات پیدا شي او ښځه د خپل مېړه سره کینه

---

[119] - المغني: ۷ / ۵۱.

[120] - د البقره سورت ۲۲۹ ایت

کوي او حقوق يې نه پوره کوي، ژوند ورسره نه تېروي، نو بیا کولای شي، چې د خپل نفس په بدل کې فدیه ورکړي، چې ورکول یې ښځې ته ناروا نه دي او اخیستل یې سړي ته[121].

البته له دې لارې هم د زیاتو ناوړو حوادثو د پېښېدو مخنیوی کېږي، کله چې یو مېړه د خپلې ښځې حقوق نه شي پوره کولای، او یا هم ښځه له خپل خاوند څخه ناراضه او وخت ورسره نه شي تېرولای نو حتما د خپلو ضرورتونو او خواهشاتو د پوره کولو لپاره هریو په دې لټه کې وي، چې نورې لارې ولټوي او د شیطان په ملتیا داسې ګړنګونو ته مخه کوي، چې د الله ﷻ د غضب او لعنت لامل شي.

[121] -تفسیر ابن کثیر: ۱ / ۲۷۲.

# د دینداری اثر د زنا په مخنيوي کې

دینداري او له الله ﷻ څخه وېره او الله ﷻ په هر حالت کې په خپل ځان څارونکی او لیدونکی ګڼل او په دې عقیده لرل چې الله ﷻ به زما سره د هر ستر او کوچني عمل حساب کوي د هغه حضور کې به ودرېږم او بیا به مې له خپل عمل څخه پرته هېڅ څوک د خلاصون توان هم نه لري.

همدا راز تقوی او پرهېزګاري عبادت او نېک اخلاقي ټول هغه اسباب دي، چې انسان د فحاشۍ له کړو - وړو څخه ژغوري د تدين په پایله کې انسان د الله ﷻ د رضا د لاسته راوړلو او د جنت د ګټلو لپاره د هر راز ناوړه اعمالو څخه ځان لرې ساتي.

# د ایمان اثر د زنا په مخنيوي کې:

ایمان چې د قلبي تصدیقُ او ژبې له اقرار څخه عبارت دی چې زیاتره اهل سنت علماؤ ورسره عمل صالح هم د ایمان جز ګڼلی، د مومن په جوړونه او اصلاح کولو کې خورا زیات اغېزمن رول لري، چې ایمان د مومن په غوره اعمالو او اقوالو سره پیاوړی کېږي، او یا هم زیاتوالی قبلوي او بالعکس په ناوړه عملونو او اقوالو سره کمزوی کېږي او یا نقصان ورکې راځي، په همدې اساس کله چې انسان د خیر کار کوي عبادات او صالحه اعمال ترسره کوي ایمان مضبوط او نور هم الله ﷻ ته نږدې کېږي او کله یې چې شر ته مخه شي



CamScanner

نو بیا د هلاکت په لورې خپل حرکت پیل او د بربادۍ کندې ته ورغورځېږي.

په دې کې شک نشته چې غښتلی او محکم ایمان له زنا څخه د لېرې والي او ځان ژغورنې ستره وسیله ده، پېغمبرﷺ فرمايي: کله چې زناکار زنا کوي، په دې وخت کې مومن نه دی، شراب خور چې شراب خوري ایمان ورسره نشته او غل چې کله غلا کوي نو ایمان ورسره نشته(۱۲۲).

او کله چې د مصر د عزیز ښځې یوسفؑ نه تقاضاوکړه، نو هغه هم خپل ایمان وژغوره اللهﷻ ترې حکایت کوي: "وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ"(۱۲۳)

ژباړه: د کومې ښځې په کور کښې چې هغه و، هغې خپل ځان ته د هغه توجه جلبوله او یوه ورځ یې ورونه وتړل او ویې ویل چې" زر راشه" یوسفؑ وویل" پناه په خدای" زما رب خو ما ته ښه منزلت راکړی ( او زه دا کار وکړم!) داسې ظالمان هیڅکله بری نشي میندلی.

هغه اللهﷻ ته پنا یوړه او د ایمان باعث وه، چې اللهﷻ یې ساتنه وکړه.

ایمان یواځینۍ وسیله ده، چې انسان ژغوري، که چېرې کومه ټولنه او یا نظام د خپلو ټولنو د حفاظت او ساتنې څومره پرمختللي

---

۱۲۲ -صحیح البخاري: ۴ / ۱۱، حدیث نمبر ۵۵۷۸.

۱۲۳ -دیوسف سورت ۲۳ ایت.

سیستمونه هم جوړ کړي، خو چې د ایمان په اساس ولاړ نه وي، ډېر ژر به د ناکامۍ او فساد سره مخ کېږي او هماغه سیستم به په خپله د فساد او ککړتیا لامل ګرځي.

کله چې انسان له فتنو څخه وېره ولري او کوښښ کوي، چې زنا کې واقع نه شي، نو باید خپل ایمان ته مراجعه وکړي، د الله ﷻ په مراقبت ثواب او جزاء او د هغه په عظمت او ستروالي او قدرت باندې خپل باور پوخ کړي، ترڅو د همدې باور او ایمان په واسطه له ټولو بدیو څخه بچ او خپل ټول جوارح لکه لاسونه، سترګې، غوږونه کنترول کې وساتي.

د ایمان پیاوړتیا د جوارحو د اعمالو لکه لمونځ، روژه، زکات او نورو عباداتو په واسطه مینځته راځي او همدا راز د زړه اعمال لکه له الله ﷻ څخه وېره له هغه څخه حیا کول، رجاء او امیدواري، الله ﷻ ته زهد او پرهېزګاري او داسې نور اعمال چې ایمان ورسره تقویت او انسان له فواحشو او منکراتو، چې په سر کې یې د زنا فاحشه ده ژغوري.

**۱- له الله ﷻ څخه وېره او حیاء:**

مسلمان د الله ﷻ څخه د وېرې او امیدوارۍ (خوف او رجاء) په مینځ کې موقعیت لري، د الله ﷻ د عذاب څخه باید وېره کې وي، او د الله ﷻ رحمت او بخښنې ته هیله من او ارزومند وي، الله ﷻ فرمایي: «إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ» (۱۲۴).

---

۱۲۴. د الملک سورت ۱۲ ایت.



CamScanner

ژباړه: کوم کسان چې ناليدلي له خپل رب نه ویرېږي، په باوري ډول هغو ته ښښنه ده او لوی ثواب.

همدا راز په بل ایت کې فرمایي: "وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى، فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى" (۱۲۵).

ژباړه: او چا چې د خپل رب په مخ کښې له دریدو نه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلي و.

مسلمان باید په هر حال او هره شېبه کې الله ﷻ په خپل ځان څارونکی او مراقب وګڼي او دا عقیده ورسره مضبوطه وي، چې هغه قادر او د ستر ځواک خاوند دی، دده په پټو او ښکاره ټولو حالاتو پوره خبردار او عالم دی، خپلو بندګانو ته په هره لحظه کې عذاب ورکولای شي، خو د خپل رحمت په اساس بندګانو ته ددې فرصت ورکوي، ترڅو هغه ته توبه وباسي او له خپلو بدیو څخه پښېماني څرګنده کړي، الله ﷻ فرمایي: "وَهُوَ اللَّهُ فِي السموات وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ" (۱۲۶).

ژباړه: هماغه یو خدای په اسمانونو کښې هم دی او په ځمکه کښې هم، ستاسې پر ښکاره او پټو ټولو حالاتو پوهېږي او کومه بدي یا نیکي چې تاسې ګټئ له هغې څخه ښه خبر دی.

او فرمایي: "مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" (۱۲۷).

---

[۱۲۵] -د النازعات سورت ۴۰- ۴۱ ایتونه.

[۱۲۶] -د الانعام سورت ۳ ایت.

[۱۲۷] -دق سورت ۱۸ ایت.

ژباړه: هیڅ داسې لفظ د هغه له خولې څخه نه راوزي چې د هغه د محفوظ ساتلو لپاره یو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.

لکه چې رسول اللهﷺ فرمايي: بېشکه د بنده له خولې څخه یوه داسې کلیمه راووځي چې د اللهﷻ خوښه وي، خو دی ورته هېڅ متوجه نه وي او اللهﷻ د هغې په واسطه درجې ورکړي، او همدا راز د یو بنده له خولې څخه داسې کلیمه راووځي، چې د اللهﷻ د غضب باعث وي دی ورته هېڅ اهمیت نه ورکوي، خو اللهﷻ یې د هغې په سبب جهنم کې غورځوي(۱۲۸).

د اللهﷻ په مراقبت او څارنې کلک ایمان د هغه له عذاب څخه وېره او رحمت ته یې هېله مندتیا انسان ته د زنا د واقع کېدو په مخ کې خورا ستر حائل تشکیلوي او دا څکه کله چې موږ متوجه شو، نو زنا زیاتره د شپې په تیاره او یا د ورځې په پټ ځای کې واقع کېږي، او زناکاران داسې فکر کوي چې ګواکې موږ څوک نه ګوري، خو کله چې د انسان عقیده او ایمان مضبوط او روښانه وي دا یې هېڅکله له یاده نه وځي، چې اللهﷻ زموږ مراقبت او څارونکی دی، زموږ دغه ناوړه عمل ګوري، بیا په ورسره ددې حساب په داسې حالت کې کوي چې ټول انسانان به مو ګوري، د خلاصون وس به له چاسره هم نه وي، نو بیا په هېڅ ځوان او مسلمان د یوې پاکې او شریفې کورنۍ د بدنامولو او شرمولو کوښښ هېڅکله هم ونه کړي، همدا راز هغه ناوړه او بدکاره انسانان چې بل چاته د زنا کولو لارې برابروي که په دې پوه شي چې د قیامت په ورځ به ددې ټولو انسانانو چې ده ورسره

---

۱۲۸ صحیح البخاري: ۴ / ۱۸۷، ۴۷۸.



CS CamScanner

په دې بده لاره کې همکاري کړي او لارې یې ورته برابرې کړي، د دوی ټولو په ګناه کې شریک او اثار به یې په ده کې له ورایه ښکاري، نو بیا به د هغې ورځې له وېرې هم دې ناوړه عمل ته اقدام ونه کړي، چې په هغې ورځ به پلار خوی ته او زوی پلار ته هېڅ نفعه او خیر رسولای نه شي.

رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې د هدایت لارې ته څوک دعوت کړي، نو دعوت کوونکي ته هم الله ﷻ دومره ثواب ورکوي، څومره چې عامل ته ورکوي، البته د عامل له اجر څخه به څه نه کمول کېږي، او څوک چې بل ګمراهی ته دعوت کړي، نو دعوت کوونکي ته به همدومره ګناه لیکل کېږي، څومره چې د هغې کوونکي ته ورکوي او د هغه له ګناه څخه به څه نه کمول کېږي(۱۲۹).

یقینا حیا د انسان لپاره له ګناهونو څخه د خلاصون ستره وقایه ده او انسان نه پرېږدي، چې ټولو ګناهونو ته او په ځانګړې توګه زنا ته نږدې شي.

کله چې د یوه مومن بنده په زړه کې د زنا په طرف میلان پیدا شي نو سمدلاسه یې په زړه کې د الله ﷻ د حیاء احساس راوپارېږي او په دې فکر کې شي، چې الله ﷻ خو ماته له هرڅه نه زیات نږدې دی، زما څارنه کوي او ګوري مې هغه خو ډېر ستر ذات دی، نو د ګناه جرئت یې سلب شي او الله ﷻ ته توبه وباسي.

خو کوم بدکاره انسانان چې په خپلې ګناه وياړي او د نورو کوښښ هم کوي، په حقیقت کې د هغوی د حیا مزي شلېدلي دي، او

---

۱۲۹ -صحیح مسلم: ۴ / ۲۰۲۰، حدیث رقم ۲۶۷۴.



CS CamScanner

د حيا له لباس څخه بربنډ دي، ځکه خو هر څه په جرئت سره کوي له همدې کبله خو رسول اللهﷺ فرمايي: حياء ټوله خير ده(۱۳۰).

په بل حديث کې رسول اللهﷺ فرمايي: کله چې حياء درسره نه وي نو چې څه کوې کوه يې(۱۳۱).

زناکار انسان ټول عمر غمژن او رټلی وي، ځکه دا يو داسې ناوړه عمل دی، چې د انسان سالم فطرت خلاف او د شيطاني وسوسو په پايله کې مينځته راځي، له دې سره د انسان شرف او حيثيت پايمالېږي او په ټولنه کې د يو سپک او بې قيمته انسان په توګه ژوند کوي.

ابوامامهؓ وايي چې يوه ورځ يو ځوان پيغمبرﷺ ته راغی او ورانديز يې وکړ: ای د اللهﷺ رسوله ماته د زنا اجازت راکړه، د مجلس ناستو خلکو وراټه او غال مغال يې پرې جوکړ، خو رسول اللهﷺ ووېل ماته يې رانږدې کړئ، بيا هغه ته رانږدې شو ورته يې ووېل: دلته کېنه! هغه کېناست ويې فرمايل: ايا ته دې خپله مور ته خوښوې؟ نه يا رسول الله، زه دې له تانه قربان شم، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل همداسې نورخلک يې هم خپلو مېندوته نه خوښوي، ويې فرمايل: ايا خپلې لور ته دې خوښوې؟ نه يا رسول اللهﷺ زه دې له تا قربان شم، همداسې يې نور خلک هم له خپلو لوڼو سره نه خوښوي...

ايا خپلې عمې ته دې خوښه ده؟ نه! يا رسول اللهﷺ زه دې له تا قربان شم، همداسې هېڅوک يې خپلو عمه ګانو ته نه خوښوي، ايا خپلې

۱۳۰ -صحيح مسلم: ۱ / ۲۴، حديث رقم ۳۷.

۱۳۱ -صحيح البخاري: ۲ / ۵۰۱، حديث رقم ۳۴۸۳.



CamScanner

خاله ته دې خوښوې؟ نه یا رسول الله ﷺ زه دې له تا قربان شم، همداسې نور خلک یې هم خپلو خالو ته نه خوښوي، بیا رسول الله ﷺ خپل لاس وربانـدې کېښود دعـایې ورتـه وکـړه (اللهم اغفرذنبه وطهرقلبه واحصن فرجه). ای الله گناه یې معاف کړه، زړه یې پاک کړه او د شرمگاه حفاظت یې وکړه. بیا دې ځوان دې ناوړه کار ته هېڅکله ونه کتل(۱۳۲).

د الله ﷻ له عذاب څخه وېره هم له ایمان څخه سرچینه اخلي رسول الله ﷺ په خپلو اقوالوکې د زناکارو داسې عذاب بیان کړی، چې هر انسان ترېنه وېره او ترس پیداکوي، هغه ﷺ چې کله زناکاران د برزخ بدحالت کې په خوب کې لېدلي و، نو داسې یې بیان کوي:زه یوه شپه په خوب وېده وم دوه تنه راغلل زه یې راپاڅولم او راته یې ووېل:راځه راسره! او زه ورسره روان شوم... ، چې یوځای ته ورسېدو نو د یو ستر تنور په څېر مې اور ولیده، راوي وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په دې اور کې چېغې او نارې سورې وې، موږ ور وکتل چې گوروپه دې اور کې بربنډ سړي او ښځې پراته وو او چې د لاندې نه لمبه راپورته شي د دوی زوږ وخېژي ما پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ وروسته راته ددې پوښتنې په ځواب کې ووېل شول، چې دغه بربنډ سړي او ښځې دي چې تنور کې وو، زناکار سړي او ښځې وو.

---

۱۳۲ -مسند امام احمد: ۵ / ۲۵۲.

نوموړی حديث چې امام بخاري روايت کړی خورا اوږد دی، چې د نورو ګناهونو عاقبت او سزاګانې هم پکې تمثيل شوي دي، ما يې يوازې د زناکارو د سزا برخه دلته رانقل کړه[133].

البته د زنا له خورا ناوړه پايلو څخه دا هم ده، چې زناکار انسان ته د پاکېزه او ديندارې ښځې سره د نکاح چانس نه برابرېږي، الله ﷻ فرمايي: ﴿الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾[134].

ژباړه: ناپاکې ښځې د ناپاکو نارينه وو لپاره دي او ناپاکه نارينه د ناپاکو ښځو لپاره. پاکې ښځې د پاکو نارينه وو لپاره دي او پاک نارينه د پاکو ښځو لپاره. د دوی لمن له هغو خبرو څخه پاکه ده، چې جوړوونکي يې غوټه کوي، د دوی لپاره بښنه ده .او ښه روزي.

او د زناکار په خپل کور کې دا ناوړه عمل مينځته راځي، امام شافعي رحمه الله وايي: زنا يو دين (پور) دی له چا دې چې واخيسته وفا به يې ستا له کوره کېږي

او د زناکار انسان ژوند تنګ مهموم او محزون وي اطمينان او ارام نه لري، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾[135].

---

[133] -صحيح البخاري: ۴/ ۳۱۰، حديث رقم: ۷۰۴۷

[134] -د النورسورت ۲۲ ايت

[135] -دطه سورت ۱۲۴ ايت.



CS CamScanner

ژباړه: او څوک چې په دې دنيا کښې ړوند پاتې شو، هغه به په اخرت کښې هم ړوند پاتې شي. بلکې په لار ميندنه کښې له ړندو نه هم زيات ناکام.

ابن کثير رحمه الله د دې ايات په تفسير کې ليکي: اعرض عن ذکري ياني زما د امر مخالفت کوي له ياده يې وباسي او له بل چا فرمان اخلي او امر يې مني نو ژوند به يې په دنيا کې تنګ شي او اطمېنان او د سينې پراخوالی به يې نه وي او زړه به يې تنګ او په ګمراهۍ سره وي اګر که ظاهرا به ښه سالم او روغ معلومېږي

## ۲- د الله ﷻ رحمت ته امېد واري:

هغه انسان چې د الله ﷻ د ثواب او اجر په طمعه وي امېداو ارزو يې لري نو په دنيا کې کوښښ کوي چې خپل ژوند داسې برابر کړي چې د پاکو او حلالو وسيلو څخه د خپلو د اړتياو د پوره کولو لپاره استفاده وکړي او پوره باور ولري چې الله ﷻ دده لپاره کوم نعمتونه او ښېګڼې ليکلې خامخابه ورته رسېږي، نو تر دې يقين او باور وروسته بيا د حرامو لارو څخه د خپلو لذتونو او غوښتنو يقين او باور وروسته بيا د حرامو لارو څخه د خپلو لذتونو او غوښتنو په کوښښ خان د الله ﷻ له رحمت څخه نه لېرې کوي.

عبد الله بن مسعود ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: إذا مر بالنطفة ثنتان وأربعون ليلة بعث الله إليها ملكا فصورها وخلق سمعها وبصرها وجلدها ولحمها وعظامها ثم قال يا رب أذكر أم أنثى ؟ فيقضي ربك ما شاء، ويكتب الملك ثم يقول يا رب أجله فيقول ربك ما شاء، ويكتب الملك ثم يقول يا رب رزقه فيقضي



CS CamScanner

ربك ما شاء ويكتب الملك ثم يخرج الملك بالصحيفة في يده فلا يزيد على ما أمر ولا ينقص(۱۳۲).

ژباړه: کله چې د يوې نطفې د جوړېدو دوه څلوېښتمه شپه پوره شي نو الله جل جلاله دوه پرښتې ور ولېږي، هغوی يې تصوير، غوږونه، سترګې، پوستکی، غوښه او هډوکي جوړ کړي، نو پرښتې پوښتنه وکړي چې ای ربه نارينه يې جوړ کړو او که ښځينه، نو الله ﷻ چې کوم امر ورته وکړي پرښتې هماغسې وکړي، بيا پرښتې پوښتنه وکړي چې ای ربه ددې اخرې نېټه؟ نو ستا د رب د خوښې سره سم يې وليکي، بياترې پوښتنه وکړي چې ای ربه دده روزي؟ نو د الله ﷻ د خوښې سره سم يې ورته وليکي، بيايې په لاس کې يوه صحيفه (پاڼه) راوباسي چې له هغې به نه زياتېږي او نه به پکې کمښت راځي.

نو کله چې نوموړي حديث ته په توجه سره وګوري نو په پوره اطمينان سره طاعاتو ته مخه کوي او له منکراتو ځان ژغوري، ځکه چې دهر منکرات دي چې انسان د الله ﷻ له رحمت او مغفرت څخه محروموي او د الهي عذاب مستحق يې ګرځوي.

د زنا د ناوړه جرم څخه د منفعت او ځان ساتونکي بنده په هکله په نبوي احاديثو کې زياته يادونه شوې چې زه يې يو څو په لاندې توګه يادوم:

رسول الله ﷺ په يوه مبارک حديث کې فرمايي: من يضمن لي مابين لحييه ورجليه اضمن له الجنة(۱۳۷).

---

۱۳۲ صحيح مسلم: ۴ / ۲۰۳۲ ، رقم الحديث: ۲۶۴۵.

۱۳۷ صحيح البخاري: ۴ /۱۸۷ ، رقم الحديث ۲۴۷۹.



CamScanner

ژباړه: چاچې ماته د دواړو ژامو ترمنځ د «ژبې» او د دواړو پښو ترمنځ د «شرمګاه» د ساتنې او خوندیتوب ضمانت راکړ، نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم.

د خپلې ژبې او فرج «شرمګاه» حفاظت جنت ته د داخلېدو ضمانت کوي ولې به يې مومن انسان له ناوړه استعمال څخه نه ژغوري.

ابوهريره ﷺله رسول الله ﷺڅخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: سبعة يظلهم الله فى ظله يوم لاظل الاظله :الامام العادل، وشاب نشافى عبادة ربه، ورجل قلبه معلق بالمساجد، ورجلان تحابافى الله اجتمعاعليه وتفرقا، عليه، ورجل طلبته امراة ذات منصب وجمال فقال اني اخاف الله، ورجل تصدق بصدقة فاخفاهاحتى لاتعلم شماله ما تنفق يمينه ورجل ذكر الله خاليافاضت عيناه(١٣٨).

ژباړه: اوه تنه دي چې په هغه ورځ بانديې به د الله ﷻ د عرش د سيوري لاندې وي چې د هغه د عرش له سيوري پرته به نور سيوري نه وي، انصاف والا پاچا، هغه ځوان چې د الله ﷻ په بندګۍ کې ستر شوی وي، هغه ځوک چې جومات سره يې زړه تړلی وي، هغه دوه تنه چې د الله ﷻ د رضاپه خاطر له يوه بل سره مينه کوي او د هغه لپاره سره يوځای کېږي او بېلېږي، هغه ځوک چې يوه ښايسته او د ښې کورنۍ والا انجلۍ ورته د زنا بلنه ورکړي او هغه ورته ووايي چې زه د الله ﷻ څخه وېرېږم او هغه ځوک چې داسې خيرات کوي، چې ښی لاس يې له چپ څخه خبر نه شي، هغه ځوک چې د الله ﷻ ذکر په داسې دول کوي، چې له سترګو څخه يې د الله ﷻ له وېرې اوښکې وبهېږي.

---

١٣٨ صحيح البخاري: ١ / ٣١٩.



CamScanner

په دې حدیث شریف کې رسول الله ﷺ د هغه انسانانو له ډلې څخه چې د الله ﷻ د عرش د سیوري لاندې به وي یو هم هغه څوک شمېرلی چې ځان له زنا څخه وژغوري، حال دا چې د زنا کولو ټول وسائل ورته برابر او چمتوي، خو دی د الله ﷻ د عذاب له وېرې دا کار ونه کړي، نو په دغه سخته ورځ به د الله ﷻ د رحمت په سیوري کې نغښتی وي.

### ۳- صبر:

صبر د تکلیف او مشقت په مقابل کې د ځان بندول او له شکایت څخه د ژبې تړل او د خلاصون او اسانتیا پورې د ټولو تکلیفونو تحمل ته وایي، صبر کول د انسان په ژوند کې د ټولو خوشحالیو کیلي ده او صابر مومن الله ﷻ د صبر په واسطه د زنا او نورو زیاتو ګناهونو څخه د بچ کېدو لارې خلاصوي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: د صبر او ایمان تړاو داسې دی، لکه په جسد کې د سر حیثیت کله چې له جسد څخه سر بېل شي جسد هم له مینځه ځي.

### صبر په درې ډوله دی:

**الف: په طاعاتو صبر کول:** یعنې د الله ﷻ ښه بندګي کول، عبادت او طاعت په پوره توجه او پراخه سینه ترسره کول که چېرې په دې لارې کې د کوم تکلیف احساس کوي، نو په هغې صبر کول په دې لړه کې ټول عبادتونه لکه لمونځ، روژه، زکات... جهاد او داسې نور شاملېږي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: الطهور شطور الایمان والحمد لله تملاء المیزان وسبحان الله تملان اوتملا مابین السموات والارض والصلوة



CamScanner

نوروالصدقة برهان والصبرضیاء والقران حجة لک اوعلیک کل الناس یغدوا فبائع لنفسه فمعتقهااوموبقها(۱۳۹).

ژباړه: پاکوالی د ایمان یوه برخه ده، الحمدلله میزان ډکوي، او سبحان الله دواړه ډکوي، یا د ځمکې او اسمان ترمنځ ډکوي، او لمونځ روښنایي ده، خیرات برهان دی، صبر رڼا ده او قران یا ستا لپاره حجت دی او یا په تا باندې حجت دی، هر څوک سهار پاڅېږي تول د ځان لپاره پېر او پلور کوي څوک پکې ګټه کوي او څوک پکې تاوان کوي.

**ب: د ګناهونو پرېښودل:** له هغو څخه د ځان په ژغورنه باندې صبر: دا ډول صبر د خپل نفس سره مقابله کول دي، ترڅو هغه په خپل کنترول کې وساتي، له ناوړه او ناروا کړو-وړو څخه یې وژغوري چې په حرامو کې پرېنوځي.

الله ﷻ فرمایي: " وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ " (۱۴۰).

ژباړه: او څوک چې د نکاح (اسباب) ونه مومي هغوی باید پاک لمني غوره کړي، تردې پورې چې الله په خپلې پېرزوینې سره هغوی شتمن کړي.

له استعفاف څخه معنی داده چې انسان خپله جنسي غریزه کنترول او له نفسي خواهشاتو او شهواني غریزو څخه خورا لوړ او پورته واوسي.

---

۱۳۹ - صحیح مسلم: ۱ / ۲۰۳، رقم الحدیث ۲۲۳.

۱۴۰ - د النورسورت ۳۳ ایت.

نو کله داسې هم کېږي، چې الله ﷻ چاته د واده کولو مالي توان ور نه کړي، نو بیا ورځخه غوارې چې صبر وکړي او ځان په ګناه کې واقع نه کړي، تر هغې پورې چې الله ورځخه دغه مشکل پورته کړي، ابو سعید الخدري رضي الله عنه وايي چې د انصارو يو څه خلک رسول الله ﷺ ته راغلل او مال يې ورځخه وغوښته، هغه ورکړل، بيا يې غوښتنه وکړه بيا يې ورکړل، دريم ځل يې بيا وغوښتل بيا يې ورکړل، تر دې چې نور مال خلاص شو، نو ويې فرمايل: مايكون عندي من خيرفلن اؤخره عنكم ومن يستعفف يعفه الله ومن يستغن يغنه الله ومن يتصبريصبره الله وما اعطى احد عطاء خيرا واوسع من الصبر(١۴١).

ژباړه: که له ما سره نور کوم خير واى، نو له تاسو څخه به مې نه واى دريغ کړاى او څوک چې پاک لمنى غوره کړي الله ﷻ به يې پاک وساتي، څوک چې استغنا وکړي، الله ﷻ به يې شتمن کړي، څوک چې د صبر هڅه کوي الله ﷻ به د صبر بدله ورکړي، څکه د الله ﷻ په پراخو او غوره ورکړو کې له صبر څخه غوره بدله نشته.

هغه خلک هم د خورا ستر عذاب خاوندان دي، چې د سن د زياتوالي سره هم له زنا او فحشاء څخه صبر نه کوي او په دې پليتى کې واقع کېږي، د داسې انسانانو په اړه رسول الله ﷺ فرمايي: ثلاثة لايكلمهم الله يوم القيامة ولايزكيهم :قال معاوية: ولاينظر اليهم ولهم عذاب اليم: شيخ زان، وملك كذاب، وعائل مستكبر(١۴٢).

---

١۴١ -صحيح البخاري: ١ / ۴۵۵، رقم الحديث ١۴٢٩.

١۴٢ -صحيح مسلم: / ١٠٢ ، رقم الحديث ١٠٧.



CamScanner

ژباړه: درې تنه دي چې الله ﷻ به ورسره د قیامت په ورځ نه خبرې وکړي او نه به یې پاک کړي، معاویه ﷺ وایي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او د دوی لپاره به دردناک عذاب وي، زوړ زناکار، دروغژن پاچا او خوار کبرجن.

قاضي عیاض وایي دا ځکه چې دی هر یو داسې ګناه کړې، چې ده باید له دې عمل څخه کرکه کړې وای.او ډېر ورڅخه لېرې شوی وای، ځکه له ده سره یې هېڅ د واعي او اسباب نه وه، نو په داسې حالت کې ددې ګناهونو ارتکاب د الله ﷻ په حق باندې د ډېر جرئت او ستر عصیان څخه سرچینه اخلي، ځکه الله ﷻ ورته دومره سخته سزا مقرره کړې.

### ج: په مصیبتونو صبر کول:

دا هغه ډول صبر کولو ته وېل کېږي، چې یو مسلمان د الله ﷻ په لاره کې د ډول ډول کړاوونو سره مخ کېږي، خو دی ددې تولو په مقابل کې خپله حوصله له لاسه نه ورکوي او خپلې لارې ته دوام ورکوي، الله ﷻ فرمایي: [وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ] (۱۴۳).

ژباړه: او مونږ به ارو مرو په ویره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خساره کښې په اخته کولو پر تاسې ازمېښت کوو، ای پیغمبره هغو کسانو ته زیری ورکړه چې په دې حالاتو کښې صبر وکړي.

۱۴۳ - د البقره سورت ۱۵۵ ایت.



CamScanner

همدا ډول رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (د مومنانو حال خورا عجيبه دی، هر کار يې له خيره ډک دی او له مومن څخه پرته د بل هېچا حال داسې نه دی، که چېرې ورته خوښي ورسېږي، شکر يې پرځای کړي او که چېرې تکليف ورته ورسېږي صبر پرې وکړي نو دا هم دده لپاره خير شو([144]).

نو په دې سره د مومن مسلمان ژوند ټول له خير او ښېګڼې څخه ډک وي، په دې شرط چې په هر حال کې دالله ﷻ تر څارنې لاندې ځان وګڼي او په خپلو کړو وړو کې له صبر او زغم څخه کار واخلي.

## د- زهد او تقوی:

له ټولو ګناهونو څخه په ټوليزه توګه او له زنا څخه په ځانګړې توګه د بچ کېدلو بل سبب زهد او پرهېزګاري ده، زهد دې ته وايي: انسان د خپل ايمان په واسطه چاته طمعه ونه کړي او د نورو له شتمنيو څخه ځان بې پروا کړي او په خپلې کمې برخې خوښ واوسي، خپل مال د خير په لار کې ولګوي او د اخرت سفر ته چمتووالی ولري.

زهد د پيوندي کاليوا غوستلو، خيرن ګرځېدلو او ملنګۍ کولو ته نه وايي، بلکې داسې هم کېدای شي، چې که يو شتمن او ثروتمند انسان هم استغنا ولري، نو ژوند به يې له خوښيو ډک او له ډېرو ګناهونو څخه به خلاص، زړه به يې له کينو او ټولو معنوي ناروغيو څخه پاک او د دنيا کارونه به ورته اسانه شي.

عبدالله بن عمرو بن العاص له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: (يقينا کامياب دی هغه مومن چې د الله ﷻ تقدير ته

[144] ـ صحيح مسلم: ۴ / ۲۲۹۵ رقم الحديث ۲۹۹۹.



CamScanner

يې خان تسليم کړ، رزق يې د ژوند تېرولو لپاره کافي وه او د الله ﷻ په ورکړه قناعت ولري)[١٤٥].

کله چې د يو مومن ايمان په دې محکم شي، چې الله ﷻ دده لپاره ځومره نعمتونه او جنتونه تيار کړي دي، نو بيا له دې فاني دنيا څخه خان بې پروا کوي او اخرت ته خپله توجه ګرځوي.

او په ريښتيا سره هم د اخرت عظيم نعمتونه او بدلې د هغه مسلمان لپاره دي، چې په دنيا کې د اخرت د لاسته راوړنې لپاره کار کړی وي او دنيا يې د خپل ژوند اصلي هدف نه وي ګرځولی، نو د داسې انسانانو په هکله چې د زهد ژوند يې غوره کړی وي، حسد او کينه نه کوي او د محبت او ورورولۍ لاره يې خپله کړې وي، رسول الله ﷺ داسې فرمايلي دي، لومړۍ ستره ډله چې جنت ته داخلېږي، د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېدونکي به وي او ورپسې ډله به د اسمان د ښايسته او ځلېدونکو ستورو په څېر وي. د ټولو زړونه به لکه د يو انسان زړه چې له کينې او بدبينۍ څخه پاک وي او هېڅ قسمه دښمني او حسد پکې ځای نه لري او هر يو ته به داسې دوه د حورعين ښځې وي، چې له ډېرې ښکلايې د هډوکو ماغزه د هډوکي او غوښې څخه دباندې ښکاري.[١٤٢]

علماء وايي چې لکه چې علم په کسب کولو لاس ته راځي، نرمي او حلم په هر کار کې د قصدي نرمي کولو په نتيجه کې د انسان طبيعت ګرځي همدا راز زهد هم يو داسې صفت دی، چې په کوښښ

---

١٤٥ - صحيح مسلم: ٧٣٠/٢ ، رقم الحديث ١٢٥.

١٤٢ - صحيح البخاري: ج ٢ ص ٧٣٠، رقم الحديث: ٤٢٣٢،

او زحمت ویستلو سره رامینځته کېداې شي، نو ددې صفت د لاسته راوړنې کوښښ په هرمسلمان لازم او ضروري دی ترڅو ددې په واسطه له زیاتو ګناهونوڅخه بچ شي او د اخرت لوړې مرتبې او درجې هم لاسته راوړي کله چې په مسلمان کې د زهد صفت ځای ونیوه، نو بیا څکه غلا ته زړه نه ښه کوي، چې دی د نورو له مال څخه بې پروا دی او زنا ته څکه زړه نه کوي چې د چا ناموس ته بد نظر نه کوي، په خپله منکوحه قناعت کوي او له ګناه څخه ځان ژغوري.



CS CamScanner

# د عباداتو اثر د زنا په مخنیوي کې

عبادت د الله ﷻ صحیح بندګي ته وېل کېږي او عبادت د بنده او رب ترمنځ د ارتباط او تړاو غوره وسیله ده، چې له دې لارې انسانان خپل ځانونه پالونکي پروردګار ته نژدې کوي، مومن د دنیا او اخرت غوره نعمتونه او بریالیتوبونه هم د عبادت په وسیله حاصلولای شي.

وخت هم یو له هغو نعمتونو څخه دی، چې د قیامت په ورځ به د هغې پوښتنه کېږي او له انسان سره به د هغې جدي محاسبه کېږي، نو څکه خو په کار داده چې دغه قیمتي سرمایه هر څوک په داسې ځای کې مصروف کړي، چې له لومړي پیل څخه د محاسبې او حساب ورکونې چمتووالی په پام کې ولري، د خیر کارونه، عبادات، په نېکیو امر او له بدیو څخه مخنیوی او د اخرت د سختې ورځې لپاره تیار واوسي.

څکه چې تر مرګ وروسته بیا پښېمانتیا او ندامت څه فائده نه رسوي اګر که ډېر داسې خلک به وي، چې له خپل رب څخه به سوال کوي، چې ای پروردګاره موږ بیا دنیا ته ولېږه چې نېک اعمال ترسره کړو، ستا عبادت وکړو ترڅو مو حال ښه شي، خو دا یوه ارزو او تصور وي، چې شونتیا نه لري ابن مسعود ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي، چې فرمایلي یې دي: د قیامت په ورځ بني ادم تر هغه پورې ولاړ وي او د حرکت اجازه به ورته نه وي؛ چې د پینځه پوښتنو ځواب ورنه کړي، عمر دې په څه کې تېر کړ؟، ځواني دې په څه کې مصرف کړه؟، مال دې له کومې پیدا کړ؟، په څه کې دې مصرف کړ؟ او په خپل حاصل کړي علم دې څومره عمل کړی؟

د خير او نېکۍ دېرې پراخې دروازې دي، کله چې انسان له دې دروازو څخه داخل شو نو د شر دروازې خپله بندې شي او که چېرې څوک خپل ځان د خير او نېکۍ په کارونو کې مصرف نه کړي، نوخپل نفس يې د شهواتو او ناوړه اعمالو په لور ورکاږي، چې بيا د انسان د هلاکت باعث گرځي نوځکه خوپه کارده چې دشرترپېښېدودمخه دهغې دروازې د خيرپه کارونوعباداتو او الهي پيروۍ او تقوی سره وتړل شي نو گورو چې عبادات د شر او بداخلاقيو په مخنيوي کې څومره رغنده رول لري د عباداتوپه لومړي سر کې لمونځ قرار لري چې لمونځ د مومن معراج د الله سره مستقيم تړاو او د مومن او کافر ترمنځ د جلا والي نښه ده، ځکه د لمانځه تاثير د زنا او ټولو بدو کارونو څخه خورا رغنده دی:

## د لمانځه رول د زنا په مخنيوي کې:

لمونځ د انسانانو په ژوند کې يو داسې عظيم عبادت دی، چې د مومن رابطه مستقيما له الله ﷻ سره مضبوطوي په شپه او ورځ کې پينځه وخته له خپل پروردگار سره مناجات کوي، د هغه په حضور کې عاجزي او تضرع کوي د خپلو گناهونو او کميو له هغه څخه بښنه غواړي نو په دې سره له يو طرفه په خپله دغه مومن له بديو او ناوړه اعمالو څخه بچ شي او له بل اړخه، ده ته راحت اطمينان او سکون ور په برخه کېداى شي، چې د خپلو تقصيراتو معذرت او پښېمانتيا خپل رب ته وړاندې کړي، او له هغه څخه يې بخښنه وغواړي.

رسول الله ﷺ به په لمانځه سره د راحت او خوښۍ احساس کاوه، چې د لمانځه وخت به را ورسېده نو بلال ؓ ته به يې ووېل: ارحنا بها

یا بلال! یانې موږ په لمانځه سره ارام او مستریح کړه او کله به چې رسول الله ﷺ له کومې ستونزې او یا خپګان سره مخامخ شو، سمدلاسه به یې لمانځه ته مخ وګرځاوه، خلک به یې هم ورته راوبلل، چې له دې ستونزې او یا خپګان څخه خلاص شي.

د لمانځه په اداء کولو سره د انسان تزکیه کېږي، له هر راز معنوي ناروغیو څخه پاکېږي، نو الله ﷻ هم د هغه په صحیح اداء کولو ډېر ټینګار کړی دی، الله ﷻ فرمايي: [حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ] (۱۴۷).

ژباړه: د خپلو لمونځونو ساتنه وکړئ، په تېره بیا د مازدیګر د لمانځه او د الله په وړاندې داسې په ویره او ادب ودرېږئ، لکه چې فرمان منونکی غلام درېږي.

او الله ﷻ چې کله د مومنانو صفت کوي نو وايي چې مومنان: لمانځه اداء کوونکي دي: [الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ] (۱۴۸).

ژباړه: دا هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کښې قدرت ورکړو نو لمونځ به قایم کړي. زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او له بدیونه به منع وکړي او د ټولو چارو پای د الله په لاس کښې دی.

---

۱۴۷ - د البقره سورت ۲۳۸ ایت.

۱۴۸ - د الحج سورت ۴۱ ایت.



CamScanner

ضحاک رحمه الله فرمايي چې دا د الله ﷻ شرط دی، چې د ځمکې د تمکين لپاره هغه مومنان غوره کوي او د ځمکې واک ورکړي چې لمونځونه کوي زکاتونه ورکوي او امربالمعروف او نهي عن المنکر کوي.

نو د لمونځ اداء کول د ځمکې د تمکين لومړی شرط دی، نو که چېرې څوک په ځمکه کې خپل تمکين غواړي، نو د هغې شرائطو بايد پوره کړي.

عبدالله بن مسعود ﷺ وايي له رسول الله ﷺ څخه مې پوښتنه وکړه چې ترټولو غوره عمل کوم يو دی؟ ويې فرمايل: په خپل وخت لمونځ کول، بيا مې ترې وپوښتل چې بيا کوم؟ ويې فرمايل: د الله ﷻ په لاره کې جهاد، بيا مې ترې وپوښتل: بيا کوم؟ ويې فرمايل: د مور او پلار سره ښېګڼه کول([149]).

هر څوک چې لمونځ په صحيح ترتيب په خپل وخت اداء کوي نو لمونځ يې د زنا له جرم څخه بچ کوي، الله ﷻ فرمايي: [وَأَقِمْ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ]([150]).

ژباړه: زويکيه! لمونځ قايم کړه، په نيکۍ امر وکړه، له بدۍ نه منع وکړه او هر مصيبت چې درباندې راشي ورباندې صبر وکړه دا هغه مهمې خبرې دې چې د هغو ډېر تاکيد شوی دی.

---

[149] ـصحيح البخاري: ۱ / ۱۸۴، رقم الحديث ۵۲۷.

[150] ـد العنکبوت سورت ۴۵ ايت.

او رسول الله ﷺ په ویل: ګورئ! که چېرې ستاسې د کور په دروازه کې یو نهر بهېږي او تاسې پکې هره ورځ پینځه ځله لامبئ نو ایا ستاسې په بدن باندې به کوم خیرې پاتې شي؟ چې همدا د پینځه وخته لمانځه بېلګه ده، چې الله ﷻ یې په واسطه ګناهونه پاکوي[151].

لمونځ د الله ﷻ او انسان ترمنځ رابطه ده، نو د چاچې لمونځ درست وي او په خپل وخت سره یې اداء کړي، رابطه یې له الله ﷻ سره ټینګه شي الله ﷻ یې د هغې په واسطه له مختلفو ګناهونو او په خانګړې توګه د زنا له فاحشې او سختې ګناه څخه په امن کې وساتي.

او د چا رابطه چې له الله ﷻ سره ضعیفه وي یعنې لمونځ ښه نه اداء کوي او بلکل ورسره رابطه نه ساتي نو د شیطان لپاره خوندوره مړی وي او د شیطانانو د خواهشاتو په دام کې ګېر شي او د هلاکت په کومه کنده یې چې وربرابر کړي همغلته یې غورځوي.

نو حقیقت دا دی، چې کوم انسان د الله ﷻ په حضور کې په شپه او ورځ کې پینځه وخته ودرېږي له خپلو ګناهونو څخه پښېمانتیا ښکاره کړي له هغه څخه بښنه وغواړي او د خپل پروردګار سره دا ژمنه نوې کړي چې زه به ستا عصیان او نافرماني نه کوم نو الله ﷻ یې هم حفاظت او ساتنه کوي او د زنا له هلاکونکي جرم څخه یې ژغوري.

## د روژې اثر د زنا په مخنیوي کې:

دا چې مخکې مو یادونه وکړه چې نکاح د زنا د جرم څخه د بچ کېدو خورا ستره وسیله ده، خو کله کله داسې هم پېښېږي، چې یو شخص د نکاح د کولو مادي وسایل نه لري او نه شي کولای چې واده

[151] صحیح البخاري: ۱ / ۱۸۴ . ۵۲۸نمبرحدیث.

وکړي، نو دا چې انسان په دې حال کې د شیطان او نفسي خواهشاتو تر اغېزې لاندې رانه شي نو الله ﷻ دده، د حفاظت لپاره یو بل عظیم عبادت یعنې روژه نیول مشروع ګرځولې، ترڅو له دې لارې انسان خپل غرایز کنترول او د نفس غوښتنې په خپله قبضه کې وساتي او د شیطان معرکې ته په قوي موقف کې ودرېږي.

علماء وايي، چې روژه درې مرتبې لري، د عوامو روژه، د خواصو روژه او د خاص الخاصو روژه، د عوامو روژه داده، چې د خوراک څښاک او جماع څخه ځان وژغوري، د خواصو روژه داده چې ددې سره د نظر، ژبې، لاس او پښې او ټولو جوارحو ژغورنه اوساتنه له ګناهونو څخه وکړي او د خواصو د خاصو روژه داده چې خپل زړونه له بدو ارادو او نیتونو او په غیرالله کې له فکرونو څخه بند او صرف الله ﷻ ته توجه وکړي[152].

الله ﷻ فرمایلي دي: [یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَیْكُمُ الصِّیَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِینَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ][153].

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسې روژې فرض کړای شوې، لکه چې له تاسې نه د مخکښې پېغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوې وې، ددې لپاره چې په تاسې کښې د پرهیز ګارۍ صفت پیدا شي.

الله ﷻ له اسلامي امت څخه غوښتنه کوي، چې روژه ونیسئ خانونه له خوراک څښاک او شهوت څخه الله ﷻ ته د نږدېکت په نیت

---

[152] ـ موسوعة نضرة النعیم فی مکارم اخلاق الرسول الکریم.

[153] ـ د البقره سورت ۱۸۳ ایت.

سره بند کړي، چې همدا د دوی د تزکیې او پاکوالي سبب ګرځي، او په پایله کې دوی له ټولو منکراتو او رذایلو څخه ساتل کېږي.

په حدیث شریف کې رسول الله ﷺ فرمایي: روژه د انسان لپاره سپر دی، څوک به یې بد الفاظ نه استعمالوي جهالت او ضد به نه کوي، که څوک ورسره جنګ هم کوي او یا ورته ښکنځلې کوي، ورته دې ووایې چې زه روژه یم، دوه کرته دې ورته ووایي، زما قسم په هغه ذات چې زما د نفس مالک دی، د روژه دار د خولې بوی الله ﷻ ته د مشکو له خوشبویۍ نه هم غوره دی، بنده خپل خوراک څښاک او شهوت زما لپاره پرېږدي روژه زما لپاره نیسي او همدا زه یې بدله ورکوم او بدله هم لس چنده ده([154]).

همدا راز رسول الله ﷺ په یوبل حدیث شریف کې چې ځوانانو ته خطاب کوي فرمایي: اې د ځوانانو ټولګیه څوک چې د واده کولو توان لري نو ودونه وکړئ، ځکه په دې سره د سترګو حفاظت او د شرمګا ژغورنه کېږي، خو که څوک یې توان نه لري، نو روژې دې ونیسي ځکه همدا روژه به دده د ژغورنې وسیله شي([155]).

نو په روژې نیولو سره د انسان شهواني قوت تر کنترول لاندې راځي او له طغیان څخه بچ کېږي، خو کله چې هم د انسان شهواني قوت طغیان وکړي، نو بیا ورسره شیطاني وسوسې هم جمع شي، او د نفس غوښتنه یې د زنا په مهلک مصیبت مبتلا کړي.

---

[154] -بخاري: ۲ / ۲۹ ، ۱۸۹۴رقم الحدیث.

[155] -صحیح مسلم: ۲ / ۱۰۸ ، ۱۴۰۰رقم الحدیث.



CamScanner

# د اسلامي ادابو رول د زنا په مخنیوي کې

کـه چېرې پـه یـوه ټولنـه کـې هغـه اداب او اخلاق چې اسلامي شریعت مقرر کړي دي په دقیقه توګه مراعات شي نو یقینا چې د اعتماد پاکېزګي، او نزاهت فضاء به رامنځته شي او په دې سره به د ډېرو منکراتو او رذایلو مخنیوی وشي، دا چې د زنا لومړی مقدمات هم د ورو حرکاتو او یا هم د سترګو له اشارو څخه منځته راځي، نو څکه یې مخنیوی هم په لومړي مرحله اسان او په ساده وسایلو ممکن وي خو چې کله هم د نوموړو ادابو لکه اجازه اخیستل، د نورو کورونو ته د داخلېدو په وخت کې د حجاب او اختلاط قضیه د ښځو لپاره، مراعات نه شي نو بیا د سترګو د ناروغیو لکه فحشاء او زنا د رامنځته کېدو خطر زیات او پېښېدل یې اسانه شي.

**۱- استئذان یا اجازه اخیستل:**

د نـورو کورونـو تـه د داخلېـدو پـه وخت کـې اسلامي شریعت د اجازې اخیستل شرط کړي دي، الله ﷻ فرمایي: [یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُیُوتًا غَیْرَ بُیُوتِکُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا] (۱۵۲).

ژباړه: ای مومنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پورې مه ننوځئ، تر څو چې اجازه ترلاسه نه کړئ او پر کورنۍ باندې سلام وانه چوئ دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده. ښائي چې تاسې به دې ته پاملرنه وکړئ.

---

۱۵۲ -د النور سورت ۲۷ ایت.

الله ﷻ له مومنانو څخه غوښتنه کوي، چې د نورو کورونو ته له اجازې پرته داخل نه شي او بیایې د اجازې اخیستلو اداب هم په ګوته کړي.

رسول الله ﷺ او اصحاب کرام به چې کله له جهاد څخه راستانه شول نو مسجد کې به تر هغې پورې پاتې کېدل چې کورونه به یې خبر شول او له سفر څخه د راتلونکو هر کلي ته به چمتو شول بیا به خپلو کورونو ته تلل.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمایي: چا چې خپلې سترګې د کور له داخل څخه ډکې کړې او بې اجازې یې ور وکتل یقیناً ده فسق وکړ[157].

د استئذان په اړه په قرانکریم کې یو شمېر نصوص شته چې د هغې احکام روښانه کوي الله ﷻ فرمایي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِّن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ](۱۵۸).

ژباړه: ای مومنانو! لازمه ده، چې ستاسې مملوکان او ستاسې هغه ماشومان چې لاتر اوسه پورې د پوهې منګ ته نه دي رسیدلي، په دریو وختونو کښې دې د اجازې په اخیستلو سره تاسې ته راځي د سهار له لمانځه نه مخکښې او غرمه چې کله تاسې جامې باسئ؛ او د ماسختن له لمانځه نه وروسته دا درې وختونه ستاسې لپاره د ستر

---

[157] -نضرة النعيم فی مکارم اخلاق الرسول الکريم ۱۹۳/۲.

[158] -د النورسورت ۵۸ایت.



CS CamScanner

وختونه دي له دغو پرته که هغوی بې اجازې راشي نو نه پرتاسې څه گناه شته نه پر هغو، ستاسې يو بل ته بيا بيا راتگ وي.

ابن کثير رحمه الله وايي: الله ﷻ مومنانو ته امر کوي چې خپل خادمان او اطفال پوه کړي چې په پورته درې وختونو کې اجازه وغواړي د سهار لمانځه دمخه ځکه په دې وخت کې خلک خپلو بسترو کې ويده وي او د غرمې د استراحت (قيلولې) په وخت کې چې دا هم د استراحت او ارام وخت دی او عادتا خلک خپل زيات لباس لېرې کوي او د ماسخوتن تر لمانځه وروسته چې دا هم د خوب او راحت وخت دی، نو ځکه خو يې خادمان او واړه هم په دې مامور کړي، چې بې اجازې کورونو ته داخل نه شي.

حضرت سهل بن سعد ﷺ وايي چې يو سړي د رسول اللهﷺ د کور د دروازې په سوري کې په يوه سترگه راوکتل او له رسول الله ﷺسره د ږغخي دوک وو، سر يې ورباندې گراوه نو کله يې چې دا کتونکی وليد، ويې وېل که زه پوهېدلای چې ته موږ ته راگورې نو په دا سترگه به مې وېشتلای وای، او ويې فرمايل: دا اذن خو د کتلو لپاره مشروع شوی چې د چا کور ته څوک بې اجازې ونه گورې[159].

او په بل حديث شريف کې رسول اللهﷺفرمايي: پام کوئ چې کوم کور کې پردې، ښځې وي ورداخل نه شئ يوه انصاري ووېل:ای د اللهﷺ رسوله! د حم حکم څه دی؟ ويې فرمايل حم د مرگ په څېر دی، چې حم لېور او د مېړه نږدې خپلوانو ته وېل کېږي، (معنی دا چې دوی

159 .بخاري: ۳۹۵/۳ ، رقم الحديث ۵۲۳۲.



CamScanner

هم د داخلېدلو اجازه نه لري مګر دا چې د هر ځل داخلېدو په وخت اجازه واخلي.

**۲-د سترګو او نظر ساتنه:**

د انسان په ژوند نظر چې د سترګو په وسیله ترسره کېږي خورا زیات اهمیت لري او د الله ﷻ د سترو پېرزوینو څخه شمېرل کېږي، نو څوک چې له دې نعمت څخه بې برخې وي، په حقیقت کې د دنیا د خورا ستر نعمت څخه بې برخې شو، نو ځکه رسول الله ﷺ هغه چاته د جنت زېرى ورکوي، چې ددې نعمت څخه الله ﷻ بې برخې کړی وي.

له بله پلوه نظر د شیطان د غشو څخه یو غشى هم دى، د شر یوه ستره دروازه ده، ځکه اسلامي شریعت یې د ښه استعمال لپاره حدود ټاکلي دي، ترڅو ددې نعمت استعمال په خپله د همدې انسان د تباهۍ او هلاکت باعث نه شي، نو د نظر ژغورنه او ساتنه په همدې اساس خورا مهمه ده چې د نورو انسانانو ابرو او عزت خوندي شي، ځکه چې د بد نظر په پایله کې شهوت راپارېږي او بیا په نتیجه کې د زنا د ناوړه عمل د پېښېدو وېره زیاتېږي.

سترګې په حقیقت کې د زړه قیادت کوي، نو د زړه لارښوونه او له محارمو څخه د سترګو ساتنه د ایمان نښه ده دا چې څوک خپلې سترګې له حرام نظر څخه ساتي، نو هغه یقین لري چې الله ﷻ ما ګوري او ددې حفاظت په بدل کې ماته خورا ستر اجرونه او جنتونه راکوي چې بیا هغه نعمتونه په دغه لنډ مهاله حرام نظر کولو بایلل خورا ستر زیان دى.

قرطبي رحمه الله وايي: سترګې زړه ته د قوماندې ورکولو غټه وسيله ده او له همدې لیارې انسان په ګناهونو او منکراتو کې پرېوځي نو له دې دروازې څخه وېره په کار ده او د سترګو اړول له ټولو محرماتو او هر هغه څه چې انسان په فتنه کې غورځوي واجب دي[120].

الله ﷻ فرمايي: [وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا] (١٢١).

ژباړه: هغه څه مه تعقیبوه چې تا ته د هغه علم نه وي، غوږونه سترګې او زړه هر څه اورمرو پوښتېدوني دي.

همدارازفرمايي [قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (١٢٢).

---

[120] -نضرة النعيم من مكارم اخلاق الرسول الكريم له قرطبي نه په نقل سره.

[121] د الاسراء سورت ٣٦ ایت.

[122] د النورسورت ٣٠ او ٣١ایتونه

ژباړه: ای پیغمبره! مومنانو نارینه وو ته ووایه چې خپل نظر تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړئ، دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده، هغوی چې څه کوي الله پرې خبرېږي او ای پیغمبره! مومنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړئ او خپله ځان جوړونه او سینګار دې نه ښکاره کوي پرته له هغه چې په خپله خرګند شي او پر خپلو سینو دې د خپلو پړونو پلوونه واچوي. هغوی دې خپله ځان جوړونه سینګار نه ښکاره کوي، مګر د دې خلکو په وړاندې: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزیان)، ورونه، وربېرونه، خوریونه، د خپلې طبعي ښځې، خپل مملوک، خپل هغه لاس لاندې نارینه چې ښځو ته حاجت ونه لري او هغه ماشومان چې لاتراوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه وي او هغوی دې پرځمکه باندې په زوره پښو وهلو سره په داسې شان تګ نه کوي چې د هغو د پټ کړي سینګار خلکو ته معلومات وشي. ای مومنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي چې برى در په برخه شي.

یقینا چې د سترګو ساتنه د ایمان نښه ده او بد نظر او حرام کتل د زیاتو مفاسدو سرچینه ده، مونږ ګورو چې د اسلامي اخلاقو او پاکې او دینداره ټولنې دښمنان د هر راز لیدونکو وسائلو له لارې مسلمانې ټولنې له خورا سترو خطرونو سره مخ کړي او له دې لارې زمونږ ځوانان او پېغلې د بداخلاقیو په جال کې راګیر او د جهنم کندې ته یې ورغورځوي، چې دا ټول په لومړي سر کې د حرام نظر او لیدلو څخه سرچینه اخلي، د تلویزیون فاسدو چینلونو، بداخلاقه فلمونو او



CamScanner

انټرنټ د اخلاق ضد ويبپاڼو د لېدلو لپاره دوی ځانته په هر کور کې لېدونکي پيداکوي او بيا يې د اور کندو ته ورکش کاږي.

خو موږ گورو چې د اسلام ستر پېغمبرﷺ مسلمانان ان تر دې چې د لارې په سر له بې فايدې کښېناستو څخه منع کړي فرمايي: د لارو په سر د کښېناستلو څخه ځان وژغورئ اصحابو ووېل: اى د اللهﷺ رسوله! موږ يو له بل سره همدلته مجلسونه کوو دې ته خو زموږ سخته اړتيا ده، نو بيا يې ورته وفرمايل: که خامخا کښېنئ نو بيا د لارې حق اداء کوئ، بيا دوی وپوښتل د لارې حق يعنې څه؟ د لارې حق دادی چې خپلې سترگې ښکته کړئ، که په لارې نامحرمې ښځې تېرېدلې د خلکو له ضرر څخه خانونه وژغورئ او د سلام ځواب ورکوئ، په نېکيو امر او له بديو منع کوئ[١٦٣].

دا ځکه چې په عامه لاره خو هر څوک تېرېږي چې د هغوی په مينځ کې به داسې ښځينه لاروې، هم وي چې ستا کتل هغوی ته جواز نه لري، او ستا د گناهگارېدو سبب گرځي، چې پايلې به يې ناوړه او د ټولنې لپاره د يوې سترې وبا حيثيت ولري.

[١٦٣] -مسلم: ٤/ ٢٧٠٤ ، رقم الحديث ٢١٢١.

# په افغاني قوانینو کې د زنا د مخنیوي لارې - چارې:

دا چې د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ اسلام د ټولو قوانینو مصدر او سرچینه ده، نو مدني قانون هم د اسلامي شریعت د حنفي فقهې په رڼا کې تدوین او ترتیب شوی نو د نکاح په اړه یې ټول هغه احکام او اسانتیاوې چې د فهقې په اساس باید په نظر کې ونیول شي مراعات کړي او د هغې لپاره یې د مدني قانون لومړی ټوک د ازدواج او د هغې اثار او اړوند احکام په پوره تفصیل سره ذکر کړي.[۱۲۴]

البته نوموړي قانون ټول هغه ضروري او اړین مسایل چې په دې اړه ورته اړتیا لیدله کېږي، تدوین او ترتیب کړي دي، چې د هغې لا زیات تفصیل او تشریح ته د اړتیا پرمهال د حنفي فقهې مصادرو ته مراجعه کېدای شي، چې په حقیقت کې یې دا هم یو قانوني حل دی.

همدا راز د افغانستان د جزاء قانون د زنا، لواطت د ناموس د هتک اړوند جرایم او جزاگانې په ښه ترتیب او تفصیل سره تنظیم کړې.[۱۲۵]

چې فسق او فجور تـه تشـویقول یې هم منع گرځولي او مرتکب یې د جزاء مستحق گڼلی.

همدا راز د جزاء قانون له عمومي ادابو څخه خلاف عمل ترسره کول لکه: په عام منظر کې بربنډ او یا د ادب خلاف ښکاره کېدل جرم گڼلی او مرتکب یې د مجازات مستحق گڼلی دی، البته د دې موضوع په اړه په راتلونکي بحث کې په (۵۹- ۲۱) مخونو کې په تفصیل سره څېړنه شوې ده چې د نوموړو بدو اعمالو د مرتکبینو لپاره یې وړ او مناسبې سزاگانې په گوته کړي دي.

---

۱۲۴ -د افغانستان مدني قانون: لومړی ټوک ۲ ماده، او تر هغې وروسته.

۱۲۵ -د افغانستان د جزاء قانون: لومړی کتاب ، اتم فصل له ۴۲۶ مې مادې له پیل څخه تر ۴۳۰ مې مادې پورې.

# د شرعي جزاګانو اغېز د زنا په مخنیوي کې

**الف: د اخروي جزاء اغېزه:**

الله ﷻ د انساني ژوند د نېمګرغی او خوشالۍ په خاطر او په ټولنه کې د حقوقو او مکلفیتونو د ښه پېژندګلوۍ لپاره او د الهي بندګۍ د ترسره کولو او انسان ته د ژوند په هر ډګر کې د غوره لاربنوونې په خاطر د تاریخ په هر پړاو کې خپل استازي رالېږلي ترڅو انسانان د الله ﷻ یووالي ته راوبولي، له ناروا او منکراتویې منع کړي اوالهي قانون په خپل ژوندکې پلي کړي الله ﷻ فرمایي: [كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ] (۱۲۲).

ژباړه: لکه چې (تاسې ته په دې سره برې در په برخه شوې چې) ما ستاسې په مینځ کښې په خپله له تاسې نه یو پېغمبر مبعوث کړ، چې تاسې ته زما ایتونه لولي، ستاسې ژوند سوتره کوي، تاسې ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي او تاسې ته هغه خبرې در زده کوي چې تاسې پرې نه پوهېدئ.

همدا راز الله ﷻ خپل دین بشریت ته د رحمت او خیر سرچینه وګرځاوه، لکه چې فرمایي: [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ] (۱۲۷).

ژباړه: ای محمده ﷺ! مونږ چې ته لېږلی یې دا په اصل کښې د نړیوالو په باب زمونږ رحمت دی. (مونږ د ټولو مخلوقاتو له پاره ته رحمت لیږلی یې).

---

۱۲۲ . د البقره سورت ۱۵۱ ایت.

۱۲۷ . د الانبیاء سورت ۱۰۷ ایت.



CS CamScanner

همدا راز تر ټولو غوره او د انسانانو د خیر د مصدر په توګه یې دوی ته غوره کړې، لکه چې فرمایي:[إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلاَمُ ](۱۲۸).

ژباړه: د الله په وړاندې دین همدا اسلام دی.

په نوموړي شریعت کې د دنیا او اخرت ټول مصلحتونه نغښتي او انسانان یې له ټولو بدیو څخه منع کړي دي.

او بیا یې دغه شریعت د ساتنې او ژغورنې لپاره هم احکام رالېږلي، چې که چېرې داسې انسانان پیدا کېږي، چې ددې شریعت د ماتولو له لارې په ټولنه کې د فساد او ویجاړۍ سبب ګرځي، نو د دوی د مخنیوي لپاره او همدا راز د ټولې انساني ټولنې د خلاصون په خاطر الله ﷻ داسې جزاګانې مقررې کړې دي، په هغو کې د مجرم لپاره کافي زجر او د نورو انسانانو لپاره د پند او عبرت سبب ګرځي، چې په راتلونکې کې د هغې جرائمو د بیا پېښېدو مخنیوی وشي.

اسلامي شریعت د مسلمانانو د ابرو او عزت د خوندي ساتلو لپاره او د انساني نسل د بقاء او دوام د تضمین په خاطر داسې جزاګانې مقررې کړي دي، چې د هغې تطبیق ټولنې ته سلامتیا، اطمینان او اسودګي راوړي.

د هر راز فحشا او بداخلاقیو مخنیوی کوي او انساني ټولنه له هلاکوونکو امراضو څخه ژغوري.

البته ددې جزاګانو له جملې څخه یوه هم د زنا کارو، لوطیانو هغو فاحشو انسانانو لپاره د سخت زجر او بدني جزاء تاکلي دي، چې

---

۱۲۸ د ال عمران س ورت ۱۹ ایت.

اسلامي شریعت د هغې په تطبیق کې له هر ډول امتیازي سلوک نرمي او شفاعت کولو څخه جدي منع کړې.

چې د محصن زناکار لپاره سخت ترینه جزاء رجم (د مرگ تر اخري لحظې پورې په تېږو ويشتل) مقرر شوي دي، ترڅو د هغه لږ لذت او شهوت پرستی جزاء دده د بدن هره برخه وگوري او هغه زناکار چې تردې دمخه یې نکاح نه وي کړې، سل دورې وهل دي چې د یوې ډلې مسلمانانو په مخکې به ترسره کېږي.

قران کریم په دې اړه فرمایلي دي: [وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ] (۱۲۹).

ژباړه: او پر دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله د دین په باب په تاسې کې نه پارېږي که تاسې پرالله تعالی او د اخرت په ورځ باندې ایمان لرئ.

دا چې دې ناوړه انسان د اللهﷻ حدود مات کړي او د هغو درناوی یې نه دی په ځای کړی، نو تاسې هم پرې څه رحم مه کوئ او د اللهﷻ له لوري مقرره شوې سزاء په پوره توگه پرې تطبیق کړې.

په دې اړه یې د هر راز شفاعت او واسطو څخه هم منع کړی او نوموړې جزاء به په ټولو مجرمینو یو ډول تطبیق کېږي.

رسول اللهﷺ ته چې کله د مخزومي ښځې په اړه اسامه بن زید رضي الله عنه د سپارښتنې لپاره د نورو اصحابو په مشوره ورغی، ترڅو ورته بخښنه وغواړي نو هغه سخت خوا ب ورکړ او ورته یې وفرمایل: ای اسامه! ته د اللهﷻ په حدودو کې ماته واسطه کېږې، بېشکه له تاسې څخه

۱۲۹ -د النور سورت ۲ ایت.

مخکې قومونه هم په همدې هلاک شول، چې کله به هغوی کې کوم شتمن او د قوم مشر غلا وکړه نو هیڅ به یې هم ورته نه ویل: خو کله به چې کوم غریب او بې وزله سړي همدغه عمل وکړ، نو حد به یې وربانديې تطبیق کاوه، قسم په الله ﷻ که د محمد ﷺ لور فاطمة ؓ هم غلا وکړي، نوخامخا به یې لاس پرې کړم([170]).

معنا دا چې د الله ﷻ د حدودو په پایمالولو کې هیڅ ډول مراعات او معامله نه شي کېدای بلکې په ټولو مجرمینو به په یو ډول تطبیق کېږي، ترڅو د حدودو د تطبیق هدف لاسته راوړل شي، الله ﷻ د زناکارو د جزاء په اړه فرمایي: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (۱۷۱).

ژباړه: زنا کاره ښځه او زناکار سړی، له دواړو نه هر یو سل درې ووهئ. او پر دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله د دین په باب په تاسې کې نه پارېږي که تاسې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ باندې ایمان لرئ. او هغو ته د سزا ورکولو په وخت کښې دې د مومنانو یوه ډله موجوده وي.

د فقهاؤ په اتفاق سره د درو وهلو جزاء د هغه زناکارو لپاره مقرره شوې ده، چې واده شوې نه وي او د واده شوي سړي او ښځې لپاره د رجم جزاء په زیاتو قولي او فعلي احادیثو ثابته ده چې زه یې یو حدیث د نمونې په توګه ذکر کوم:

---

۱۷۰ -صحیح البخاري: ج ۲ ص ۴۹۹، دحدیث ګڼه- ۳۴۷۵.

۱۷۱ -د النورسورت ۱ ایت.



CamScanner

ابو هریره ﷺ او زید بن خالد ﷺ روایت کوي، چې دوی وایي: یو اعرابي رسول الله ﷺ ته راغی او ویې ویل: ای د الله ﷺ رسوله ﷺ! قسم درکوم چې ماته به د الله ﷺ په کتاب فیصله کوې، مقابل لوري هم وویل: چې ترده لر هوښیار وه هو! زموږ ترمنځ د الله ﷺ په کتاب فیصله وکړه او ماته اجازه راکړه ورته ویې ویل ووایه! نو ویې ویل: زما زوی له ده سره مزدور و او دده له ښځې سره یې زنا وکړه، ماته وویل شوه، چې زما په زوی رجم دی، نو ما د رجم په بدل کې سل پسونه فدیه ورکړه، بیا مې له علماؤ نه پوښتنه وکړه، هغوی راته وویل: چې ستا په زوی سل درې او یو کال فرار دی او دده ښځه به رجم کېږي، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی، زه به درته د الله ﷺ په کتاب فیصله کوم، هاغه پسونه او بچي دې بېرته رد دي او په زوی دې سل درې حد او یو کال له هېواده شړل دي او ای انیسه! (د اسلم قبیلې یو شخص و) ولاړ شه! که چېرې دده ښځې په زنا اعتراف وکړ، نو رجم یې کړه، هغه چې ورغی ښځې اعتراف وکړ، نو د رسول الله ﷺ په حکم رجم شوه([172]).

په زیاتو احادیثو کې د محصن او غیر محصن زناکار د جزاء په اړه توپیر ثابت شوی چې ټول امت په اجماع سره په همدې عمل هم کړی دی.

د زنا د جریمې لپاره چې اسلامي شریعت کومه جزاء مقرره کړې که چېرې مسلمان امت هغه په صحي معنا سره تطبیق کړي، نو هېڅکله به بیا په ټولنه کې دغه ناوړه عمل تکرار نشي.

---

۱۷۲ - وګوره نیل الاوطار دشوکاني: ج ۷ ص ۸۲.



CamScanner

دا چې د اسلام دښمنان د اسلامي حدودو د تطبیق لپاره په ټولنه کې مختلف خندونه پیداکوي او د خلکو په اذهانو کې ددې په اړه شکوک او شبهات رامنځته کوي اوس ګورو چې الله ﷻ دوی د ایډز په داسې مصیبت مبتلا کړل، چې په دې اړه د اسلامي شریعت اغېزمنتیا په خپله دوی درک کړې خو د عناد او ضد په اساس دوی اوس هم خپلو شومو هلو ځلو ته دوام ورکوي او د حدودو د تطبیق په مخ کې حائل واقع کېږي، ترڅو د بداخلاقۍ او فحشاء په خپرولو سره د اسلامي امت بنیاد او بنسټ په بل اړخ واړوي، الله ﷻ انسان په دې نړۍ کې ترټولو کائناتو د غوره او محترم موجود په توګه په ځمکه کې پیداکړي دده د توالد او تناسل لپاره یې هم داسې نظام مینځ ته راوړی تر څو له یوه پلوه د هغې طبعې غریزې (شهوت) پالنه او اشباع تنظیم شي او له بل پلوه د انسان بقاء او دوام په نړۍ کې تضمین شي.

هر څوک چې له نوموړي نظام څخه مخالفت کوي د خپلې غریزې په پوره کولو کې له حیواني او غیر مهذبو لارو څخه کار اخلي نو په حقیقت کې ده د ټول انسانیت د ویجاړولو اراده کړې چې شریعت ورته ددې ناوړه عمل په مقابل کې داسې جزا ټاکلې چې دده لپاره کافي او زجر ورکونکې تمامه شي ترڅو بیا دې ناوړه کړنې ته هوډ ونه کړي او د ټولنې نور وګړي دده له بدانجام څخه عبرت واخلي چې هغوی په دې غلطۍ کې ککړ نه شي.

البته له شرعي جزاء ګانو څخه هدف یوازې د یوه مجرم زجر او رټل نه بلکې د علماؤ په اند ستر مقصد یې د جرائمو مخنیوی او د هغه مفاسدو له مینځه وړل دي چې ټولنې ته متوجه کېږي.



CS CamScanner

د زنا بدې پايلې هم په همداسې سخته جزا سره دفع کېداى شي، او بس خو کله چې په يوه ټولنه کې شرعي حدود معطل او ناوړه انسانان د ديموکراسۍ تر چتر لاندې په ټولنه کې د فساد خپرولو ته مخه کړي، نو په لومړي سر کې ټول وګړي چې د زنا له بدو اثارو لګه:

-د انسان کرامت او عزت پايمالېدل هر يو به بل ته د شک او ترديد په نظر کتل او د بداخلاقيو شک پرې کول او د ټولنې عزت او سرلوړي له منځه تلل او په نتيجه کې د ذلت او سپکاوي په کنده کې پرېوتل دي چې په دې سره په ټولنه کې د قتل زياتېدل او د انسان د وينې حرمت له مينځه تلل په دې معنا چې زناکار انسان د خپل شهوت د پوره کولو لپاره د هېڅ يو انساني ضد عمل څخه مخه نه اړوي.

-د انسانانو د نسب ضايع کېدل او د غير شرعي اولادونو زيادت چې په دې سره هم ټولنه له هر راز ګواښونو سره مخ کېږي، کوم اولاد چې د پلارولۍ او مورولۍ له کرامت څخه بې برخې وي نو له يوه پلوه خو د هغه سالمه تربيه او پالنه ونه شي او له بله پلوه هغه له ټولې ټولنې سره کينه او دښمني شروع کړي او خپل انتقام ترې واخلي.

- زناکاره ټولنه د الله ﷻ د عذاب مستحقه وګرځي، په دنيا کې د فقر غربت او ذلت سره مخ کېږي او د اخرت ژوند يې هم برباد شي.

رسول الله ﷺ فرمايي: زما اِمت به ترهغه پورې په خير وي چې د زنا اولاد پکې نه وي زيات شوى، نو کله چې په دوى کې د زنا اولاد

زیات شو، نو نړدې ده چې الله ﷻ به په دوی عام عذاب مسلط کړي(۱۷۳).

نو ددې او نورو مفاسدو د مخنیوي لپاره شریعت سخته جزا ټاکلې ترڅو د ټولنې ساتنه او پاکېزګي په ځای شي او انسانان په عزت او کرامت سره ژوند وکړي. د ایډز او نورو رنځونو له عذاب څخه بچ او د اخرت د نعمتونو مستحق وګرځي.

**ب: د زنا په مخنیوي کې د قانون د تطبیق اغېزه:**

هر قانوني نظام د ټولنې په ټولنیز، سیاسي، اخلاقي او جرمي سیستمونو مستقیمه اغېزه لري، څومره چې د یو مملکت قانوني سیستم منظم فعال او مؤثر وي په همغه اندازه به د ټولنې مادي او معنوي جوړښت قوي او د هر راز امراضو په مقابل کې به د قوي وقایوي سیستم درلودونکی وي.

د افغانستان اساسي قانون چې په څلمه دریمه ماده کې یې اسلامي شریعت د ټولو ٭انینو د مصدر په توګه معرفي کړی او وایي:

اپه افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي!(۱۷۴).

نو په دې اساس د جرائمو او جزاګانو په اړه قوانین هم د اسلامي شریعت مطابق او له همدې مصدر څخه سرچینه اخلي.

---

۱۷۳ .مجمع الزواید: ج ۲ ص ۵۷.

۱۷۴ .دافغانستان اساس قانون: دریمه ماده.



CS CamScanner

د جزاء قانون چې په دوه کتابونو کې دننه په اته بابونو او پینځه سوه او درویشت مادو مشتمل دی په ۱۳۵۵ هـ ش کال د افغانستان په محاکمو کې د تنفیذ لپاره په رسمي جریده کې خپور شوی په خپله لومړۍ ماده کې داسې وایي:

[دا قانون تعزیري جرمونه او جزاء ګانې تنظیموي د حدودو، قصاص او دیت د جرمونو ارتکاب کوونکي د اسلامي شریعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کېږي(۱۷۵).

نو ددې قانون په اساس د حدودو جرائمو او جزاء ګانو په اړه حنفي فقه د قانون په حیث معرفي شوې. چې په دې اړه د اسلامي شریعت او د جزاء د قانون د احکامو ترمنځ پوره توافق دی. او یو له بله سره هېڅ اختلاف نه لري.

او دویمه برخه چې تعزیري جرمونه او جزاء ګانې همدې قانون تنظیم کړي، چې زموږ د موضوع په اړه باید ووایو چې کله د زنا جرم د حد درجې ته ورسېږي او د حد د تطبیق شرایط او ارکان پوره شي، نو حکم یې روښانه او د فقهې مصادرو مطابق باید محکمه فیصله وکړي.

خو هغه تعزیري جرمونه چې د حد مرحلې ته ونه رسېږي، لکه زنا، لواطت، د فسق او فجور تحریکول... بیا قانون خپل احکام تنظیم کړي او هغې ته یې داسې جزاء ګانې مقررې کړي دي. چې هدف یې په راتلونکې کې د همدې جرمونو: امثالو مخنیوی دی. د جزاء قانون وایي:

---

۱۷۵ - د جزاء قانون: لومړی توک لومړۍ ماده.



CamScanner

اکه په جرم کې د حد د تطبیق شرطونه موجود نشي، یا د شبهې یا د بل علت په وسیله حد ساقط شي، ارتکاب کوونکی ددې فصل د درج شویو حکمونو سره سم مجازات کېږي(۱۷۲).

البته له جرم څخه هدف د زنا جرم دی چې تفصیلي صورتونه یې په لاندې ډول دي:

- که یو شخص د مونث سره زنا یا لواطت یا د نر سره لواطت وکړي د حالاتو سره سم په اوږده حبس محکومېږي(۱۷۷).

البته له دې زنا څخه هدف همغه ناوړه عمل دی چې د کوم مانع په اساس د حد شرطونه پوره نه کړي، نو بیایې جزاء ددې فقرې مطابق ورکول کېږي.

په دویمه فقره کې وایي: د پورتنۍ فقرې فعل په یوه راتلونکي حالت کې د مشدده حالاتو څخه شمېرل کېږي:

- په هغه حالت کې چې مجنی علیه د اتلس کلنۍ عمر نه وي پوره کړي.
- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکی د دریمې درجې پورې د مجنی علیه د خپلوانو څخه وي.
- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکی د مجنی علیه تربیه کوونکی، ښوونکی، مستخدم او یا په یو قسم د اقسامو په هغه نفوذ او اختیار ولري.
- په هغه حالت کې چې مجنی علیه مېړوښه ښځه وي.

---

۱۷۲ -دجزاء قانون ص ۱۹۲ اتم فصل ۴۲۲مه ماده.

۱۷۷ -ذکرشوي مرجع: ص ۲۲۷مه ماده لومړۍ فقره.



CamScanner

- په هغه حالت کې چې د مجني علیها بکارت د فعل د ارتکاب په سبب زائل شوی وي.
- په هغه حالت کې چې دوه تنه یا د هغې څخه زیاتو په مجني علیه د غلبې پیدا کولو دپاره یو تربله مرسته کړې وي، یا فعل یو د بل پسې مرتکب شوی وي.
- په هغه صورت کې چې مجني علیه د فعل د ارتکاب په سبب په تناسلي ناروغۍ اخته شوی وي.
- په هغه صورت کې چې مجني علیها حامله شوې وي.

په پورته ټولو حالاتو کې د قانون په اساس د نوموړي مجرم لپاره د اوږدې مودې حبس جزاء ټاکل شوې ده.

همدا راز په ۴۲۸مې مادې په لومړۍ فقره کې وایي چې که چېرې یو شخص په عنف، تهدید او یا د حیلې له لارې د چا په ناموس – نارینه وي که ښځینه ( تېری وکړي، په اوږده حبس محکومېږي.)

د جزاء د قانون په اساس هر راز فسق او فجور ممنوع گرځول شوی دی او که څوک بل شخص – مذکر وي که مؤنث، فجور او یا فسوق ته تحریک کړي یا ورته اسانتیاوې برابرې کړي په متوسط حبس محکومېږي.

او که څوک همدا عمل دکسب په حیث کوي یعنې له همدې لارې څخه گټه لاسته راوړي په اوږده حبس محکومېږي([178]).

داوسیدلو دخای مسکن دساتنې اوحفاظت اوحرمت دپرځای کولوپه خاطرهم په قانون کې مناسب اقدامات شوي لکه څنگه چې په

١٧٨ - دجزاء قانون لومړی ټوک نهم فصل ۴۳۰ مه ماده.

اسلامي فقه کې بل کورته داجازې اخستلونه پرته ننوتل ممنوع دي، قانون هم داډول اعمال دجرم په حیثیت معرفي کړي دي. اوتعزیري جزاء ګانې چې په لنډه موده حبس اونقدي جزاء ګانو محکومیدل دي ټاکلي.

چې په دې سره دبل کورته داخلېدل او یا هم د هغه اسرار افشاء کول یو غیر قانوني عمل ګڼل شوی دی، البته څومره تفصیل چې په دې اړه د اسلامي فقهې په جزئیاتو کې شته قانون د هغې څو شکلونه ذکر کړي چې له دې څخه په ډاګه کېږي چې تعزیري جرائم د هغې د طبیعت په اساس کله هم په کلي ډول په یو قانون کې نه شي تنظیمدلای بلکې هر وخت د قاضي اجتهاد او فقهي د رایت ته پکې ضرورت لیدل کېږي، نو وېلای شو چې د زنا، فحشاء او بداخلاقیو د مخنیوي لپاره په قانون کې هم داسې جزاء ګانې تعین شوې دي، چې که چېرې زموږ محاکم او عدلي ارګانونه وتوانېږي چې دهغې سالم تطبیق رامینځته کړي نو د هغې د امثالو جرائمو د کمېدو زیاته توقع کېږي او همدا په حقیقت کې د قبلي وقایي(وار دمخه درملنې) او دفاع حیثیت لري.

همدا ډول قانون ټول هغه کاروبار او کسب ممنوع ګرځولی چې وګړي فسق، فجور او بداخلاقیو ته هڅوي او یا هم د همدې لارې لارې د خپل معیشت وسایل برابروي.



CS CamScanner

نو وېلای شو چې دلته د فسق او فجور د پېژندلو لپاره باید اسلامي شریعت ته مراجعه وشي چې هغه وسایل او لارې - چارې په گوته شي چې د فسق او فجور اطلاق پرې کېږي او په پایله کې یې د زنا ناوړه عمل مینځ ته راځي.

چې دغه ډول وسایلو ته په اسلامي فقه کې د زنا د واعي او وسایل وېل کېږي او د اسلامي فقې په اساس داسې اعمال خکه ناروا گڼل شوي دي، چې د حرامو د رامنځته کېدو باعث گرځي او کوم عمل او کړه وړه چې حرامو ته مفضي کېږي او پایله یې یو حرام عمل وي د یوې قاعدې په اساس اسلامي شریعت ناروا گڼلي دي.

# د ایډز په مخنیوي کې د زنا اثر:

دا چې ایډز یو خطرناکه وبایي ناروغي ده او د نړۍ پوهان او علماء په دې اند دي چې اوس مهال نړۍ د دې ناروغۍ له کبله له خورا ستر ګواښ سره مخ ده، چې لا تر اوسه يې د درملنې او مخنيوي څه څرک هم نه دی لګېدلی.

هغه سروې ګانې چې د ملګرو ملتونو او نړیوالو روغتیايي ټولنو له خوا تر سره شوي داسې ښيي چې تر اوسه په نړۍ کې ۴۷ میلیونه انسانان په ایډز ککړ شوي دي، چې له دې جملې څخه ۱، ۲ میلیونه کوچنیان او ۴۳٪ سلنه یې لویان دي.(۱۷۹)

د ایډز وبا د لویدیځ ورانوونکې بداخلاقه دیموکراسۍ هغه ډالۍ ده چې تر شايې يهودي لاسونه د انسانيت د له مينځه وړلو لپاره هلې ځلې کوي، د نړۍ د ورانولو لپاره یې هر راز کوښښونه لکه د ادیانو له مینځه وړل، د الحاد خپرول، د شرابو او نشه يي توکو د دودولو اود پلیتو بداخلاقیو لپاره ټولې دروازې خلاصول او د نر او ښځې ترمنځ هر راز توپیر له مینځه وړل دي چې د نړۍ په اقتصادي نظام او خپرنیزو وسایلو د برلاسۍ او کنټرول له لیارې دغه پروسه په پوره ډاډ او اطمینان سره مخ په وړاندې بیايي.(۱۸۰)

---

۱۷۹ -الايدز مرض الشباب: د. سعيد الصايغ، شركة المطبوعات للتوزيع والنشر، بيروت ۱۹۸۸م.

۱۸۰ -الايدز والمناعة: د. سعيد الصايغ، شركة المطبوعات للتوزيع والنشر، بيروت ۱۹۸۸م.



CamScanner

په ۱۹۹۸ ز کال کې دې ویروس په افریقایې وچه کې نږدې ۱۱، ۵ میلیونه انسانان له مینځه یوړل چې ځلورمه برخه یې کوچنیان و، چې په سویلي امریکا د ومینکس په هېوادونو کې ۲۷۰ زره انسانان د ایډز په ناروغۍ اخته چې دغه شمېره په شمالي امریکا او لویدیځې اروپا کې ۱، ۴ میلیونو ته رسېږي او په ختیځه اروپا کې زیات زیان اوکراین، سپینه روسیه او مولداویا هېوادونو ته رسېدلی چې هرو زرو تنو کې ۲۲۰ تنه په ایډز اخته دي.

البته سروې ګانې داسې ښیي چې اوس اوس په افغانستان کې د درې زرو په شاوخوا کې وګړي د ایډز په هلاکوونکې ناروغۍ اخته دي، چې له نن څخه اته کاله دمخه افغانستان له ایډز څخه خوندي او پاک و.(۱۸۱)

البته دا هغه سروې ګانې چې په ډېره ستونزمنه توګه به څوک د ایډز په ناروغۍ ککړ انسان ځان ښکاره کړي چې ځینې غیر تایید شوې سروې ګانې دغه شمېره تر دیرش زرو پورې اوچت ښکاره کوي.(۱۸۲)

دا چې ایډز له زیاتو لارو څخه خپرېږي او نړۍ له خورا ستر ګواښ سره مخ کوي، خو د دې ټولو عواملو او اسبابو لومړي سر کې د ټولو پوهانو له اند نامشروع جنسي اړیکو ترسره کول دي، چې دا د زنا، لواطت او یا هم همجنس بازۍ ناوړه او غیر اخلاقي او انساني ضد اړیکي دي.

---

۱۸۱ -www.Islamonlin.net

۱۸۲ -قاموس الایدز الطبي، محمد رفعت، دارالهلال. لومړی چاپ ۱۹۸۷ ن،



CamScanner

نو په لنډه توګه وېلای شو چې د ایډز د خپراوي او پراختیا تر ټولو ستر عوامل او اسباب په لاندې توګه دي:

۱: د فاحشو ښځو او نشه یې توک سوداګري.

دا هغه ناوړه تجارت دی چې نن په لویدیځه نړۍ کې تر ټولو زیات مالونه له دې لیارې تر لاسه کېږي

په نړۍ کې د انساني تجارت دودول او د دې ترڅنګ د اخلاقي ضد فلمونو تجارت پراخوالی، تر څو دې ناوړه کار ته لا رشد ورکړي، او غربي نشرات په دې ډېر ترکیز کوي چې سقط جنین او د حمل د مخنیوي لارې اسانه کړي.

اوس په اروپا او امریکا کې له ۸۵٪ سلنې څخه زیاتې ښځې او مېړونو یو له بل سره خیانت کوي او همدا ډول ۹۰٪ غیر متزوجې انجونې زنا کوي، د غیر قانوني حمل سقطول په ۱۹۸۳ ز کال په اروپا او امریکا کې ۵۰ میلیونه ته رسېدلی و. سره له دې چې د حمل ضد دواګانې هم استعمالېږي.

هغه ماشومان چې پلرونه نه لري ۱۲. ۵میلیونو ته رسېږي.

او د دې په پایله کې خورا سخت وبایي او جنسي ناروغۍ مینځ ته راغلي چې نوره نړۍ هم په دې ناروغیو پلیته ده.

۲: د ایډز دویم سبب: د ایډز دویم ستر لامل جنسي شذوذ یا د لوطت تعمیمول دي د دې بدمرض لپاره قوانین جوړېږي او غربي نړۍ اوس له جنسي انحراف او لواطت څخه علنا دفاع کوي، برطانوي دایرة المعارف وایي: لوطیان اوس د سریت له کرۍ راوتلي اوس په



CamScanner

اروپا کې خپل پارکونه، کلپونه او بحري تفریح ګاوې لري هلته خپل ناوړه عمل په ډاګېزه توګه ترسره کوي.[183]

احصايې داسې ښيي چې يواځې د امريکې متحده ايالاتو کې له ۲۰ ځخه تر ۲۲ میلیونو پورې دا ډول کاروباریان شته، داسې کلیساګانې او معبدونه هم شته چې د دې خلکو ترمنځ د ښځو له ښځو او هلکانو له هلکانو سره د نکاح عقدونه تړي، چې په نړۍ کې ترټولو ستر مرکزيې د نیویارک اولاس انجلس ښارونه دي.[184]

لکه چې ځيني کلیساګانو دا اعتراف وکړ. چې ۴۰٪ راهبان په جنسي انحراف ککړ دي او ۸۰٪ يې زنا کار دي.

۳: دریيم سبب: د ایډز د خپراوي دریيم سبب له اطفالو او محارمو سره نکاح کول دي، په غرب کې لادینه یهودي تنظیمونو زیات کوښښ وکړ، چې د محارمو سره نکاح کول یو قانوني او اخلاقي تعامل وګرځوي او د دې لپاره يې هم په میلیونونو ډالر مصرف کړل.

تر څو دغه انساني ضد عمل یوه طبیعي او عادي مسئله شي. هالیووډ په ۱۹۷۹ز کال کې په همدې اړه فلمونه چمتو کړل چې د خپلو محارمو سره پکې نکاح کولو ته هڅونه شوې وه.[185]

چې تر دې وروسته دغه کار په امریکا کې په هر لسم فامیل کې تر سره شو او نږدې ۸۵٪ وګړي دغه ناوړه عمل د خپلو محارمو او یا

---

۱۸۳ -الایدز معضلة القرن العشرین: د. محمد صادق زلزلة، ۱۹۸۲م.

۱۸۴ -الایدز وباء العصر: د. محمد ایمن صافی/دار المنارة جدة السعودیة، لومړی چاپ ۱۴۰۷هـ ق ، ۱۹۸۷م.

۱۸۵ -الایدز بین الرعب والاهتمام والحقیقة: د. عبدالهادي مصباح المهدي-الدار العصریة ال یة- دویم چاپ ، ۱۴۱۳هـ ق، ۱۹۹۳م



CamScanner

هم وروته له خوېندو سره په ډېرو محترمو او کاروباري تعليم يافته فاميلونو کې ترسره کوي.

د ماشومانو تجارت هم يو بل د اموالو د لاسته راوړلو ستره وسيله ده.([182])

د ملګرو ملتونو د بشري صنفونو سازمان وايي: هره اونۍ کې ۵۰۰ کوچنيان په بازار کې پلورل کېږي، چې دغه تجارت په غريبو هېوادونو کې ښه بازار مينځلی تروريستې او ورانکارې ډلې ماشومان اخلي او مارکيټ ته يې رسوي، په ياباند کې د يو ماشوم قيمت له ۱۷ امريکايي ډالرو څخه تر ۵۰۰ پورې رسېدلی، دغه ماشومان له کليو او باندو اختطاف کېږي او د هغوی د جسمي استعداد او ښکلا سره په متفاوتو قيمتونو پلورل کېږي او بيا يې دغه بدنام مارکيټ ته عرضه کوي، چې د دوی له فلمونو او ناوړه عکسونو څخه د بداخلاقۍ د خپراوي په لارو کې ترې کار اخلي.

دا او نور داسې ډېر هغه لارې دي چې پيغام او ډالۍ يې نړۍ ته د ايډز د وبايي ناروغۍ راوړل و. اوس ګورو چې نړۍ يې له يو ستر ګواښ سره مخ کړې، بې درمله ناروغۍ يې منځ ته راوړې او د نړۍ بې وزله وګړي د نابودۍ په خطر سره ګواښوي او هره ورځ د يو زيات شمېر وګړو ژوند اخلي.

خو که موږ په ژوره تو ګه منصفانه قضاوت وکړو وبه ګورو چې د اسلام د سپېڅلي دين يوه له هغه سترو معجزو څخه دا هم ده، چې له

---

[182] -الطاعون الجديد الايدز: د. خالص حلبي، دارالهدى للنشر والتوزيع، الرياض ۱۴۱۰هـ، ۱۹۸۹م.



CamScanner

خپلې لومړۍ مرحلې څخه یې د دې ناوړه ناروغۍ اسباب او بواعث یې په کلکه غندلي او مسلمانان یې ترې منع کړي الله ﷻ فرمايي: [وَلاَ تَقْرَبُوا الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلاً](۱۸۷).

ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ. هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لياره ده.

او فاحشه هغه افعالو او اقوالو ته وېل کېږي، چې ډېره ستره بدي پکې وي، او الله ﷻ فرمايي: [وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ](۱۸۸).

ژباړه: او د بې حيايي کارونو ته نږدې کېږئ هم مه، که ښکاره وي او که پټې.

څکه دا د شيطان کار دی، چې انسان فواحشو ته نږدې کوي: الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ»(۱۸۹).

ژباړه: شيطان تاسې له بېوزلۍ نه وېروي او شرمناک چلن غوره کولو ته مو هڅوي.

او ډېره ستره فحاشي لواطت هم دی چې د انساني فطرت شرمندګي ده: وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ۵۴ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ»(۱۹۰).

ژباړه: او مونږ لوط ولېږه. يادکړه هغه وخت چې هغه خپل قوم ته وويل ايا تاسې پداسې حال کښې چې په سترګو وينئ بدکارۍ کوئ؟

---

۱۸۷ - د الاسراء سورت ۳۲ ايت.

۱۸۸ - د الانعام سورت ۱۵۱ ايت.

۱۸۹ د البقره سورت ۲۲۸ ايت.

۱۹۰ د نمل سورت ۵۴-۵۵ ايتونه.



CamScanner

ايا ستاسې حمدا اكړنلاره ده، چې ښځې پريږدئ نارينه و ته د شهوتراني لپاره ورخي ؟ حقيقت دا دی چې تاسې سخت د جهالت كار كوئ.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: خمس اذا ابتليتم بهن واعوذبالله ان تدركوهن:لم تظهرالفاحشة فی قوم قط حتی يعلنوابهاالافشاء فيهم الطاعون والاوجاع التي لم تكن مضت في اسلافهم الذين مضوا، ولم ينقصوا المكيال والميزان الا اخذوا بالسنين وشدة المؤنة وجورالسلطان عليهم. ولم يمنعوا زكاة اموالهم الامنعوا القطرمن السماء، ولولاالبهائم لم يمطروا ولم ينقضوا عهدالله وعهدرسوله الا سلط عليهم عدومن غيرهم فاخذوابعض مافی ايديهم ومالم تحكم ائمتهم بكتاب الله الاجعل الله باسهم بينهم»(١٩١)

ژباړه: «ای مسلمانانو! پينځه كارونه داسې دي، كه تاسې پرې اخته شوئ (له لوی خطر سره به مخ شئ)، الله تعالی دې تاسې ترې وساتي.

لومړی: كله چې په يوقوم كې په ښكاره توګه فحشاء زنا، لواطت وغيره پيل شي، نو الله تعالی به پردغه قوم كې طاعون داسې وبا او داسې نور رنځونه خپاره كړي، چې د دوی په مخكينيو نيكونو او پلرونو كې به نه وي تېر شوي.

دويم: كوم قوم چې په تول او ناپ كې كمی پيل كړي، نو په دغه قوم به قحطي مشكلات او كړاوونه او د بادشاه ظلم مسلط كړي.

---

١٩١ - سنن ابن ماجه: ٢/ ١٣٢٢ مخ، ٤٠١٩ ګڼه حديث. تحقيق محمد فواد عبدالباقي. دار صادر الكتب العربية القاهرة سنة ١٩٠٢م.

دریيم: کوم قوم چې د خپلو مالونو زکات نه ورکوي، له اسمانه به پرې باران بند شي، که حیوانات نه وای، یو څاڅکی باران به پرې هم ونه شي.

څلورم: کوم قوم چې د الله تعالی او د هغه وعدې ماتې کړي، احکام یې پلي نه کړي، نو دښمن به پرې مسلط شي او څه چې د دوی لاسونو کې دي هغه به ترې واخلي.

پنځم: او د هغه قوم مشران چې د الله تعالی په کتاب پرهېزګري نه کوي، نو په خپل مینځ کې به په شخړو او جګړو بوخت شي.

اوس ګورو چې د ایډز طاعوني ناروغي د رسول کریم ﷺ د دغه فرمان اعجاز ښکاره کړ او نړۍ ته یې د زنا قباحت روښانه کړ، نو ځکه اسلامي شریعت له دې ناوړه عمل د مخنیوي لپاره ښېلا - ښېلې لارې په ګوته کړي تر څو ټولنه له دې بدې ناروغۍ څخه وژغوري.

اوس د دولتونو اجتماعي او نشراتي ارګانونو او ټولو هغه ټولنو او افرادو مسؤلیت دی. چې د نورو د سرپرستۍ وظیفه په غاړه لري، ترڅو د ددې ناوړه مرض د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي. دولت په هغه ارګانونو بندیز ولګوي چې ځوانان او پېغلې اختلاط او په پایله کې د زنا ناوړه عمل ته تشویقوي. د جنسي غرېزې پارونه ورکوي او ان تر دې چې په ښوونځي. پوهنتون او دفتر کې د اختلاط نظام رواجوي او دا ځکه چې نوموړي اشخاص په ځمکه کې فساد کوي او الله ﷻ فرمایي: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ



CamScanner

أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾[۱۹۲]

ژباړه: کوم خلک چې له الله او د هغه له پیغمبر سره جنګیږي او په ځمکه کښې ددې له پاره منډې ترړې کوي چې فساد را ولاړ کړي د هغو سزا داده چې ووژل شي، یا په دار وځړول شي، یا د هغوی لاسونه او پښې رد و بدلې غوڅې کړای شي، یا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپ ... نو د هغو له پاره په دنیا کښې دی او په اخرت کښې د هغو له پاره له دې نه لویه سزا ده.

له نوموړې ایت څخه مقصد هغه قطاع ا... ق دي چې لارې شکوي او فساد کوي خو هغه څوک چې د ایډز د خپراوي په څ... انسـ...ني ... فساد کوي په طریق اولی د دې ایت په حکم کې شامل دي، الله جل جلاله فرمایي: وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيِهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَادَ﴾[۱۹۳]

ژباړه: او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چې بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښې د هغه ټوله هلې ځلې ددې له پاره وي چې فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني خوځات له مینځه یوسي په داسې حال کښې چې الله (هغه ذات چې هغه به شاهد نیوه) هېڅکله فساد نه خوښوي.

د انساني نسل له مینځه وړل تر ټولو غټ فساد ګڼل کېږي. چې زنا او لواطت د فساد تر ټولو ستره وسیله ده.

[۱۹۲] د المائده سورت ۳۳ ایت.

[۱۹۳] د البقره سورت ۲۰۵ ایت

## پایله:

د ستر څښتن ﷻ په څانګړې لورېینه ددې څېړنې په بهیر او پای کې څینو پایلو او لاسته راوړنو ته ورسېدم چې په لنډ ډول یې په لاندې توګه وړاندې کول غواړم:

په نوموړې موضوع کې دا روښانه شوه چې اسلامي شریعت د انسان لپاره یوه داسې روښانه، پاکیزه، سوچه او خوشاله ټولنه جوړول غواړي، چېرته چې هر وګړی د اطمینان، خوښۍ او سلامتیا نه ډک ژوند ترسره کړای شي، چې ددې موخې د لاسته راوړلو لپاره یې د ټولنې هر وګړي ته داسې وسایل وړپه ګوته کړي دي، چې که په سمه توګه ترې اطاعت او منښه وشي نو انسانان به یقینا سوکاله ژوند ولري.

په لومړي سر کې په الله ﷻ باور او ایمان درلودل، د انسان د سمون ستره وسیله ده او په عبادات او بندګۍ سره انسانان مهذب او له هر راز بداخلاقیو څخه ژغورل کېږي.

او بیا ګورو چې د اسلام په هغه ټولنیز نظام او اړیکو کې چې انسانان ورته اړتیا لري څومره کوښښ شوی چې د فحشاء او بداخلاقیو د رامینځته کېدا ټولې دروازې وتړل شي.

هر چاته د هغه د فطري غرېزې ـ شهوت ـ د پرځای کارونې لپاره اسانتیاوې چمتو شوې دي.

د روزنې او تربیې وسایل دې ته تشویق شوي دي، چې هر وګړی داسې وروزل شي چې د چا ابرو او عزت پایمال نه کړي خپل حقوق او واجبات وپیژني داسې اخلاق او اداب مراعات کړي چې پایلې یې



CS CamScanner

مثبتې وي او له ورانوونكو كړو وړو څخه ځان وژغوري كنه نو په اخرت كې به د الهي نيوكې او عذابونو سره مخ كېږي.

همدا ډول كه چېرې په ټولنه كې ناوړه او د نظام او قانون ماتوونكې افراد پيدا كېږي، بيا نو د هغوى غوره درملنه شريعت په ګوته كړې چې د هغه لپاره يې داسې جزاء په ګوته كړې ده چې دده لپاره زجر او د نورو لپاره عبرت شي.

البته دا هم روښانه ده چې زنا په ټولو اسماني حقه اديانو كې يوه ناوړه پديده ده او د ټولنې د يو وبايي ناروغۍ حيثيت لري، نو ځكه د هغې په حرمت او د وقايې په لارو - چارو كې هم سره اتفاق لري.

او په اخر كې زموږ د قانون موقف هم په دې اړه روښانه شوى، او هغه دا چې زنا يو خورا ستر جرم او د حنفي فقهې مطابق مجازات او اثار يې له مينځه وړل كېږي.

همداډول هغه بداخلاقي چې جزاء يې د حد تر كچې ونه رسېږي او يا هم د حد د تطبيق شرايط بشپړ نه كړي، د تعزيري جرايمو په كتار كې شمېرل كېږي چې هر صورت يې ځانته زواجر لري.

په پاى كې زه دغه نيمګړې او كم جهد درنو لوستونكو ته وړاندې كوم الله ﷻ دې په هغې كې د هر راز تېروتنې او تقصير راته معافي وكړي او كه چېرې كوم دخير څرك پكې وي نوهغه مې د الله ﷻ په ځانګړې لورينې ترسره كړي او بس.

والله اكبر ولله الحمد.



CamScanner

# وړاندیزونه:

زه د موضوع د عاموالي او نوموړي علم ته د لازیاتې پاملرنې په اړه لاندې وړاندیزونه باصلاحیته اړوندو جهتونوته تقدیموم:

۱:- دا چې د وقایې علم اوس د یو مستقل علم په توګه تبارز کوي نو زموږ علماء او پوهان هم باید د همدې لورې د لا روښانتیا او وقایې د لاغوره لارو په ګوته کولو لپاره یو څه ولیکي او ټولنې ته یې وړاندې کړي، ترڅو تحقیقات او څېړنې وکړي، کانفرانسونه او سیمینارونه د عامه پوهاوي په خاطر دایر کړي.

۲:-داسلامي شریعت اغېزمن وقایوي سیستمونه باید زموږ د تعلیمي نصاب برخه وګرځي.

۳:- په دې اړه چې کوم کوښښونه کېږي، هغه چاپ او د خپراوي د ټولنیزو وسایلو (لیکنیز، غږیز، انځوریز او انټرنټ) له لارې خپاره او د خلکو په واک کې ورکول شي.

۴:- له دولتي مسؤلو ارګانونواو چارواکو څخه مو غوښتنه داده چې ټول هغه وسایل، مراکز او منابع چې زموږ ټولنه د بداخلاقۍ په ناروغیو ککړ وي بند او زموږ د پېغلو، ځوانانو او هر وګړي عزت، حیثیت او کرامت وژغوري او پرېنږدي چې دا وبایي ناروغي زموږ په ملک عام او زموږ د ولس او ټولنې د بې عزتۍ او هلاکت لامل شي.

۵: له عدلي او قضایي ارګانونو څخه مو غوښتنه ده چې د قانون د تطبیق او تنفیذ په اړه پوره پاملرنه وکړي او د الهي حدودو د تطبیق په اړه د الهي لارښوونې سره سم په چا ترحم، نرمي او زړه سواندي ونه کړي بلکې مجرم ته د هغه د جرم سره سمه جزاء په پوره



CS CamScanner

جرئت، دیانت او عدل سره ورکړي، ترڅو قانون خپله اغېزمنتیا او هدف لاسته راوړي.

۲:- د شریعت اعجاز او ربانیت له دې لارې روښانه او څرګندګړای شي چې شریعت یو الهي نظام دی او دې الهي نظام د ټولنې د هر اړخیزې ژغورنې لپاره ټولې لارې چارې سنجولي دي، دا ځکه چې دا وضعي قانون نه بلکې د بشر د خالق لاربښود او عالم الغیب ذات ﷻ نظام دی.

زه هم به هم کوښښ وکړم چې په راتلونکې لیکنو کې د موضوع اړوند نور اړخونه روښانه او له درنو لوستونکو څخه دا هیله لرم چې ماته خپلې کمزورې راپه ګوته او دهغې د پوره کولو ګډ کوښښ راسره وکړي.



CamScanner

# دمصادرو فهرست


١. قرانکریم
٢. ابن تیمیه: شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله قدم له الأستاذ محمد المبارك عضو المجمع العلمي العربي بدمشق. السیاسة الشرعیة في إصلاح الراعي و الرعیة، دار الکتب العربیة بیروت. لبنان.
٣. ابن رشد :الإمام القاضي أبي الولید محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد القرطبي الأندلسي المتوفی سنة ٥٩٥هـ بدایة المجتهد ونهایة المقتصد، الطبعة الأولى: ١٤١٢هـ . ١٩٩٢م. دار الکتب العلمیة بیروت . لبنان.
٤. ابن منظور الافریقي: محمد بن مکرم بن منظور الإفریقي المصري، لسان العرب، ط دار صادر، بیروت.
٥. ابي السعود: تفسیرابي السعود تفسیر أبي السعود على هامش الفخر الرازي، . ط ریاض مکتبة الحدیثیة.
٦. اصبحي: مالك بن أنس أبو عبد الله، وطأ الإمام مالك، الناشر: دار إحیاء التراث العربي - مصر. تحقیق: محمد فؤاد عبد الباقي.
٧. الدر المختار: بهامش ابن عابدین ط: کراتشي باکستان.
٨. الطرق الحکمیه فی السیاسة الشرعیة، ط، السنة المحمدیة بالقاهره ١٣٧٢هـ.
٩. بخاري: ابوعبد الله محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري، قدیمي کتب خانه مقابل آرام باغ کراچی پاکستان، ١٣٨١هـ ش.
١٠. بیهقي: ابي بکر احمد بن الحسنین. السنن الکبرى ت ٤٥٨ هـ . دار الفکر . بیروت.
١١. جوزي محمد بن ابي بکر أیوب الزرعي أبو عبد الله، اعلام الموقعین، ط دارالفکر بیروت لبنان ١٩٧٣م.




CamScanner

۱۲. حلبي : د. خالص، الطاعون الجديد الايدز، دار الهدى للنشر والتوزيع، الرياض ۱۴۱۰هـ، ۱۹۸۹م
۱۳. دافغانستان اساسي قانون:
۱۴. د افغانستان د جزاء قانون:
۱۵. دمشقي: ابو الفداء حافظ عماد الدين ابن كثير، تفسير القران العظيم، دار الفكر بيروت لبنان
۱۲. رازي: أحمد بن علي الجصاص أبو بكر، حكام القرآن، الناشر : دار إحياء التراث العربي - بيروت، ۱۴۰۵، حقيق : محمد الصادق قمحاوي
۱۷. رازي: امام فخر الدين، التفسير الكبير، ط دار احياء التراث، بيروت لبنان
۱۸. زلزلة : د. محمد صادق، الايدز معضلة القرن العشرين، ۱۹۸۲م
۱۹. زهري: شيخ محمد تفسير كلام المنان، النجار، ط الموسسة السعدية رياض
۲۰. سپېڅلی کتاب، ط ۱ يسوعيين، بيروت لبنان، ۱۸۸۰م
۲۱. سرخسي: امام شمس الدين، المبسوط، ط دار المعرفة بيروت لبنان
۲۲. سيد قطب في ظلال القران، ط احياء التراث العربي بيروت ۱۳۲۸هـ
۲۳. شوكاني: محمد بن علي بن محمد، نيل الأوطار من أحاديث سيد الأخيار شرح منتقى الأخبار، لناشر : إدارة الطباعة المنيرية، دد الأجزاء : ۹، الكتاب : تعليقات يسيرة لمحمد منير الدمشقي، الصفحات من بعد المجلد الرابع مرقمة آليا،
۲۴. صايغ: د. سعيد، الايدز مرض الشباب، شركة المطبوعات للتوزيع والنشر، بيروت ۱۹۸۸م
۲۵. صايغ: د. سعيد، الايدز والمناعة، شركة المطبوعات للتوزيع والنشر، بيروت ۱۹۸۸م
۲۲. صافى : د محمد ايمن، الايدز وباء العصر /دار المنارة جدة السعودية، لومړی چاپ ۱۴۰۷هـ ق، ۱۹۸۷م

٢٧. ظاهري: ابن حزم، المحلى، ط المنيرية سنة ١٣٥٢ هـ

٢٨. عبد الهادي، الايدز بين الرعب والاهتمام والحقيقة، مصباح المهدي-الدار العصرية اللبنانية- دويم چاپ، ١٤١٣هـ ق، ١٩٩٣م.

٢٩. عسقلاني: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي فتح الباري شرح صحيح البخاري، الناشر : دار المعرفة - بيروت، ١٣٧٩، تحقيق : أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي.

٣٠. عسقلاني: حافظ ابن حجر، بلوغ المرام من ادلة الاحكام، معراج كتب خانه پېښور پاكستان.

٣١. عودة: دوكتور عبد القادر، التشريع الجنائي الاسلامي مقارناً بالقوانين، ط جمهورية مصر

٣٢. فيروزابادى: مجد الدين محمد بن يعقوب الفيروزآبادي المتوفى سنة ٨١٧ هـ القاموس المحيط. الناشر: مؤسسة الحلبي و شركاه للنشر و التوزيع. ١٤ شارع جواد حسني. القاهرة.

٣٣. قزويني: محمد بن يزيد أبو عبدالله، سنن ابن ماجه، لناشر : دار الفكر -بيروت، حقيق : محمد فؤاد عبد الباقي، دد الأجزاء : ٢، ع الكتاب . تعليق محمد فؤاد عبد الباقي، الأحاديث مذيلة بأحكام الألباني عليها.

٣٤. قشيري: ابو الحسين مسلم بن حجاج، صحيح المسلم، تحقيق محمد فؤاد عبد الباقي، ط المملكة العربية السعودية، ١٤٠٠هـ ق.

٣٥. كاساني: بدائع الصنايع فى ترتيب الشرايع، .ط المكتبة الحبيبية، كويټه پاكستان

٣٦. كتاب مقدس، مطبع المرسلين اليسوعيسين بيروت لبنان. ١٨٧٩م

٣٧. لوقا انجيل، ، ط المرسلين اليسوعيسين بيروت لبنان، ١٨٨٣م، په عربي ژبه كې.

٣٨. محمد رفعت: قاموس الايدز الطبي، دار الهلال، لومړى چاپ ١٩٨٧م.

٣٩. مرغيناني : شيخ الإسلام برهان الدين على بن أبي بكر الحنفي، الهداية بشرح البداية المبتدي، . الطبعة الثانية ١٣٩٧ هـ ١٩٧٧م. دار الفكر.

٤٠. مقدسي:عبد الله بن أحمد بن قدامة أبو محمد ، لمغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني، لناشر : دار الفكر - بيروت، ، الطبعة الأولى، ١٤٠٥هـ ق.

٤١. موسوعة عباد محمود العقاد الاسلامية: ط الاولى دار الكتاب العربي بيروت لبنان.

٤٢. نسايي: أحمد بن شعيب أبو عبد الرحمن، المجتبى من السنن، لناشر : مكتب المطبوعات الإسلامية - حلب، لطبعة الثانية، ١٤٠٢ - ١٩٨٢، قيق : عبد الفتاح أبو غدة، دد الأجزاء، أحاديث مذيلة بأحكام الألباني عليها.

٤٣. نووي: يحى بن شرف، صحيح مسلم مع شرحه للنووي، ط داراحياء التراث العربي.

٤٤. نووي:امام يحي بن الشرف مجموع شرح المهذب، ط المكتبة السلفية بالمدينة المنوره.

٤٥. نيسابوري:محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم، المستدرك على الصحيحين، الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت، الطبعة الأولى، ١٤١١ - ١٩٩٠، تحقيق : مصطفى عبد القادر عطا ، عدد الأجزاء : ٤، مع الكتاب : تعليقات الذهبي في التلخيص

٤٢. هندي: علي بن حسام الدين المتقي، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، لناشر : مؤسسة الرسالة - بيروت ١٩٨٩ م، لصفحات مرقمة آليا ، كن ترقيم الأحاديث موافق للمطبوع

٤٧. هيثمي: نور الدين علي بن أبي بكر ، مجمع الزوائد ، ط دار الكتب العربي بيروت.

٤٨. www.Islamonlin.net



CamScanner